# پرمختګ

کرنیزه، علمي، ټولنیزه او ادبي مهالنۍ خپرونه

دویم کال، دویمه ګڼه، دوبی ۱۴۰۰ ل

فقط توسعه زراعت
د کرنیزې پرمختیا صندوق
Agricultural Development Fund ADF

مصاحبه با **رئیس تخم های بذری وزارت زراعت**

د **کار او کورنۍ** ستراتیژیک لیدلوري

## **ماهی پروری** یا کاروبار پایدار و پردرآمد

## د کرنیزې پرمختیا صندوق

از بزرگترین حامی مالی زراعت افغانستان چه میدانیم؟




Ketabton.com



**ښاغلی ډاکټر ایمل "ارمان"**

د کرنیزې پرمختیا صندوق مشر

"کرنه د افغانستان د ثبات اساس جوړوي چې اوبه، ځمکه، اصلاح شوي تخمونه، د کار وسایل او بزګر د کرنې بنسټیز عناصر دي او د کرنیزې پرمختیا صندوق ټولو دغو برخو کې کار کولو او پانګونې ته ژمن دی."

د چرګانو له هګیو **د سالمونیا باکتریا جلا کول**

**انار** که د روغتیا زېرمه

## جستجوی **خودتوانمندسازی** در **جوانه‌های نباتات**

مصاحبه با خانم **لیلا علیزاده** رئیسه شرکت بانوان بلخ شمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرنیزې پرمختیا صندوق مشـرتابه پیــغام

ډاکټر ایمل «ارمان» | د کرنیزې پرمختیا صندوق مشر

کرنه د افغانستان د ثبات اساس جوړوي چې اوبه، ځمکه، اصلاح شوي تخمونه، د کار وسایل او بزګر د کرنې بنسټیز عناصر دي او د کرنیزې پرمختیا صندوق ټولو دغو برخو کې کار کولو او پانګونې ته ژمن دی.

کرنیزې پرمختیا صندوق د بزګرانو او بزګرۍ برخه کې د سترو چوپړتیاوو ترسره کولو په موخه د هر اړخیزې خپرونې (پرمختګ) دویمه ګڼه د درنو هېوادوالو چوپړ ته وړاندې کړه. په حقیقت کې کرنه نه یوازې د هېوادونو د ملا د تیر ارزښت لري، بلکه پرمختللې کرنه د هېوادونو پرمختګ او سوکالي تضمینوي، کرنې او لاسته راوړنې یې د هېوادونو صادراتو او وارداتو کې ارزښتمند رول لري، چې د اقتصاد له پلوه پیاوړي صادرات هېوادونه د سوکالۍ پر لور بیایي او یوازې دا نه چې د نورو له محتاجۍ او بې وزلۍ یې خلاصوي، بلکې نور ډېر هېوادونه چې کمزورې کرنه او مالداري ولري ورته اړمنده او محتاج وي.

همدارنګه د دې صندوق له لورې د کرنې او مالدارۍ په علمي ډګر کې د ستر خدمت (پرمختګ) په نوم خپرونې د چاپ له امله د بزګرانو، کرنې او مالدارۍ برخې کارکوونکو او په ځانګړې توګه د دې صندوق فرهنګي او نورو ټولو کارکوونکو ته د زړه له تله مبارکي وایم او مننه ترې کوم چې دې برخه کې یې نه ستړې کېدونکي او نه هېرېدونکي خدمتونه تر سره کړل. دا چې کرنه د هېواد په اقتصاد کې ارزښتمند رول لوبوي او د هېواد ډېرى وګړي خپل ورځنۍ ژوند د کرنې او مالدارۍ پر مټ پرمخ بیایي، د کرنې او مالدارۍ برخه کې علمي او مسلکي چاپي خپرونې د پام وړ نشته او که شته هم، نو په نه شتون حساب دي، هیله مند یم چې دا خپرونه به د بزګرانو او د کرنې برخې کارکوونکو ته ډېره ګټوره تمامه شي او تر ډېره بریده به دا تشه ډکه کړي. له بل پلوه به د دې خپرونې له لارې د ګران هېواد بزګران او د دې برخې غړي له یو بل سره خپلې ترلاسه کړې تجربې هم په ډېرې اسانۍ سره شریکې کړي، چې له برکته به یې کرنیز او مالدارۍ چاپېریال کې لوېې لاسته راوړنې ولرو او د تل لپاره به دا تجربې په لیکلي ډول پاتې شي، وخت په وخت به د بزګرانو او د دې برخې د کارکوونکو پوهه کې زیاتوالی او بهتروالی راشي او پوهه به یې لا پیاوړې شي.

پرمختګ خپرونه یوازې یوه کرنیزه خپرونه نه ده، بلکې د کرنې او مالدارۍ په اړه د مالوماتو سربېره په علمي، ټولنیزو او ادبي برخو کې د مسلکي او پوهنیزو مالوماتو له پلوه پوره غني ده، چې د هر مسلک وګړو تنده پرې پوره ماتېږي.

یو ځل بیا د کرنیزې پرمختیا صندوق له ټولو درنو کارکوونکو او قدرمنو دوستانو څخه چې د پرمختګ مجلې د ترتیب په مختلفو برخو کې یې له موږ سره زحمتونه ګاللي او مرسته کړې د زړه له کومې مننه کوم، چې دا د ستاینې وړ چاره او نه هیریدونکې کړنه یې له مونږ سره ترسره کړې، د دوی د لا ډیرو ګټورو او مثبتو لاسته راوړنو، د اقتصادي پیاوړتیا او بریاوو په هیله.

درنښت

ډاکټر ایمل ارمان
د کرنیزې پرمختیا صندوق مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست مطالب






**معرفی و تاریخچه صندوق انکشاف زراعت** ۷
از بزرگترین حامی مالی زراعت افغانستان چه می‌دانیم؟

**په ملي اقتصاد کې د کرنې ارزښت** ۱۰

**اوصاف مجازات** ۱۲

**میکانیزه زراعتی در افغانستان** ١٤

**د ځنګلونو ګټې** ۱۶

**د کار او کورنی ستراتیژیک لیدلوری** ۱۷

**انار که د روغتیا زېرمه** ۱۸

**مصاحبه اختصاصی با محبوب الله ننگ** ۲۲
رئیس تصدیق دهی تخم های بذری و سرپرست اسبق معینیت تخنیکی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری

**د شرکتونو حقوقي بڼې** ٢٤

**تېلي بوټي/نباتات** ۲۵

**د سوداګریز پلان برخې** ۲۸

**اسلامي پورونه د بزګرانو عواېد لوړوي او د کرنې د پراختیا لامل ګرځي** ۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library









**د تخيل رنګين الهام** ۳۲

**آیا می‌دانید...** ۳۳

**د کار نړیوال سازمان کنوانسیونونو کې د کارکوونکو حقوق** ۳٤

**هینگ چیست؟ و چه کاربردی دارد؟**
معلومات مختصر راجع به هینگ در افغانستان ۳٦

**ماهی پروری**
با کاروبار پایدار و پردرآمد ۳۹

**آمار، ارقام و دستاوردهای**
صندوق انکشاف زراعت ٤۰

**گالری رویدادهای مهم**
صندوق انکشاف زراعت ٤۲

**نگهداری گیاهان در منزل**
از امروز یک گلدان به زندگی خود اضافه کنیم. ٤٤

تعریف، مزیت، آمار و معلومات در رابطه با
**سرمایه گذاری مستقیم خارجی** ٤٦

**افغانستان کې پنبه، پیر او پلور** ٤٨

**د چرګانو له هګیو د سالمونیا باکتریا جلا کول** ۵۰

**جستجوی خودتوانمندسازی در جوانه های نباتات** | مصاحبه با خانم لیلا علیزاده، رئیسه شرکت بانوان بلخ شمال ۵۲

**د کبانو ډنډونو ته څونه ورکول** ۵٤

وقایه، سلامتی و لذت، همه با
**میوه درمانی** ۵٦

**د پنبې مهمې ناروغۍ**
آفتونه او مخنیوی ۵۷

**افغاني کرنيز توکي**
او نړيوال بازار (مارکېټ) موندنه ۵۹

**چگونه از صندوق انکشاف زراعت قرضه بگیریم؟**
روند مرحله وار دریافت قرضه از صندوق ٦۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# با تیم پرمختگ آشنا شوید.



## داکتر ایمل آرمان

رئیس هیئت عامل صندوق انکشاف زراعت | مدیر مسئول مجله پرمختگ



**عارف بیکران**

مسئول ارتباطات و بازاریابی | ویراستار
عکاس، مسئول تدوین و دیزاین



**عطاالله مهمند**

مدیر نظارت و ارزیابی | ادیتور



**نرگس غزنوی**

دستیار اداری | تدوین و ارتباطات



**سید فریدون میاخیل**

مسئول حقوقی | ادیتور



**مرسل نبی زاده**

منشی اداری | ارزیابی



**نجیب الله ناصری**

مسئول اعتبارات | ادیتور



**نصیر آئین**

متخصص ارتباطات | عکاس



**فاطمه شکوه**

مسئول ارشد نظارت و ارزیابی | ارزیابی



**مقصود شیر**

مسئول اعتبارات | ارزیابی

(c) ketabton.com: The Digital Library




### معرفی و تاریخچه

# صندوق انکشاف زراعت

## از بزرگترین حامی مالی زراعت افغانستان چه می‌دانیم؟

صندوق وجهی انکشاف زراعتی (به اختصار: صندوق انکشاف زراعت) یک نهاد مالی دولتی بوده که برای رشد و انکشاف سکتور زراعت فعالیت می‌نماید. ثبت و راجستر این صندوق بعنوان یک نهاد مالی غیربانکی بر اساس فرمان شماره ۶۶۲۰، سال ۱۳۹۰ دولت جمهوری اسلامی افغانستان صورت گرفته است و اساسنامهٔ آن در ماه قوس ۱۳۹۱ توسط کابینه وزراء مورد تصویب قرار گرفته است. این صندوق توسط شورای عالی که ترکیبی از اراکین عالی رتبه دولت جمهوری اسلامی افغانستان می‌باشند یکجا با نمایندگان سکتور خصوصی و نهاد های تمویل کننده رهبری میگردد. امور اداری و مالی این نهاد نیز توسط هیئت عامل صندوق پیش برده می‌شود.

صندوق انکشاف زراعت یک پروژه نیست بلکه یک نهاد ملی بوده که در راستای ارایه خدمات قرضه های زراعتی و مشوره های تخنیکی فعالیت می‌نماید. این صندوق از بدو تأسیس در سال ۱۳۸۹ شمسی تاکنون تعداد قابل ملاحظه ای از قرضه های اسلامی زراعتی را در اختیار زارعین و متشبثین زراعتی در نقاط مختلف کشور قرار داده و توانسته است سهم فعالی در رشد زراعت و اقتصاد افغانستان داشته باشد. این نهاد تنها به قرضه ها بسنده نکرده است، بلکه با ارائه مشوره های تخنیکی معیاری در مطابقت با نوعیت کار و ضرورت شرکای خویش نیز اقدام نموده است. این صندوق در گذشته ها سهولت های زیادی را برای زارعین و تاجران کاروبارهای زراعتی ایجاد نمود تا بتوانند در نمایشگاه های زراعتی به سطح ملی و بین المللی اشتراک کرده، با دیگر زارعین و تاجران کاروبارهای زراعتی آشنايي حاصل نمایند، از تجارب آنها در بهتر شدن و معیاری ساختن تولیدات خویش استفاده نموده، و محصولات خود را با معیارهای جهانی به فروش برسانند.

همچنان صندوق با خرید مواد خام از قریه جات دوردست، جاي که فقر و بیچارگی حکم فرما بود، باعث ایجاد زنجیرهٔ بزرگ داد و ستد زراعتی شده و توانست نقش مهمی را در راستای ایجاد شغل در کشور ایفا نماید. به طور نمونه، میتوان از شرکت های تولید و پروسس آرد، تولیدکنندگان تجهیزات زراعتی، تولیدکنندگان مواد غذايي، فارم های تولید گوشت مرغ و لبنیات، پروسس کنندگان میوه خشک و صادر کنندگان میوه تازه، مغازه های فروش کود کیمیاوی، پروسس کنندگان کشمیره، سبزخانه ها، باغداران و کوپراتیف های دهقانی در نقاط مختلف کشور نام برد. این شرکت ها نمونه های بارزی از همکاری های دراز مدت این صندوق بوده و همه کسانی اند که با استفاده از قرضه های اسلامی صندوق انکشاف زراعت کاروبار شان را وسعت بخشیده اند.



### مأموریت صندوق انکشاف زراعت

صندوق انکشاف زراعت سکتور زراعت افغانستان را با ارایه خدمات مالی به دهاقین و کاروبارهای زراعتی که منجر به ازدیاد تولیدات زراعتی، بهبود کیفیت محصولات زراعتی و بازاریابی محصولات زراعتی می گردد، حمایت می کند. این امر کمک می کند تا هدف اساسی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری یعنی اعاده اقتصاد مشروع زراعتی و رشد اقتصاد دهات برآورده شود.

### هدف

صندوق انکشاف زراعت به منظور تحقق اهداف ذیل فعالیت می نماید:

۱. عرضهٔ خدمات مالی، کمک های تخنیکی و اعطای قرضه طبق احکام قانون به دهاقین و سایر اشخاصی که در بخش تقویه زراعت، ارزش افزائی کمی و کیفی تولیدات و محصولات زراعتی اشتغال دارند و دسترسی به بازار های داخلی و خارجی .

۲. دسترسی دهاقین به قرضه های اسلامی، به خصوص دهاقین کوچک که از یک الی سی هکتار زمین در اختیار دارند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدمات صندوق زراعت برای چه کسانی اند؟

در پاسخ به رفع نیازمندی های مالی چشمگیر عرصه زراعت، صندوق کوشش می‌نماید تا قرضه ها را بطور مستقیم به متشبثین زراعتی و یا از طریق میانجی ها منجمله موسسات مالی و نهاد های مرتبط به زراعت برای آنها فراهم نماید. وساطت کنندگان متذکره قرار ذیل اند:

### میانجی های مالی

- بانک ها
- نهاد های مالی کوچک
- سایر نهاد های مالی غیر بانکی

### میانجی های غیر مالی

- متشبثین زراعتی
- کوپراتیف ها و انجمن های دهقانی
- شرکت های زراعتی و تجارتی

صندوق انکشاف زراعت روی تمویل مالی زنجیره های ارزشی زراعتی که از توانمندی های عالی برخوردار باشند تمرکز می‌نماید تا موجب رشد اقتصاد گردد. در زمره چنین زنجیره های ارزشی، هدف اصلی اینست تا متشبثین تجارتی مشخص و از آنها حمایت صورت گیرد تا سرمایه لازمه آنها حفظ و فعالیت های آنها توسعه یافته و یا آنرا طوری سرمایه گذاری نمایند تا به فرصت های جدید بازار دسترسی یابند.

### محصولات قرضه دهی

صندوق انکشاف زراعت فراهم کننده قرضه های معمولی و اسلامی می‌باشد که به اساس مواردی که قروض مورد استفاده قرار می گیرند تنظیم میگردد. مثلا: سرمایه دورانی، تمویل مالی مواد خام، امتعه و مواد زراعتی، خرید تجهیزات، تسهیلات بسته بندی و ذخیره گاه، و نیز گدام داری و انتقال مواد زراعتی. میعاد قرضه برای قرضه گیرندگان در عرصه زراعت از ۱۲ الی ۳۶ ماه می‌باشد و برای موسسات مالی که متقاضی قرضه های بزرگ اند الی ٦٠ ماه می‌باشد. حداقل مقدار قرضه یک میلیون و هفت صد هزار افغانی می‌باشد.

**الف: محصولات قرضه های معمولی** مشتمل اند بر قروض و پیش پرداخت های کوتاه مدت، خطوط قرضه (Line of Credit)، قرضه های دورانی، قروض میان مدت، اعتبار نامه (Letter of Credit) و تضمینات بانکی.

قروض به موسسات مالی ممکن بشکل مستقیم باشند یا بر اساس «مجموعه پول سرمایه گذاری شده» همان موسسه مالی در نظر گرفته شود که موسسه مذکور آنرا به یک گروپ مشخص نظر به مقدار با میعاد و شرایطی که صندوق با آن موافقت داشته باشد دوباره به شکل قرضه توزیع نماید.

**ب: قرضه های اسلامی** از سوی کمیته مشورتی شرعی صندوق بررسی و تایید می‌گردند تا اطمینان حاصل شود که تمامی معاملات مطابق به اصول اسلامی انجام، از شفافیت برخوردار و عاری از هر نوع رباء، غرار، میسر، و نفع غیر عادلانه باشند و نیز نمی‌توانند برای فعالیت های حرام مورد استفاده قرار گیرند. محصولات اسلامی صندوق در نمودار پایین صفحه تشریح گردیده اند.

**ج: محصول بانو:** صندوق انکشاف زراعت محصول بانو را نیز به متشبثین طبقه اناث ارایه می‌نماید که مختص برای خانم ها طراحی گردیده تا متشبثینه که تجارت های کوچک زراعتی را به پیش میبرند به قرضه دسترسی پیدا نمایند. میعاد این محصول قرضه طویل المدت بوده و تکتانه آن نیز پایین می‌باشد.




## قرضه های اسلامی

از سوی کمیته مشورتی شرعی صندوق بررسی و تائید میگردند تا اطمینان حاصل شود که تمامی معاملات مطابق به اصول اسلامی انجام، از شفافیت برخوردار و عاری از هر نوع رباء، غرار، میسر و نفع غیر عادلانه باشند و نیز نمیتوانند برای فعالیت های حرام مورد استفاده قرار گیرند. محصولات اسلامی در شکل فوق ارائه گردیده اند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## میعاد و شرایط قرضه

- میعاد قرضه یا تعداد ماه هایی که به اساس آن قرضه منظور میگردد با هدف قرضه و ظرفیت قرضه گیرنده در قسمت درآمد وجوه جهت بازپرداخت قرضه باید سازگار باشد.
- حداکثر میعاد معین اصل مبلغ قرضه های معمولی یک سال می‌باشد.
- میعاد معین در حصه پرداخت مفاد از بابت قروض اسلامی نظر به نوعیت معامله در نظر گرفته می‌شود.
- نرخ مفاد بین ٦ الی ١٠ فیصد بطور تنزیلی می‌باشد.
- قرضه به منظور خریداری مواد زراعتی مانند تخم، کود کیمیاوی و امثال آن در ختم دوره کشت یا بعد از فروش حاصل می‌باشد.
- حداکثر میعاد به صورت عموم برای قرضه انفرادی یا قرضه ای که به اساس «مجموعه پول سرمایه گذاری شده» یک نهاد مالی در نظر گرفته می‌شود، پنج سال می‌باشد.

## واجدین شرایط

- درخواست کنندگان قرضه باید اتباع افغانستان بوده و دارای شماره تشخیصیه مالیه باشند.
- متشبثین زراعت باید نزد مراجع مربوطه یا سایر مراجع دولتی ثبت باشند.
- درخواست کنندگان باید دارای حداقل یک سال تجربه فعالیت در سکتور تجارت زراعتی باشند.
- درخواست کنندگان در فعالیت های غیرقانونی نباید دخیل باشند.



## چالشها، ابتکارات و نتایج

**چالش ها:** رشد صنعت زراعت در افغانستان نسبت به کشور های همسایه سیر بطی تری را طی نموده است که عوامل عمده آن شامل موارد ذیل است:

الف): عدم اطمینان در مورد تهیه و تدارک مواد خام

ب): پروسه های غیرمناسب تولیدی

ج): عدم دسترسی به وجوه مالی

اما خوشبختانه شرکت هایی که تاکنون از خدمات قرضه های اسلامی صندوق انکشاف زراعت استفاده نموده اند، به شرکت های بزرگ تولیدی مبدل گردیده اند. این در حالی است که قبلاً تعداد زیادی از این شرکت ها یا در حالت رکود قرار داشتند و یا هم با تولیدات ناچیز بسنده می کردند. نبود امکانات مالی بیشتر برای فراهم‌آوری مواد خام تولیدی و عدم دسترسی به مشاوره های تخنیکی چالش بزرگ دیگری فرا راه تاجران و کاروبارهای زراعتی در کشور به شمار می رفت.

**ابتکار:** صندوق انکشاف زراعت قرضه های متعددی را در اختیار تشبثات زراعتی در نقاط مختلف کشور گذاشت تا بتوانند تولیدات خویش را انکشاف دهند و همچنان با پیش پرداخت برای تهیه کنندگان مواد خام در رشد اقتصاد کشور در سطوح مختلف زندگی سهیم گردند.

**نتیجه:** بعد از دریافت قرضه از صندوق انکشاف زراعت، شرکت های مذکور توانسته اند در جایگاه بهتری نسبت به گذشته در بازار قرار گیرند چنانکه هر شرکت توانسته است تولیداتش را افزایش داده و همچنان فرآورده های تولیدی خویش را در بازارهای ملی و بین المللی به فروش برساند. اینها یکی از چندین نمونه هایی هستند که نشان می‌دهند چگونه قرضه ها زمانیکه بصورت درست استفاده شوند، می‌توانند در رشد و توسعهٔ سکتور زراعت و در زندگی زارعین مؤثر واقع شوند.

## دستآورد های صندوق

صندوق انکشاف زراعت در جریان سال ۲۰۲۱ میلادی دستآورد های قابل ملاحظه ای داشته است، که از آن جمله میتوان به موارد آتی اشاره کرد:

- توزیع مبلغ مجموعی بیشتر از یک میلیارد افغانی به کوپراتیف ها و کاروبار های زراعتی، فابریکه های تولید مواد غذایی، صادر کنندگان میوه تازه و خشک و نیز میانجی های مالی که با استفاده از وجوه صندوق به دهاقین جهت رشد امور زراعتی و مالداری قرضه های کوچک را فراهم می‌سازند.
- عرضه خدمات تخنیکی به متشبثین زراعتی در عرصه های مختلف از جمله ارائه سفارشات لازمه جهت حل مشکلات و خلا های موجود، زمینه سازی برای اشتراك آنها در نمایشگاه های زراعتی، توسعه و انکشاف بازار، معیاری سازی محصولات زراعتی، مطابقت به محیط زیست، حفظ الصحه و سایر موارد.
- اخذ منظوری مبلغ مجموعی ۷۷۴,۷ میلیون افغانی از نزد کمیته های منظوری قرضه به رهبری وزارت محترم زراعت، آبیاری و مالداری.
- جمع آوری مبلغ ۱۸ میلیون افغانی قرضه های لاحصول از طریق محاکم و ارگان های حقوقی.
- تحت پوشش قرار دادن ۲ هزار و ۸۳۷ تن دهقان که از قرضه های صندوق بطور مستقیم مستفید گردیده اند و اشتغال زایی برای بیشتر از ۱۰۰۰ تن از طریق اعطای قرضه به سکتور زراعتی در ولایات مختلف کشور.
- طی مراحل درخواست های قرضه ۴۵ شرکت دیگر که مجموع قرضه آنها بالغ به یک میلیارد افغانی می‌باشد.
- اشتراك در نمایشگاه های زراعتی، جلسات سکتوری، ورکشاپ ها جهت ارائه معلومات در مورد محصولات و خدمات به دست اندرکاران سکتور زراعت.
- صندوق از بدو تاسیس تاکنون توانسته تا مبلغ مجموعی بیشتر از ۱۳,۳ میلیارد افغانی را از طریق کمیته های قرضه منظور و از آن جمله مبلغ مجموعی بیشتر از ۱۰,۷ میلیارد افغانی قرضه را توزیع نماید. از زمان تاسیس تاکنون به تعداد ۵۶ هزار و ۴۱۹ تن دهقان به صورت مستقیم از این قرضه ها مستفید گردیده اند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ملي اقتصاد کې

# د کرنې ارزښت

**پوهنیار طارق «سالاري»**

د کابل پوهنتون دکرنې پوهنځي، د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې استاد

له ډېر پخوا راپدېخوا کرنه او څاروي روزنه د افغانستان په ملي اقتصاد کې مهمه ونډه لري، حتی ویل کېږي چې کرنه د ملي اقتصاد د ملاتیر جوړوي. د احصایې او مالوماتو ملي اداري ( NSIA) د راپور پر بنسټ ۴۴ سنله وګړي نېغ په نېغه د کرنې سکتور کې کار کوي او د ځینو نا تائید شوو سرچینو پر بنسټ له ۷۰ سلنې څخه ډېر وګړي په نېغ په نېغه او له نورو لارو دې سکتور کې پر کار بوخت دي، چې له دې لارې د خپل ژوند بنسټیزې اړتیاوې پوره کوي. کرنه د کوکنارو د کښت پرته په ناخالصو داخلي تولیداتو (GDP) کې ۱۸.۶ سلنه او د کوکنارو د کښت په ګډون ۲۲ سلنه ونډه لري (NISA, ۲۰۱۹). افغانستان د متنوع اقلیم په درلودلو سره د ډول ډول بوټو د کښت وړتیا لري، له ستروسو څخه نیولې تر خرما، انځیرو، منو او ډول ډول سبو او غلو د تولید امکانات شتون لري. ولې تر ډېره بریده د افغانستان کرنه په دودیزه توګه پر مخ وړل کېږي که چېرته د کرنې د بالقوه وړتیا څخه سمه ګټه پورته شي دا امکان لري چې د بیوزلی په کمولو او کاري فرصتونو را منځ ته کولو کې به ډېره مرسته وکړي.

**اخځلیکونه**

۱. حسن زوی، نجیب الله، ۱۳۸۷ هـ ش، نقش زراعت در رشد و انکشاف اقتصاد ملی افغانستان. پوهنتون کابل.
۲. احمدزی، خال محمد، ۱۳۹۵ هـ ش،و ضعیت بیکاری، عوامل و پیامدهای آن در افغانستان . د علم او فن علمي مجله کابل، کرنې پوهنځی، کابل پوهنتون.
۳. سالاري، طارق او نور (۱۳۹۸) د کرنیز اقتصاد بنسټونه. دکرنې ملي ښوونیز انسټیټیوټ او تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره. کابل ، افغانستان.
۴. National Information and Statistics Authority. NISA. (۲۰۲۰). Estimated Population of Afghanistan ۲۰۲۱-۲۰۲۰.
۵. NISA. (۲۰۱۹). Afghanistan Statistical Year Book. National Information and Statistics Authority. Issue No ٤۰, July۲۰۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library


## په ملي ناخالصو تولیداتو کې د کرنې ونډه

د کرنې سکتور د انسانانو ورځني ژوند کې مهم رول لري. دغه سکتور له نورو ټولو اقتصادي سکتورونو سره یوځای په چټکۍ پراختیا، د بېوزلۍ د کچې په کمولو او د ژوند د چاپېریال په تلپاتې والي او ساتنه کې رغنده رول لوبولی دی. د دې ترڅنګ، کرنه د ملي اقتصاد د ودې لپاره اړین فکتور ګڼل کېږي او د پانګونې د فرصتونو په برابرولو، د کرنیزو صنایعو په پراختیا، د بشري قوې په ګمارنه، د خوړیز خوندیتوب په تأمین او نورو برخو کې مرسته کوي. د افغانستان اقتصاد کې د کرنې سکتور حیاتي ارزښت لري ، له اقتصادي پلوه د چوپړتیاو له سکتور وروسته په دویمه درجه کې ځای لري. له پخوا وختونو څخه د افغانستان خلک کروندګر ول. کرنه د نورو ټولو اقتصادي سکتورونو لکه صنعت او چوپړتیاو ترڅنګ د افغانستان د اقتصاد یو بنسټیز رکن او پایه هم ده او په زیاته اندازه ناخالص داخلي تولیدات له همدغه سکتور څخه ترلاسه کېږي. له بده مرغه له ۱۳۵۷ ل کال څخه راپدېخوا جګړو، ناامنو او دوامداره وچکالیو د کرنې سکتور ته صدمه ورسوله او په پایله کې یې ګڼ شمېر کرنیزې بېخبیناوې له منځه لاړې او د کرنې د سکتور د ګټو کچه ټیټه راغله. د ۱۳۹۸ ل کال د مرکزي احصایې د رقمونو پر بنسټ، په ملي ناخالصو تولیداتو کې د کرنې سکتور ونډه ۲۲ سلنه اټکل شوېده چې مهمه برخه یې غلې دانې جوړوي. لاندې ګراف په ملي ناخالصو تولیداتو کې د کوکنارو په ګډون د بېلابېلو اقتصادي سکتورونو ونډې ښايي.

**ګراف (۱): د کوکنارو په ګډون په ملي ناخالصو داخلي (GDP) تولیداتو کې د بېلابېلو سکتورونو ونډې (٪)**




په لومړیو کې په ملي ناخالصو تولیداتو کې د کرنې د سکتور ونډه زیاته وه، مګر د صنعت او چوپړتیاو د سکتورونو د ودې سره یې ونډه کمه شوه. د افغانستان په ناخالصو داخلي تولیداتو کې اوس چوپړتیاوې په لومړۍ درجه کې ځای لري.

## سوداګرۍ کې د کرنې ونډه

کرنه هېواد کې حیاتي ارزښت لري او د نورو اقتصادي سکتورونو (صنعت، چوپړتیاو او سوداګرۍ) ترڅنګ په ملي اقتصاد کې رغنده رول لري. په تېرو څلورو لسیزو جنګ جګړو کې د نورو سکتورونو ترڅنګ د کرنې سکتور هم خورا زیات زیان لیدلی. ولې دې ناخوالو سره سره بیا هم د تازه او وچو مېوو، د قره قل پوستکي، قالینو، پشم، زعفران او نورو په څېر د افغانستان ډېری صادرات، کرنیز او حیواني محصولات جوړوي. افغانستان هر کال له سوداګریز کسر سره مخامخ دی، د بېلګې په توګه په (۱۳۹۸ل) کال کې د هېواد صادرات د ۸۷۵.۲ میلیونه ډالرو په ارزښت ټاکل شوي دي، خو پر وړاندې یې واردات د ۷.٤ میلیارده ډالرو په اندازه ثبت شوي دي، چې دا رقم ٦.٥ میلیارده ډالرو په اندازه کسر ښيي.
افغانستان له بهرنیو هېوادونو څخه ماشینونه، سامان آلات، نفتي مواد، اوسپنه، خوراکي توکي، منسوجات، تعمیراتي مواد او نور توکي واردوي.

**ګراف (۲): د افغانستان د صادراتو ونډه (٪) ۱۳۹۸ کال**




له پورته ګراف څخه مالومېږي چې د افغانستان ډېری برخه صادرات کرنیز توکي جوړوي په ځانګړې توګه وچې او تازه مېوې چې د ټولو صادراتو ۴۶ سلنه جوړوي. د افغانستان وچې مېوې په نړۍ کې ځانګړی نوم لري چې د وچو مېوو له ډلې څخه د پیستې، ممیزو، وچو انځرو او بادامو یادونه کولی شوو.

سره له دې چې افغانستان خورا په کیفیت سره ډول ډول کرنیز توکي تولیدوي ولې له بده مرغه افغانستان په وچه کې راګیر هېواد دی چې د اوبو له لارې خپل تولیدات نورو ملکونو ته نشي صادرولی، د افغانستان ډېری تولیدات ګاونډي پاکستان، هندوستان او عربي ملکونو ته صادرېږي. په تېرو څو کلونو کې حکومت د صادراتو د آسانتیا لپاره په بدیلو لارو چارو غور وکړ او دې برخه کې یې ځینې لاسته راوړنې لرلې دبېلګې په توګه د چابهار بندر، د آقینې بندر، د لاجوردو لاره، هوایي دهلیزونه او داسې نور، ولې تر اوسه پورې لدې لارو سوداګرۍ او صادرات په پراخه پیمانه نه ترسره کېږي.

## صنعت کې د کرنې ونډه

د کرنې سکتور له صنعت سره نه پرېکېدونکې اړیکې لري. افغانستان هر کال په لوړه کچه کرنیز توکي تولیدوي، خو د ښه بازار د بازار موندنې د یو منظم سیستم او د پروسس د فابریکو د نشتوالي له امله، بزګران له خپلو محصولاتو څخه ډېر لږ عاید تر لاسه کوي. له کورنیو جګړو مخکې ګڼ شمېر فابریکې هېواد کې فعالې وې، خو وروسته د اوږدې مودې لپاره دا فابریکې له کار او فعالیت څخه لوېدلې وې. له نېکه مرغه په دې څو وروستیو کلونو کې ځینو فابریکو بیرته په کار لاس پورې کړی، خو د هېواد اړتیاوو ته بسنه نه کوي. د کرنې سکتور د صنعتي محصولاتو لکه د نساجۍ (نخ او پشم)، د خوراکي توکو د صنعت لکه د اوړو، کیک، کلچو، آش، بیسکیټو او نورو موادو په تولید کې ډېر رول لوبولی دی. تولیدي فابریکې لکه د بغلان د قندو فابریکه، د سپین زر د نباتي غوړیو فابریکه، د لبنیاتو تولیدولو ماشینونه، د نجارۍ په فابریکو کې د موبل او فرنیچر تولید او نورې بېلګې د هېواد په صنعتي وده کې مهم رول لري. کرنه او مالداري د صنعتي پرمختیا لپاره بنسټیزه سرچینه ګڼل کېږي، ځکه اومه مواد چې د کرنې له سکتور څخه سرچینه اخلي، د صنعت سکتور ته برابرېږي. تر اوسه هېواد کې د صنعت سکتور لومړنیو پړاوونو کې دی. دولت او خصوصي سکتور باید هېواد کې د کرنې د صنعتي کېدو لپاره هڅه او پاملرنه وکړي، ترڅو له یو پلوه بشري ځواک ته د صنعت په سکتور کې د کار زمینه برابره او له بل پلوه د هېواد اقتصاد له یو مصرفي اقتصاد څخه په یو تولیدي اقتصاد بدل شي، د بېلګې په توګه: افغانستان بېلابېلې لوړ کیفیته مېوې تولیدوي، خو د سړو خونو او ساتنځایونو د نشتوالی له کبله دا تولیدات په ډېره ارزانه بیه پلورل کېږي، د بېلګې په توګه: که ووایو چې د یو من مېوو به د حاصل ټولولو وخت کې په منځنۍ توګه په ۱۲۰ افغانۍ ده، که چېرې د جوس او مربا مجهزې فابریکې شتون ولري، له یو پلوه بشري ځواک ته د کار زمینه برابرېږي او له بله پلوه د بهرنیو جوسونو او مرباګانو واردولو ته اړتیا نه لیدل کېږي، نه یوازې کورنۍ اړتیاوې پرې پوره کېږي، حتی کولای شو خپل پروسس شوي محصولات بهرنیو هېوادونو ته هم صادر او په پایله کې هېواد د ځان بساینې لور ته بوځو.

## پایلې او سپارښتنې

کرنه د افغانستان ملي اقتصاد کې مهمه ونډه لري. که ووایو چې د افغانستان زیاتره وګړي په کلیو کې ژوند کوي، نو مبالغه به مو نه وي کړې، د افغانستان د احصایې او مالوماتو ملي ادارې د ۲۰۲۰ کابل د راپور پر بنسټ ۷۱ سلنه وګړي (۲۳.۴ میلیونه) کلیو کې ژوند کوي، کرنه د کلیوالو د ژوند اصلي سرچینه ګڼل کېږي. افغانستان د کرنې لپاره خورا ښه اقلیم لري، چې ډول ډول مېوې پکې کښت کېږي. د افغانستان د صادراتو لویه برخه کرنیز توکي جوړوي په ځانګړې توګه وچې او تازه مېوې ولې بدبختانه نړیوالو بازارونو ته په پراخه پیمانه نه صادرېږي. دولت ته پکار ده چې لاندې ټکو ته ځانګړې پاملرنه وکړي:

۱) افغانستان یوازې ۱۲ سلنه د کر وړ ځمکه لري، په اوږد مهال کې باید زیاتې ځمکې د کښت لپاره چمتو شي او په لنډ مهال کې په صنعتي کرنه پانګونه وکړي، ترڅو د کرنې مؤلدیت لوړ شي. ۲) د افغانستان د کرنیزو تولیداتو لپاره د نړیوال بازار پیداکول. ۳) بزګرانو ته د تولیدي عواملو برابرول لکه اصلاح شوي تخمونه، سرې، قرضې، ماشین آلات او نور. ٤) د کرنې برخه کې د خصوصي سکتور د پانګونې ملاتړ او زمینه برابرول. ٥) د هېواد دننه د کرنیزو تولیداتو د پروسس لپاره د امکاناتو برابرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# اوصاف مجازات


احسان الله رحیم یار
متخصص حقوق صندوق انکشاف زراعت

**از دید روانشناسی وجامعه شناسی تا اجتماع وجود دارد، موجودیت جرایم نیز قابل پیش بینی است؛ یعنی در موجودیت جامعه و اجتماع ممکن است که جرم واقع شود و از زمان های گذشته به نوعی از انواع برای مجرمین مجازات تطبیق شده است. مجازات به هر اندازه کم و خفیف هم بوده باشد، در صورتیکه تطبیق آن حتمی باشد، کارآمد و مفید تلقی گردیده و اثرات مثبت و قابل توجهی خواهد داشت. در قدم نخست دید کوتاه خود را راجع به معانی مجازات می‌نگاریم.**

## تعریف مجازات

مجازات در لغت به معنی جزا دادن، کیفر و سزای بدی دادن است. مجازات یا جزا در لغت به معنی «سزای عمل کسی را دادن» آمده و در اصطلاح حقوق جزایی، صاحب نظران تعاریف مختلفی از مجازات ارائه کرده اند. به طور کلی، در بیان مفهوم حقوق مجازات به عنوان پیامد فعل مجرمانه میتوان گفت، واژه مجازات در علم حقوق از معنی لغوی آن یعنی تنبیه مجرم به علت ارتکاب جرم برای حفظ ارزش های معتبر اجتماعی از طرف قانونگذار پذیرفته شده است. با توجه به اهداف خاص، دربارهٔ کسانی که دست به ارتکاب جرم می زنند، مجازات از طرف محاکم ذیصلاح جزایی در مورد آن ها به اجرا گذاشته می‌شود. از سویی هم مجازات عبارت است از هر نوع صدمه یا محدودیتی که طبق قانون و به منظور تحقق بخشیدن به اهداف خاصی، از طرف محکمه نسبت به جسم و جان، حیثیت، آزادی، مال و دارایی مجرم تحمیل می شود که در مطابقت به ماده ۱۳۶ کود جزای افغانستان جزا به سه بخش اصلی، تبعی و تکمیلی تعیین شده است.

## اوصاف مجازات

اصولاً کلیه قواعد و مقررات حاکم بر زندگی اجتماعی انسان ها اعم از قواعد ناظر به مسایل حقوق مدنی، جزایی، اخلاق و غیره که هر یک دارای مشخصات ویژه ای هستند و از آنها به عنوان وجه امتیاز و معیار خاصی برای تشخیص آن ها از یکدیگر استفاده می شود. بر این مبنا نویسندگان و حقوق‌دانان در بیان کلیات، موضوع یا پدیده را مطرح می کنند و با این اقدام زمینه و چشم انداز خاصی را برای درک و تشخیص ماهیت آن پدیده یا موضوع فراهم می نمایند. ویژگی ها یا اوصاف مجازات را با توجه به معنی واژه «وصف»

(c) ketabton.com: The Digital Library


که به معنی چگونگی اشیا و امور می‌باشد و با در نظر گرفتن تعریفی که از مجازات ارائه شد، به ترتیب ذیل مورد بحث قرار می‌دهیم:

## ۱- از نظر ماهوی

بی گمان، تحمیل مجازات از طرف جامعه به مجرم به عنوان ضمانت جلوگیری از سرپیچی مجرم از اوامر و نواهی قانونگذار ماهیتاً متوجه یکی از حقوق مجرم از قبیل حق حیات یا یکی از آزادی های اساسی یا اموال و دارایی یا حیثیت او خواهد شد. در حقیقت، مجازات صدمه ای است که مجرم لزوماً باید به علت تخلف و سرپیچی از نظام های جامعه آن را تحمل کند؛ اعم از اینکه اجرای آن برای فرد مجرم، اصلاح اخلاق او یا ایجاد اخافه و ارعاب استعداد گنهکارانه مجرم صورت گرفته باشد.

## ۲- از نظر مبنا

یکی دیگر از خصیصه های مجازات که رعایت آن در کلیه نظام های جزایی عصر ما ضامن حقوق و آزادی اساسی افراد است مسأله قانونی بودن مجازات است؛ یعنی تحمیل هیچ مجازاتی بر اشخاص بدون وجود قانون ممکن نیست. بدین جهت تنوع و حدود مجازات قبلاً از طرف مقنن تعیین میشود و محاکم جزایی در محدودهٔ آنچه که قانونگذار معلوم کرده به تعیین مجازات و صدور حکم مبادرت می ورزند؛ پس تا زمانی که محاکم جزایی حکم به مجازات نکرده باشند و قطعیت آن محقق نگردد، کسی را نمیتوان مجازات کرد. احترام به این مبنای قانونی مجازات امروزه در اثر قوانین اساسی و جزایی کشور های جهان مورد توجه و تأکید قرار گرفته است. این موضوع در ماده ۲۷ قانون اساسی و ماده ۷ کود جزای کشور چنین بیان گردیده «هیچ شخص را نمیتوان مجازات نمود مگر به حکم محکمه با صلاحیت و مطابق به احکام قانونی که قبل از ارتکاب فعل مورد اتهام نافذ گردیده باشد.» نکته قابل ذکر در بحث مبنای قانونی مجازات مسأله صدور احکام تامین جزایی در مورد مجرمان حرفه ای و کودکان گنهکار است که امروزه در نظام جزایی برخی از کشورها مانند امریکا، انگلستان و سایر کشور های اسکاندیناوی پذیرفته شده است. بدین معنی که دادگاه های جزایی پس از رسیدگی به جرم و احراز مجرمیت مجرم، بدون اینکه میزان قطعی مجازات را تعیین کنند به منظور اصلاح و تربیت مجرمان آن ها را به زندان می فرستند، اما میزان و مدت محکومیت محکوم در زندان بستگی به وضع و حالت مجرم و تأثیر زندان در اصلاح و تربیت مجرم دارد. چنانچه مسئولان زندان تشخیص دهند که محکوم اصلاح شده و قابلیت بازگشت به زندگی شرافتمندانه را پیدا کرده است، او را از زندان آزاد می کنند. بدین ترتیب، در نظام مجازات غیر معین مدت محکومیت محکوم در زندان بستگی به میزان پیشرفت و اصلاح مجرم و اعطای آن به اختیار مسئولان اجرایی است.

## ۳- مجازات ضمانت اجرایی نظام های اجتماعی است.

بنابر آنچه که قبلاً اشاره شد، نهاد مجازات ضامن اجرای نقض اوامر و نواهی قانون جزا است. اعمال مجازات امروزه برای استقرار نظم و بقای جامعه و حفظ ارزش های معتبر اجتماعی یک امر ضروری است. این خصیصه که از مشخصات بارز حقوق جزایی است، آن را از سایر وسایل و تضمینات حقوق دیگر از قبیل جبران خسارت، بطلان و غیره متمایز کرده است. در حقیقت مجازات عکس العمل جامعه در مقابل جرمی است که ضامن رعایت نظام های اجتماعی و عدالت جزایی می‌باشد. تجربه ثابت کرده است که آنچه مفهوم اعتباری ضمانت اجرایی نظام های اجتماعی را از قوه به فعل در آورده و به طور ملموس و محسوس در اختیار صاحب حق و آزادی قرار می دهد. اجرای صحیح، سریع و بدون تبعیض مجازات درباره کسانی است که نظم اجتماعی را بر هم می زنند.

بنابراین مجازات به عنوان ضمانت اجرای مشخص نظم اجتماعی اصلی است که ضامن امنیت قضایی، آسایش و منافع عمومی می‌باشد و از قدرت دولت و هیئت حاکمه ناشی می شود.

## ٤- مجازات لزوماً باید بر مجرم تحمیل شود.

یکی دیگر از اوصاف مجازات، خصیصه شخصی بودن آن است؛ بدین معنی که مجازات منحصراً به مرتکب جرم تحمیل می شود. مسأله شخصی بودن مجازات که امروزه در نظام های جزایی به عنوان یک اصل اساسی در کلیه قوانین جزایی لازم الاجرا می‌باشد، در گذشته رعایت نمیشد. اگر کسی مرتکب جرمی میشد، مسئولیت جزایی او عملاً به سایر اعضای خانواده و به بستگان مرتکب جرم سرایت پیدا می کرد. اما با ظهور ادیان توحیدی و پیدایش مکاتب جزایی، اصل شخصی بودن مجازات در آیین یکتاپرستی و اسلامی و قوانین موضوعه بشری رسماً پذیرفته شد. در رابطه به شخصی بودن جرم ماده ۲۶ قانون اساسی کشور چنین صراحت دارد: «جرم عملی شخصی است؛ تعقیب، گرفتاری یا توقیف متهم و تطبیق جزا بر او به شخص دیگری سرایت نمیکند». همچنان ماده نهم کود جزای افغانستان چنین بیان کرده است: «جرم عملی شخصی است و جزای مترتب بر آن به شخص دیگری سرایت نمیکند». به موجب این اصل، تعقیب امر جزایی فقط نسبت به مرتکب جرم  و سایر کسانی اعمال خواهد شد که در وقوع جرم به نحوی شرکت یا مساعدت کرده باشند. به علاوه، تعقیب جرم و دعوی جزایی، قانوناً با فوت متهم یا محکوم علیه و سایر مواردی که در ماده ۷۱ قانون اجرات جزائی معین گردیده، متوقف می شود.





در صورت فوت محکوم علیه، مرجع رسیدگی به جرم نسبت به تعقیب امر جزایی، قرار توقف تعقیب صادر می کند، زیرا فوت متهم، گرچه باعث توقف دعوای عمومی و اجرای مجازات و اقدامات تأمینی شود، اما دعوی خصوصی(حق العبدی)، همچنان به قوت خود باقی است و این دعوی در محاکم قابل طرح می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میکانیزه زراعتی در افغانستان

انجینیر میوند (علمزوی) - متخصص تخنیکی میکانیزه و صنایع زراعتی



زراعت یک سکتور ستراتیژیک و کلیدی در افغانستان محسوب میشود؛ بر اساس آمار، ۷۰ فیصد نیروی کار کشور در سکتور زراعت مصروف هستند و عواید بخش زیادی از خانواده‌ها نیز از طریق همین سکتور فراهم می شود. طبق گزارش اداره احصائیه مرکزی درسال ۱۳۹۷سکتور زراعت نزدیک به ۲۲ فیصد در تولید ناخالص داخلی سهم داشته است.

میکانیزه زراعتی یکی از عوامل اساسی در زراعت مدرن بوده و همواره به عنوان یکی از عوامل کلیدی در بهبود وضعیت زراعت پایدار یادآوری میشود. میکانیزه زراعتی باعث کاهش فقر و بهبود زندگی مردم در دهات میشود.

همچنان، استفاده از ماشین آلات زراعتی در مراحل مختلف تولید حاصلات مانند قلبه، کشت، هموار کاری، آبیاری، خیشاوه، کنترول آفات و امراض، جمع آوری، تریشر، پاک کاری و پروسس باعث افزایش محصولات و کاهش قیمت تولید می گردد.

میکانیزه سازی زراعت در افغانستان از قبل در طرح سال ۱۳۳۲حکومت شاهی افغانستان (ماشینی سازی زراعت) با همکاری های اقتصادی ایالات متحده امریکا و افغانستان گنجانیده شده بود و در سال ۱۳۳۸ الی ۱۳٤۱ دو فارم نمایشی رسماً در کوهدامن و بغلان به نمایش گذاشته شد و آموزش تراکتور دایر گردید.

در سال ۱۳۳۸ بانک انکشاف زراعت افتتاح گردید و در سال ۱۳۳۹ تعدادی تراکتور از نوع ام اف ۱۸۵ به کشور وارد که از طریق پروژه وادی هلمند به دهاقین قندهار و هلمند توزیع گردید. به تعقیب آن، تراکتور های فورد ۳۰۰۰ هندی وارد کشور گردیده و به دسترس دهاقین غزنی و زابل قرار داده شدند.

در سال ۱۳٤۳ به تعداد ۲۰۰ عراده تراکتور از طریق وزارت زراعت عملاً به کار گماشته شد. در سال ۱۳۵۸ ریاست میکانیزه زراعتی در چوکات وزارت زراعت آغاز به فعالیت نمود که از سال ۱۳۵۹ الی ۱۳۷۰ از طریق هفت استیشن اساسی و یازده استیشن فرعی با داشتن ٦٦۰ عراده تراکتور و ۱۰۰ عراده کمباین و کمباین تریشر با ماشین آلات مختلف النوع فعالیت های متعدد زراعتی را انجام میدادند.

از سال ۱۳۷۱ تا سال ۱۳۸۰ ریاست میکانیزه زراعتی از اثر جنگ های داخلی از فعالیت باز ماند. بعد از سال ۱۳۸۰ فعالیت های

(c) ketabton.com: The Digital Library

میکانیزه زراعتی دوباره از سر گرفته شد. طبق گزارش ریاست میکانیزه زراعتی در حال حاضر تقریبا به تعداد ۲۱۰۰۰ عراده تراکتور و ماشین آلات مختلف النوع توسط بخش خصوصی و دولتی فعالیت می نماید.

---

چالش ها در بخش میکانیزه زراعتی متعدد بوده که این باعث شده تا سطح میکانیزه زراعتی افغانستان در حال حاضر بسیار پایین باشد و اکثر فعالیت ها به شکل عنعنوی پیش برده شوند. این چالش ها قرار ذیل اند:

۱) عدم موجودیت برنامه و پالیسی مناسب و پایدار میکانیزه زراعتی ۲) کمبود خدمات و تجهیزات میکانیزه زراعتی مناسب برای دهاقین در هر دو بخش خصوصی و دولتی ۳) عدم آگهی و دسترسی دهاقین به وسایل عصری زراعتی ٤) داشتن اندازه کم زمین های زراعتی ٥) عدم نظارت از تورید و تولید ماشین آلات زراعتی ٦) زراعت عنعنوی و بخور نمیر ۷) عدم دسترسی به منابع مالی: اکثر دهاقین کشور فقیر بوده و حمایت کافی مالی غرض خریداری ماشین آلات مناسب زراعتی را دارا نمی باشند. ۸) کمبود خدمات تخنیکی غرض عملیات های مناسب زراعتی، عدم استفاده و نگهداری درست از ماشین آلات زراعتی، خدمات بعد از فروش و همچنان کمبود افراد مسلکی به منظور پیشبرد عملیات های میکانیزه زراعتی میباشد. ۹) عدم موجودیت مراکز آموزشی کافی برای ارتقاء سطح دانش تخنیکی و مسلکی دهاقین در خصوص استفاده موثر از ماشین آلات زراعتی ۱۰) دسترسی کمتر به خدمات میکانیزه زراعتی باعث شده که مشارکت و سهم دهاقین در بخش میکانیزه زراعتی کمتر باشد. ۱۱) عدم هماهنگی و همکاری میان تمویل کنندگان، پروژه ها، سکتور دولتی و خصوصی جهت پیشبرد فعالیت های میکانیزه زراعتی که باعث کند شدن روند میکانیزه سازی زراعت شده است.

موجودیت این چالش ها باعث شده که میکانیزه زراعتی در کشور پیشرفت ننموده و جوابگوی نیاز های دهاقین کشور نباشد.

---

با در نظر داشت چالش های موجود، راه حل های ذیل غرض میکانیزه نمودن زراعت پیشنهاد میشوند:

۱) ایجاد سیستم های پایدار برای توزیع به نهاد های میکانیزه زراعتی۲) میکانیزه پایدار در سراسر ارزش زنجیره ای مواد غذایی ۳) سیستم های جدید برای توسعه و انتقال پایدار تکنالوژی ٤) تحول پایدار در حصه آماده سازی زمین و شیوه های زراعتی ومالداری ٥) توسعه منابع بشری و ظرفیت سازی برای میکانیزه زراعتی پایدار ٦) نیاز به دیدگاه دراز مدت در رابطه با موضوعات مربوط به پالیسی و ستراتیژی ۷) ایجاد نهادها و شبکه های پایدار برای همکاری در سطح کشور و منطقه ۸) میکانیزه زراعتی باید به اساس اندازه زمین، موجودیت منابع طبیعی، مصروفیت مردم در زراعت و ساختار های پروسس محصولات زراعتی تدوین گردد. ۹) تبدیل زراعت عنعنوی و بخور نمیر به زراعت عصری و استوار بر بنیاد بازار ۱۰) ماشین آلات زراعتی باید با دوام، کم مصرف و متناسب با شرایط کشور باشند. ۱۱) ماشین آلات وارد شده باید دارای تصدیق نامه های قبول شده ملی و بین المللی بوده و وزارت زراعت، آبیاری و مالداری از آن نظارت نماید. ۱۲) عرضه کنندگان ماشین آلات زراعتی باید به عرضه خدمات بعد از فروش متعهد باشند. ۱۳) سیستم قرضه اسلامی جهت خریداری ماشین آلات زراعتی به دسترس دهاقین قرار داده شود.

---

نتیجه گیری:

در افغانستان میکانیزه سازی در بخش هایی باید صورت گیرد که نیازمند مصارف بالاتر، زمان بیشتر و کار پر مشقت تر می باشند.

این بخش ها مانند کشت شالی، درو گندم، کشت و برداشت کچالو، پروسس، سیستم های ذخیره سازی و انتقالات به بازار و غیره میباشند. منابع مالی و سیستم قرضه دهی مناسب غرض تهیه ماشین آلات زراعتی باید ایجاد گردد.

همچنان، سیستم های جدید را باید ایجاد نماییم تا از ضایعات محصول جلوگیری شود. مهم ترین کار در بخش میکانیزه زراعتی، حفظ، مراقبت و استفاده درست از ماشین آلات زراعتی میباشد که به افراد مسلکی و تخنیکی غرض استفاده درست و موثر از ماشین آلات نیاز داریم.

زراعت را زمانی میکانیزه باید گفت که استفاده از ماشین آلات باعث افزایش تولیدات و کاهش مصارف در تولید شود، در غیر آن نمی‌توان میکانیزه را موثر خطاب نمود.

برای تماشای یک گزارش تصویری در رابطه با موضوع فوق به صفحه یوتیوب صندوق انکشاف زراعت در آدرس ذیل مراجعه کنید.

www.youtube.com/c/AgriculturalDevelopmentFund



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځنګلونو ګټې

عمران الله غفورزی | د مالي چارو کارپوه

باوري یم چې هرومرو به مو زما په څېر د افغانستان د نوم په اورېدو ذهن کې غرونه، ځنګلونه، اوبه، زرغونې سيمې او دښتې انځورېږي او روح به مو پرې باغ باغ کېږي.

د افغانستان پر ځمکه رب العالمين ځانګړې پېرزوېنه کړې ده، خاوره یې حاصلخېزه ده، سیمې، کلي او باندې یې سمسورې دي، هغوي چې سېلاني ذوق لري، که د افغانستان په ګوټ ګوټ وګرځي هره خوا به یې د ونو، بوټو او شنو سیمو په لیدلو سترګې خوږې او روښانه شي، زړه ته به یې یو ډول ډاډ او سکون ورکړل شي. د دې هېواد کرنیزه خاوره بېلابېلو مېوه لرونکو ونو ته جوړه ده، موږ لیدلې او تجربه کړې چې خورا ښه پاېله لري، ډېری کلیوالي خلک په کلېو کې د میوو بڼونه لري، چې په همدې بڼونو د خپل ځان او کورنۍ لګښتونه پوره کوي.

په ځينو نورو لرو پرتو سيمو کې بيا ځنګلونو او غرونو په ټوله کې د افغانستان طبيعت او انځور ته يوه ځانګړې ښکلا وربخښلې ده او زما د نن ورځې ليکل هم د ځنګلونو ارزښت په اړه څرخي. له بده مرغه باېد ووایم چې اوس هم ځينو ځنګليزو سيمو ته نږدې د خلکو ذهنيت جوړونې په اړه سم عامه پوهاوی ندی شوی، دوي په هغه ډول چې لازمه ده د ځنګلونو په ارزښت نه پوهېږي او څوک چې پوهېږي هغوي بيا په لوی لاس د شنو ونو ملاوې ماتوي او وجودونه يې ټوټه ټوټه کوي.

ځنګلونه په یوه سیمه او هېواد کې لکه د انسان بدن کې د زړه هومره ستر رول لوبوي، که په سم ډول او ځیرکتیا یې په ګټو او ارزښت وپوهېږو، بې له دې چې ځنګلیزې ونې پرې کړو، ښکل به یې کړو. د طبیعت په سینه هره ونه د انسانانو، ځناورو او ټولو موجوداتو ته د ژوند پاېښت، خېر او ښېګڼې لپاره ولاړه ده، څوک چې په خپل شاوخوا چاپېریال کې د یوې ونې په ارزښت او قدر وپوهېږي، هغه بیا بشپړ ځنګل ته درنښت لري او د قدر په سترګه ورته ګوري.

نږدې درې کاله وړاندې په ګڼو رسنېو او برېښنایي پاڼو کې یو پېغام لېږل کېده چې په راتلوونکو کلونو کې یې د د تودوخې د ډېرېدو له امله ځمکې ته د پېښېدونکي لوی ګواښ په اړه خلکو ته مالومات وړاندې کول، د دې لوی ګواښ یوازینی او تر ټولو ښه حل لاره یې د نیالګېو کینول او پالل یاد کړي وو، هغه وو چې افغانستان کې هم د نیالګېو د کېنولو اشرونو کلتور خپور شو، خلک په دې وپوهېدل چې ونې او بوټي کېنول او بیا یې ساتل طبیعت ته څومره ستره ګټه رسوي او په دې هم وپوهېدل چې شین چاپېریال او طبیعت هغه ډاکټر دی چې له هیڅ چا فیس نه اخلي.

ځنګلونه نه یواځې د طبیعت ښکلا کې ارزښتناک رول لري، بلکې تر څنګ یې بلها زیاتې نورې ګټې هم یادولی شو. ځنګلونه او ونې د تودوخې درجه زیاتېدلو ته نه پرېږدي او کومې سیمې او هېوادونه چې ځنګلونه نه لري او یا یې پرې کوي د هغه ځای د تودوخې درجه او ګرمي د نورو سيمو په پرتله زياته وي او د سختو اورښتونو او طوفانونو وېره پکې شتون لري، نو ویلی شو چې ځنګلونه د سختو بارانونو مخه نیسي، اوبه خپل ځان کې جذبوي او د زورورو طوفانونو په مخنیوي کې ارزښتناک تمامېږي.

ځنګلونو په خپلو غېږو کې ډېرو زیاتو ژویو او مرغانو ته د ژوند کولو فرصت برابر کړی دی، بېلابېل ځناور په خپله غېږه کې د یوې مهربانې مور په څېر روزي. په ځنګلونو کې د ځناورو او نورو بېلا بېلو ژوندېو ژوو شتون انسانانو او ټولنو ته د خېر او ښېګڼې برخه کې هم ډېر مؤثر تمامېږي. ځنګلونه د هوا په پاکوالي کې رغنده رول لوبوي، ګردونه، غبار او لوګي خپل ذات کې جذبوي او هوا پاکوي. چې دا مهمه کړنه د ډېرو هغو ناروغېو مخه نیسي، چې د ناپاکې هوا له امله رامنځته کېږي. د هغو سیمو اوسېدونکي چې د ځنګلونو ترڅنګ ژوند کوي، روغتیایي وضیعت یې له نورو خلکو سره ډېر توپیر لري او له روغتیا برخمن وي.

نو راځئ!
چې د ځنګلونو ښې ساتنې، بیارغونې او پاملرنې کې خپل انساني او بشري رسالت ادا کړو او هیچاته اجازه ورنکړو، چې شنې ونې او ځنګلونه له منځه یوسي، که نه د طبیعت په سینه به مو د یوې غوڅې ونې ازار په ګور کې هم قرار پرېنږدي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کار او کورنۍ ستراتیژیک لیدلوری

د ژوند او مسلک تر منځ توپیر وساتئ!

ایا مونږ او تاسو کله انګېرلې، چې د یوې ادارې یا شرکت د کارکوونکو کاري اونۍ څه ډول وي؟ هره ورځ سهار وختي له خوارږه خوبه راویښېدل، ځان تیارول او پر وخت دفتر او کار ته ځان رسول په ستراتېژیکو ټکو خبرې کول، ادارې ته د وړاندې شویو ستونزو د حل لار لټول، سربېره پردې د ډول ډول مراجعینو او خلکو سره لیده کاته، همدارنګه په داسې لارو چارو غور او فکر کول چې له مخې یې شرکت یا اداره د بریالیتوب لوړې څوکې ته ورسېږي، مجلسونو او مرکو کې استازیتوب کول، د ادارې یا شرکت د لوړې کچې معاملې تر سره کول، د ادارې په کارونو پسې سفرونو او نورو ځایونو ته تلل او داسې نور... په هرحال کېدی شي چې د ډېرو لپاره همدغه تګلاره وي، خو د ډېوېډ روبینز په کتاب (د بشري سرچینو د مدیریت بنسټونه) کې لیکلي دي: هاري ایم جنسن کریموایر چې د درملو جوړولو باکسټر نړېوال شرکت رئیس دی وایي: اړینه نه ده چې د هر چاه لپاره دې کاري اوونۍ داسې وي لکه په مخکې کرښو کې چې یې یادونه وشوه . هغه (ایم جنسن کریموایر) خلکو ته په غوږ کې یو نوی شعار ورکړ که دنده سرته رسول اړین دي، له بل لوري د یو چا کورنۍ تر دندې هم اړینه ده. یوه کاري ورځ کې به تاسو هرومرو ووینئ چې ښاغلی کریموایر له کاره پاتې شوی او خپل کور کې د کوچني زوي سره وخت تېروي یا خپله لور ښوونځي ته بیایي، کله به د ښوونځي وروسته د هغې د فوټبال لوبډلې ته د لوبې په اړه لارښوونه کوي.

ډېری وخت به همدې ته ورته ښاغلی کریموایر د شپږو بجو وروسته پخپل کارځي کې څرګند نشي. همدارنګه ښاغلی به هیڅ کله په غېر رسمي وخت کې د دندې اړوند تلیفون او یا کوم بل ډول اړیکې ته ځواب ورنکړي. د دې ټولو ترڅنګ دا نه شو ویلی چې ښاغلی کریموایر دنده نه ترسره کوي، بلکې هغه ډېر په زیار سره خپله دنده سرته رسوي. ځینې وختونه تر اتیا ساعته پورې یوه اوونۍ کې کار کوي. خو هغه هر څه په خپل طبعیت او سرعت سره په داسې ډول ترسره کوي، چې نوموړی د خپلې کورنۍ لپاره ځانګړی کړی وخت ونه نیسي. ښاغلی کریموایر کارکوونکو ته یوه بېلګه ده، چې څه ډول کار او کورنۍ دواړو ته وخت ورکړي. د بېلګې په ډول ډیوډ اولسن چې د باکسټر شرکت د انټرنیټي پاڼې جوړوونکو له ډلې یو کارکوونکی دی هغه له کار ځای څخه ۵۰ میله لرې اوسېږي. نوموړی د پینځنۍ (پنجشنبې) او د جمعې په ورځ خپله دفتري دنده خپل کور کې سرته رسوي . پدې ډول نوموړي ته له خپلې کورنۍ سره د ډېر وخت تېرولو فرصت ور په برخه کېږي. اولسن پدې عقیده دی، چې د کار ځای په پرتله کور کې ډېر کار کولی شي. ځکه کور کې داسې څوک نشته چې راشي او دی له کاره اوباسي. لکه دفتر کې چې ډېری کسان تګ راتګ کوي، هغه ته ورته نور کارکوونکي هم ورته نظر لري. د کار او کورنۍ وخت د سمون تګلاره کریموایر په باکسټر کمپنۍ کې د ګټورتوب له اړخه په عمل رسولې ده. اوس هر څه پدې پورې تړلي دي چې ګټورتوب تاسې څنګه وریپژنئ. که چېرې تاسو دې ته ځیر شئ چې د کار او کورنۍ د وخت د سمون کلتور د تېرو نهو کالو را پدېخوا په یاده کمپنۍ کې په لار اچول شوی دی، نو باکسټر دې بهیر کې د تېر په پرتله تر ټولو وختونو ډېره ګټه په لاس راوړې ده. د تېر په پرتله یې ګټه نږدې دوه برابره لوړه شوې ده، د کارکوونکو کچه یې ۴۸،۰۰۰ تنو ته رسېدلې او همدارنګه یې په شپاړسو میاشتو کې پنځه لوي شرکتونه هم لاس ته راوړل. دا هغه څه دي چې ثابتـــوي د کریموایر پلان څومره ګټور وو. هغه د کارکوونکو په کاري وختونو کې په بدلون راوستلو سره پدې وتوانېده، ترڅو داسې نوموتي کارکونکي پلاس راوړي چې له نورو سره توپیر ولري. ځکه د کمپنۍ لخوا هغوی ته په ازادۍ ورکولو او له کورنۍ سره د ډېر وخت په تېرولو باندې دوي هم پدې تکل کې شول چې کمپنۍ ته تر پخوا دوه برابره ډېر کار وکړي.

په هر وخت او دور کې ثابته شوې ده چې انسان ماشین نه دی او نه باېد د یو ماشین په سترګه ورته وکتل شي، بلکې انسان احساس لري او ژوند کې د کار ترڅنګ داسې نور ډېر څه دي چې ښايي تر کار هم ورته اړین وي. د ټېکنالوژۍ دې بهیر کې په کار دا وه چې ټېکنالوژي د هغوي په ژوند کې د هوساینې او ارامۍ لامله شوې وي، خو د مثبتو ټکو ترڅنګ یې انسان دومره بوخت کړی چې کار او کورنۍ نشي سره جلا کولای، زه تر ډېره بریده پورې باور او یقین لرم چې په اوسني بهیر کې ادارې او شرکتونه د کارکوونکو کورنی وخت هم له هغوي څخه په یو ډول نه یو ډول لاندې کوي. هرڅه چې مې په دې لنډه مقاله کې لیکلي او یا تر تاسو رسولي، موخه او مرام مو ترې یوازې دا دی چې ادارې او شرکتونه په ورته وخت کې خپل کارکوونکي دې ټکي ته ځیر کړي، چې کار او کورنۍ دواړه اړین دي، خو کار د کورنۍ لپاره کېږي او که کورنۍ ته وخت ورنکړو او د کورنۍ وخت کې بې انصافي وکړو، نو له خپل هدف او د کورنۍ د خوشحالۍ سره ناسم ګام به مو پورته کړی وي. تاسو او مونږ چې هرڅه کوو د یو ښه کورني ژوند لپاره یې کوو، نو که مو کورنۍ خفه وي ژوند مو تریـخ وي بیا هغه کاري اوونۍ چې له امله یې تاسو ځان ستړی احساسوی بې مانا وي. راځئ! چې د خپلو کورنیو د خوښۍ او سوکالۍ لپاره کار وکړو، نه د دې لپاره چې کار مو د کورنۍ د خفګان لامل شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# انار

## که د روغتیا زړمه





انجینیـر نجیـب الله «ناصـري»

ښاغلی نجیب الله ناصري د ننګرهار پوهنتون کرنې پوهنځې څخه په کال ۲۰۱۱م کې فارغ شوی دی. سربېره پر دې یې اداره او سوداګرۍ، کرنیزې سوداګرۍ، مالي او بانکولۍ برخو کې هم زده کړې ترسره کړېدي. دا مهال ښاغلی ناصري د کرنیزې پرمختیا صندوق سره خپله دنده د پور ورکړې آفسر په حیث پر مخ بیایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د انار علمي نوم (Punica granatum) دی، د (Lythraceae) کورنۍ او (Punica) ډول پورې اړه لري.

انار نږدې په هرو اوبو، هوا او هر ډوله خاوره کې وده کوي او مېوه ورکوي، مګر په معتدله او نسبتاً ګرمه هوا کې ښه وده کوي. انار ډېره ګرمي، وچ بادونه او ترمنفي لس (۱۰ -) درجو پورې سړه هوا زغملی شي. د مېوې د رسېدلو وخت کې ډېرې اوبه ورکول د مېوې د چاودېدلو لامل ګرځي. د انارو تکثیر په دوه ډوله کېږي، د تخم او قلمې له لارې چې د قلمې څخه لاس ته راغلي نیالګي زر حاصل ورکوي. د انارو فصل هغه موسم کې چې پاڼي کرار کرار ژیړیږي او د ځانګو څخه بېل او په ځمکې پرېوځي راټولېږي.

د کرنې وزارت د مسؤلینو له خولې افغانستان کې ۴۸ ډوله انار پېدا کېږي او ډېرې باغونه یې کندهار، تاشقرغان، سمنګان، فراه، نیمروز او کاپیسا ولایتونو کې شتون لري، خو کندهار د انارو د ډېر او غوره تولید له کبله هېواد کې ځانګړی ځای لري او پېژندل شوی دی. انار د افغانستان یو د ارزښتناکو مېوو څخه دي چې په کورنېو او بهرنېو بازارونو کې خورا ارزښت لري.

افغانستان د انارو ستر تولیدونکی هېواد ندی، خو دا یو حقیقت دی چې د نړۍ تر ټولو غوره انار د افغانستان د انارو له ډلې دي.

(لوړن استودارد) د امریکا متحده ایالاتو د نړېوالې پراختیا استازي یو وخت یې ویلي وو:
«د افغانستان انار د نړۍ تر ټولو غوره انار دي، چې خپل ژوند کې به مو لیدلي وي، دا انار سور رنګ او فوق العاده خوند لري».

د افغانستان د انارو ځانګړتیا د هغې په غټوالي، د ډېرو اوبو په لرلو او ښکلي سور رنګ کې ده.
د انارو مېوې کارونه ډېر ډولونه لري. د بېلګې په ډول انار هم په تازه ډول خوړل کېږي او هم ور څخه اوبه ویستل کېږي، شربت ترې جوړیږي او پروسس کېږي. شربت یې هم په خالص ډول څښل کېږي او هم ورڅخه نور خوراکي توکي لکه واین، جیلي، مربا او آیسکریم جوړیږي او یا هم د نورو خوراکي توکو سره ګډ خوړل کېږي: لکه په سلات باندې د تروو انارو د شربت کارول یا د انګورو د شربت سره د انارو د شربت ګډول او بیا کارول د پنځه کیلو انارو څخه ۳.۳ کیلو خالص شربت په لاس راځي.

انار یوه جنتي مېوه ده، چې قرانکریم کې یې هم یادونه شوې ده:

**«و الزيتون و الرّمان مُتَشابِهاً و غَيرَ مُتشابِهِ»**
زیتون او انار ورته او ناورته مېوې پېدا شوېدي.

همدا ډول د بشریت ستر لارښود حضرت محمد (ص) فرماېلي دي: **«انار وخورئ ځکه هیڅ دانه يې په معده کې ځای نه نیسي، مګر دا چې (۴۰) ورځو پورې زړه روڼ کوي او شیطان بېرون و باسي.»**
بل ځای کې رسول (ص) فرماېلي دي: **«هیڅ انار نشته مګر دا چې په هغه کې یوه جنتي دانه شتون لري او زه غوره ګڼم، چې حتی یوه دانه یې هم پرېنږدم.»**
حضرت علي (رض) فرماېلي: **«خپلو کوچنیانو ته انار ورکړئ، تر څو زر خبرې وکړي.»**



د انارو خوراکي ارزښت:
الله تعالی هر موسم کې د هماغه موسم وړ مېوې پېدا کړې دي، ترڅو انسانان د خپل ژوند د پاېښت لپاره د وجود اړتیاوې له دې میوو پوره کړي.
د قرآني طب څېړونکي پدې باور دي چې انار د جنتي مېوې په نوم د مني (خزان) موسم کې ځکه حاصل ورکوي، چې د مني موسم کې د ونو پاڼي ژیړیږي، سمسورتیا له منځه ځي او انسانان د ستړیا او ستومانۍ احساس کوي، د انارو خوراک سره ستوماني له منځه ځي، تر و تازه ګي رامنځته کوي.

د روغتیايي پوهې له پلوه یو انار د یو کس (۴۰) سلنه د ویټامین سي اړتیا پوره کوي، په همدې توګه انار د فولیک اسید او آنټي اکسیدان غوره زېرمه ده. سربېره پردې انار د (E,C,B,A) ویټامینونو ستره زېرمه هم ګڼل کېږي. انار د ځمکې پر مخ غوره او ارزښتناکه مېوه ده، چې د نورو مېوو په پرتله زیاته ګټوره او بېلابېل جوړښتونه لري.

څېړنې ښايي چې انار نه یواځې د ښکلي رنګ او خوندوره او اوبه لرونکې مېوه ده، بلکې د انارو پاڼې، د ونې پوستکی، جرړې، ګل، د مېوې پوستکی او دانه یې ډېرې زیاتې ګټې لري، چې په لاندې ډول یې تر بحث لاندې نیسو:
۱- که له خوړو وروسته خواږه انار وخوړل شي، د مخ رنګ ښکلی کوي، مخ ژر نه ګونځې کېږي او خواړه هم ژر هضموي.
۲- انار معتدل، قوي، ادرار راوړونکي او د تندې له منځه وړونکي دي.
۳- هغه خلک چې ډنګر دي، د خوږو انارو خوړل ورته ګټور دي.
۴- د انارو پوستکي او جرړې د معدې او کلُمو

هیڅ انار نشته مګر دا چې په هغه کې یوه جنتي دانه شتون لري او زه غوره ګڼم، چې حتی یوه دانه یې هم پرېنږدم.

ستر لارښود حضرت محمد (ص) | حدیث شریف

(c) ketabton.com: The Digital Library



چینجي له منځه وړي.
۵- خواږه انار د ټوخي آراموونکي او د غړ پاکوونکي دي.
۶- خوږ انار د وجود خارښت کموي.
۷- انار اشتها رامنځته کوي او که غواړئ چې خوان پاتې شئ، نو انار وخورئ.
۸- خواږه انار د معدې او ځيګر پياوړي کوونکي دي.
۹- د تړشو انارو ډېر لګښت په هغه کسانو کې چې د معدې ستونزه لري، د معدې د زخم لامل پې کېدی شي.
۱۰- د خولې د تپونو لپاره د تړشو انارو اوبه غرغره کول ښه درمل دي.
۱۱- د پزې د دننې تپونو د درملنې لپاره تړش انار جوش کړئ، تر څو ټينګ (غليظ) شي، بيا يې د شاتو سره ګډ کړئ او په تپونو يې کېږدئ.
۱۲- د خوږو انارو رُب انسان پياوړی او چاغوي.
۱۳- د انارو خوراک سره غم او خفګان له منځه ځي.
۱۴- هغه کسان چې د خاورو خوړلو عادت لري، د انارو د رُب خوراک سره ښه کېږي.
۱۵- د اُمېدوارو ښځو لپاره د انارو رُب خوړل ډېر ګټور دي، چې پدې سره به روغ او په خپل وخت کوچنی نړۍ ته راشي.
۱۶- هغه کسان چې د وينې کمښت سره مخ دي يا د ډېرې ستړيا احساس کوي، د انار د پاڼو جوشانده دې د چاي په ډول ګټه پورته کړي. (۱۰ ګرامه په ۲۵۰ سي سي اوبو کې).
۱۷- د انار د پوستکي جوشانده د ښځو د سپينو ترشحاتو لپاره ګټوره ده.
۱۸- د انارو د مېده شويو ګلانو جوربښت د کنځلې

## د افغانستان انار د نړۍ تر ټولو غوره انار دي، چې خپل ژوند کې به مو ليدلي وي، دا انار سور رنګ او فوق العاده خوند لري.

لوړن استودارد | د امریکا متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيا استازی

د غوږو سره د سوځيدلې تپ لپاره درمل دي.
۱۹- د انارو پوستکی وچ او سره ځانګړتيا لري.
۲۰- خوږ انار سوړ، معتدل او لږه لونده ځانګړتيا لري.
۲۱- د وچ ټوخي او سينې د درد له منځه وړلو لپاره د انار سر سوری کړئ او د بادامو تېل کې ور زيات کړئ، بيا يې په اور کېږدئ، ترڅو تېل جذب کړي او يې خورئ، نو آرامښت به احساس کړئ.
۲۲- تړش انار جنسي قوه کمزوري کوي.
۲۳- د انارو د ګل او ګلاب عصاره د سترګو د پرسوب لپاره ګټور دي، مګر کارونه کې يې بايد پوره پاملرنه وشي.
۲۴- که څوک غواړي يو ښکلی ماشوم نړۍ ته راوړي، نو د امېدوارۍ په بهير کې دې د ماسپښين او ماښام خوړو تر منځ انارو څخه ګټه پورته کړي.
۲۵- د انارو خوراک مستي له منځه وړي.

۲۶- که انار د خوراک څخه وړاندې وکارول شي، د صفرا لپاره ګټور دي.
۲۷- د انارو د ګل جوشانده د وربو د ناروغېو او خونرېزۍ لپاره درمل دي.
۲۸- ترش انار د ګرم طبيعت خلکو لپاره ګټور دي.

**افغانستان د انارو ستر توليدوونکی هېواد ندی، خو دا يو حقيقت دی چې د نړۍ تر ټولو غوره أنار د افغانستان د انارو له ډلې دي.**

۲۹- که انار د دانو(زړو) سره وخوړل شي، نو د خېټې د بادونو څخه مخنيوی کوي.
۳۰- انار د شکر ناروغۍ د مخنيوي لپاره ډېر ګټور دي.
۳۱- که د انارو اوبه، شکره، نشاپسته او د بادامو تبل سره يو ځای جوش کړو او بيا يې نيم ګرم وکاروو، نومثانه پياوړې کوي او د ادرارو سيستم خلاصوي.
۳۲- انار د دُخانياتو زيانونه له منځه وړي.
۳۳- هغه کسان چې د سوړ مزاج خښتنان دي، نو انار بايد د سونډ (زنجفيل) او نبات (قند) سره وکاروي.
۳۴- د انارو اوبه د خېټې او معدې شاوخوا ډېرې غوړ(چربی) له منځه وړي او د وزن د زياتېدو مخنيوی کوي.
۳۵- که انار د هغې د دننې پردو سره وخوړل شي، نو معده صيقل کوي او زيرکتيا زياتوي.
۳۶- د انارو اوبو څخه په منظم ډول ګټه اخېستل د وينې دوران تنظيموي او د زړه د حملې ګواښونه کموي.
۳۷- انارو کې شته آنټي اکسيدان د وينې د لښته کېدو مخنيوی کوي.
۳۸- د انارو اوبه د سرطاني ناروغېو په ځانګړې ډول د سينې سرطان او پروستات په کمښت او مخنيوي کې مرسته کوي.
۳۹- د انارو اوبه باکترياېي او ويروسي ضد ځانګړتياوې لري او د غاښوونو سلامتيا کې مرسته کوي.
۴۰- د انارو د پاڼو جوشانده د مېرمنو او نجونو مباشتنۍ ناروغۍ عادت تنظيموي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## نړۍ کې د انارو

# لس ستر حاصل لرونکي هېوادونه (۲۰۱۹م)

**۱- ایران:** د نړۍ د انارو ستر حاصل ترلاسه کوونکی هېواد دی، چې کال کې نږدې یو میلیون ټن انار حاصل ترلاسه کوي.

**۲- د امریکا متحده ایالات:** متحده ایالات نړۍ کې د انارو دوهم ستر حاصل اخېستونکی هېواد دی، دغه هېواد نړۍ کې د بېلابېلو مېوو د حاصل او لېږد له امله ښه پېژندل شوی او د انارو حاصل کې د ایران ستر رقیب شمېرل کېږي.

**۳- چین:** چین درېیم قطار کې د انارو ستر حاصل ترلاسه کوونکی هېواد دی، چې د اتیایمي لسیزې په بهیر چین کې وپېژندل شول، د چین د سیچوان، یوننان او هنان سیمو کې انار ښه حاصل ورکوي.

**۴. هندوستان:** هند نړۍ کې د انارو د حاصل له پلوه څلورمه کچه کې راځي، چې د نورو مېوو حاصل کې هم ښه نوم لري، خو انار پدې هېواد کې یو د غوره مېوو له ډلې شمېرل کېږي.

**۵- اسرائیل:** ټول اسرائیل د انارو د حاصل په وړاندې غوره آب او هوا لري، مګر ډېری حاصل یې په مرکزي او جنوبي سیمو کې دی، چې د اسرائیل د انارو لپاره اروپايي هېوادونه غوره بازار ګڼل کېږي.

**۶- مصر:** مصر د انارو د حاصل شپږم ستر هېواد دی. پدې هېواد کې دوه ډوله انار ډېر پېژندل شوي او ښه بازار لري. یو یې واندرفول او بل یې بلدي دی . بلدي انار نازکه پوستکۍ او ښه خوند لري.

**۷- هسپانیا:** د هسپانیا بزګرانو ورستېو دوه کلونو کې د انارو حاصل ته ځانګړې پاملرنه کړېده او په یاده موده کې یې نږدې ۲۰٪ سلنه د انارو حاصل کې زیاتوالی راغلی دی. د والنسیا او آلیکانته ښارونه یې د انارو د حاصل له پلوه ډېر پېژندل شوي دي.

**۸- ترکیه:** ترکیه نړۍ کې د انارو اتم ستر حاصل ورکوونکی هېواد دی. سربېره پر دننني کارونه بهرنیو هېوادونو ته د انارو لېږدونه هم لري.

**۹- افغانستان:** افغانستان نړۍ کې د غوره او نایابو انارو حاصل له پلوه خورا پېژندل شوی او د انارو د حاصل له پلوه نړۍ کې نهم قطار کې راځي.

**۱۰- بلجیم:** دا هېواد هم د نړۍ د انارو ستر حاصل لرونکی هېواد دی. دې هېواد کې د انارو ډېر لګښت له امله بزګران د کور دننه بازار لپاره انار کري.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## مصاحبه اختصاصی با



# محبوب الله ننگ

### رئیس تصدیق دهی تخم های بذری و مشاور ارشد وزیر زراعت

(سرپرست اسبق معینیت تخنیکی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری)

مجله پرمختگ

مصاحبه کننده: فاطمه شکوه

**پرمختگ: گرچه خوانندگان با چهره جوان شما آشنا هستند، می‌خواهیم تمام خوانندگان مجله پرمختگ شما را بیشتر بشناسند. لطف نموده در مورد خود معلومات بیشتر ارائه فرمائید.**

آقای ننگ: بنده محبوب الله ننگ، سرپرست معینیت تخنیکی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری کشور و نیز رئیس کمیته اعتبارات صندوق انکشاف زراعت می‌باشم که از شش سال بدین سو، به حیث رئیس تصدیق دهی تخم های بذری مصروف خدمت به کشور می‌باشم. تحصیلات خویش را در عرصه های مختلف سکتور زراعتی به اتمام رسانیده و همچنان، ماستری خویش را در بخش اصلاح نباتات و جنتیک از ایالات متحده امریکا بدست آورده ام. هشت سال به حیث استاد در پوهنځی زراعت پوهنتون ننگرهار، و پنج سال در پروژه های انکشافی ایفای وظیفه نموده ام.

**پرمختگ: از چه مدت در وزارت زراعت مصدر خدمت بوده و در کدام پست ها ایفای وظیفه نموده اید؟ در ضمن به فعالیت های مهم تان در این مدت اشاره‌ای داشته باشید.**

آقای ننگ: در ابتدا،کار خویش را با وزارت زراعت، آبیاری و مالداری از طریق پروژه بانک جهانی به حیث کارشناس تخم بذری آغاز نمودم که نقش و کارکرد بنده در دیزاین پروژه متذکره بارز بود و در زمان تطبیق آن به حیث هماهنگ کننده پروگرام تخم های بذری ایفای وظیفه نمودم. بعداً، برای مدت یک و نیم سال به حیث مشاور تخنیکی در پروژه انتقالی اتحادیه اروپا و سپس منحیث مشاور ملی تصدیق دهی تخم های بذری در پروژه نامبرده مصدر خدمت گردیدم. در حال حاضر، به حیث رئیس ریاست تصدیق دهی تخم‌های بذری و سرپرست معینیت تخنیکی زراعت و مالداری ایفای وظیفه نموده و در طول این مدت توانستم برای ریاست متذکره یک سیستم منظم را ایجاد و مدیریت نمایم.

**پرمختگ: علاوه بر بست معینیت تخنیکی وزارت، شما ریاست کمیته اعتبارات صندوق انکشاف زراعت را نیز به عهده دارید؛ آیا اجرای چنین مسئولیت های عمده برایتان مشکل‌آفرین نیست؟ چطور به آنها رسیدگی می‌نمایید؟**

آقای ننگ: تشکر زنده باشید! پیشبرد ریاست کمیته اعتبارات صندوق برای بنده یک چالش نه بلکه یک فرصت است تا بتوانم ممثل صدای هر دهقان باشم و به آنها خدمت نمایم. از مدت یک سال بدین سو که ریاست کمیته اعتبارات صندوق را به عهده دارم تلاش نموده ام تا مشکلات قرضه دهی به دهاقین را حل، و قرضه های زراعتی را به آنها توزیع نماییم. با ایجاد انجمن های زراعتی توانستیم پل ارتباطی میان صندوق و دهاقین باشیم و پروسه قرضه دهی را به آنها تسهیل نماییم.

**پرمختگ: قرضه های زراعتی را در بدل چه نوع تضمینات اعطا می‌نمایید؟**

آقای ننگ: صندوق قرضه های زراعتی را در بدل اخذ تضمین اموال منقول (وسایل و ماشین آلات زراعتی) و غیر منقول (زمین، خانه و شرکت) که ارزش آن ۱۲۰ فیصد از مجموع اصل قرضه را تشکیل داده باشد ارائه می‌نماید. علاوه بر این، در صورت داشتن مدارک و شواهدی که نشان دهنده تجارب و مهارت های مدیریتی در تجارت و فعالیت‌های متقاضیان باشد، به آنها قرضه داده میشود.

**پرمختگ: شما چه نوع قرضه ها را منظور می‌نمایید و به چه کسانی قرضه میدهید؟ لطفا در این زمینه معلومات مفصل ارائه نمایید.**

آقای ننگ: یکی از اهداف صندوق انکشاف زراعت عرضه خدمات قرضه های زراعتی به دهاقین، انجمن های زراعتی، میانجی های مالی، فارم های مالداری، ماهی پروری، مرغداری، پروسس کنندگان و صادر کنندگان میوه های تازه و خشک، فابریکه های تولید آرد و سایر متشبثان عرصه زراعت می باشد. بناً، هر فرد حقیقی و حکمی که مصروف کار در سکتور زراعت باشد میتواند از قرضه های صندوق مستفید شود.

**پرمختگ: شما فعالیت های صندوق انکشاف زراعت را چگونه ارزیابی می‌نمایید؟**

آقای ننگ: چنانچه از دستآورد های اخیر صندوق مشاهده میگردد، با رهبری یک جوان افغان فعالیت های صندوق به مراتب بهتر شده و رو به پیشرفت است. علت همه این پیشرفت ها این است که ما و شما مشکلات خود را خوبتر و بهتر میدانیم و با دهاقین عزیز ارتباط مستقیم داریم. در ضمن، اگر کارکردهای صندوق را ارزیابی نماییم متوجه خواهیم شد که در ظرف یک سال گذشته صندوق توانست قرضه های متعددی را توزیع و نیز قرضه های صعب الحصول را از طریق مراجع قانونی جمع آوری نماید. ما در آینده شاهد پیشرفت های چشمگیری خواهیم بود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


> **علت پیشرفت ها و دستآوردهای اخیر صندوق به رهبری یک جوان افغان اینست که ما و شما مشکلات خود را بهتر میدانیم و با دهاقین مان ارتباط مستقیم داریم.**

**پرمختگ: تا جایی که ما در مورد فعالیت های صندوق معلومات داریم فهمیده میشود که قبلاً رهبری این صندوق به عهده روسای خارجی بود که دستاوردهای ملموسی نداشتند. مدتی است که یک جوان افغان رهبری صندوق را به عهده گرفته و پیشرفت ها و دستآورد های مثبتی هم در قبال داشته که نتایج آن به نفع کشور و شهروندان اند. راز آن در چه نهفته است؟**

آقای ننگ: ما از همکاران خارجی خود تشکری می کنیم که به افغانستان آمده و در بخش های مربوطه با تخصص خاص با ما همکاری می‌نمایند؛ اما افغان ها که افراد همین جامعه اند بیشتر میتوانند درک نمایند تا چه نوع خدمات برای مردم مؤثرتر واقع می‌گردد. در گذشته زمانی که رئیس صندوق انکشاف زراعت خارجی بود، دستآورد های صندوق در قسمت اعطای قروض و جمع آوری مجدد آن خیلی کند بود و صرف به شرکت های بزرگ خدمات قرضه دهی ارائه میگردید. بر علاوه، در شرایط سخت کرونا، زمانیکه اکثر ارگان های دولتی و خصوصی تحت شرایط شدید قرنطینه قرار داشتند، از آنجاییکه من آگاهی دارم، اکثریت کارمندان صندوق با وجود ابتلا به بیماری مهلک کرونا باز هم به کار خویش ادامه داده و لحظه ای از خدمت رسانی به مردم افغانستان دریغ نورزیدند و هم زمان با آن توانستند چندین جلسه کمیته اعتبارات را دایر نمایند تا قرضه ها منظور و به متقاضیان توزیع گردند. این خود نشان دهنده رهبری موفق یک جوان افغان و تیم پر تلاش صندوق می باشد که واقعاً زحمات شان قابل قدر است.

**پرمختگ: جهت بهبود و شکوفایی هرچه بهتر سکتور زراعت، صندوق چه برنامه هایی برای آینده در نظر دارد؟**

آقای ننگ: آرزومندم که صندوق بتواند از طریق خدمات قرضه دهی در تمام ولایات دهاقین را تحت پوشش قرار دهد. با این کار نه تنها پول صندوق هدر نمی رود بلکه به دهاقین کمک مالی صورت میگیرد. در شرایط فعلی، افغانستان نمی تواند بانک انکشاف زراعتی ایجاد نماید. بناً، صندوق انکشاف زراعت جایگزین خوبی برای بانک زراعتی جهت فراهم نمودن قرضه های زراعتی به سکتور زراعت در افغانستان می باشد.

**پرمختگ: از اینکه صندوق دارای دفاتری به سطح زون میباشد، آیا در نظر دارید تا فعالیت های آنها به سطح ولایات هم گسترش یابد؟**

آقای ننگ: بله، فعلاً صندوق انکشاف زراعت در پنج زون فعالیت دارد و هدف ما این است که فعالیت های صندوق به ۳٤ ولایت افغانستان گسترش یابد و هر دهقان، هر مالدار و هر باغدار از طریق کوپراتیف ها و انجمن های مربوطه از این قرضه ها مستفید گردد.

**پرمختگ: به ولایت بامیان می‌آییم؛ کچالوی بامیان از شهرت و بازار ملی و بین المللی برخوردار است و صندوق در توسعه کشت کچالو در این ولایت خدمات ارزنده ای را عرضه کرده، دست دهاقین نیازمند را گرفته است و صدها میلیون افغانی قرضه های اسلامی را به کوپراتیف ها اعطا نموده است. از نظر شما در این ولایت چه نوع تغییراتی رونما گردیده است؟**

آقای ننگ: طوریکه ما میدانیم بامیان یکی از ولایات مرکزی می باشد که بخش اقتصادی آن رشد و توسعه نیافته است و کچالو عمده ترین محصول زراعتی این ولایت به شمار می رود.



صندوق انکشاف زراعت از طریق اعطای قرضه به کوپراتیف های زراعتی کمک نموده است تا تخم های با کیفیت را خریداری و حاصلات شان از لحاظ کیفیت و کمیت افزایش یابد.

**پرمختگ: دهاقین چطور میتوانند استفاده اعظمی را از قرضه های صندوق داشته و تجارت زراعتی خویش را پیش ببرند؟**

آقای ننگ: قرضه های زراعتی به دهاقین و متشبثین کمک می نمایند تا تجارت خویش را وسعت داده تا سکتور زراعت نیز انکشاف یابد. وزارت زراعت، آبیاری و مالداری پلان دارد مکانیزم های تشویقی و برنامه های آگاهی دهی خویش را گسترش داده تا کوپراتیف های زراعت، متشبثین و دهاقین از فواید قرضه های زراعتی مستفید شوند و همچنان صندوق انکشاف زراعت نیز برنامه های مفید و موثر آگاهی دهی را روی دست دارد تا تمام تجارت پیشه های زراعتی از این فرصت های قرضه دهی آگاه شوند.

**پرمختگ: میعاد قرضه های صندوق برای چه مدتی است؟**

آقای ننگ: میعاد قرضه های صندوق انکشاف زراعت نظر به نوعیت تجارت مشتری متفاوت میباشد. هر تشبث یا کاروبار زراعتی میتواند به میعاد های مختلف قرضه دریافت نماید. حداقل میعاد قرضه یک سال و حداکثر آن الی پنج سال می‌باشد.

**پرمختگ: صندوق انکشاف زراعت با چه تفاوتی نسبت به سایر نهادهای قرضه دهنده/بانک ها قرضه را به دسترس دهاقین و متشبثین قرار میدهد؟**

آقای ننگ: یک دهقان یا متشبث بخش زراعت اکثراً با تکتانه بسیار بلند از بانک ها قرضه دریافت می‌نماید که بازپرداخت آن مشکل می باشد. اما صندوق انکشاف زراعت با تکتانه اندک برای دهاقین و متشبثین قرضه توزیع مینماید تا هر دهقان و متشبث بتواند قرضه بگیرد و تجارت خویش را رونق و توسعه دهد.

**پرمختگ: پیام شما برای خوانندگان مجله پرمختگ و کارکنان بخش زراعت چیست؟**

آقای ننگ: پیام من برای خوانندگان مجله پرمختگ و کارکنان بخش زراعت این است که سکتور زراعت یک بعدی نه بلکه دارای ابعاد مختلف می‌باشد. سکتور خصوصی باید با وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و صندوق انکشاف زراعت همکار باشد تا مشکلات مالی دهاقین و تجارت پیشه های زراعتی حل و باعث رشد سکتور زراعت کشور گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شرکتونو حقوقي بڼې

لیکونکی: احمد ضیاء

**سوداګریز شرکتونه:** رسمی کاروبار او یا سوداګریز شرکتونه د خوکسانو ګډون دی، چې په یوه یا څو موضوعګانو کې د سوداګریزو معاملاتو د ترسراوي په موخه رامنځته کېږي.
دلته موږ پنځه ډوله د سوداګریزو شرکتونو حقوقي بڼې تر بحث لاندې نیسو، چې عبارت د انفرادي، تضامني، ګډ تضامني، سهامي او محدود المسؤلیت څخه دي چې هر یو ځانته ګټې او زیانونه لري.

## ۱. انفرادي سوداګري (Sole Proprietorship)

انفرادي سوداګري هغه ده چې څښتن يې یوازې یو تن وي، د نورو تشبثاتو په پرتله ډېره ساده وي او په پوره آسانۍ سره پیلېږي.

- د تشبث څښتن ټوله ګټه تولوي خو نامحدوده مسؤلیت لري.
- د شخصي او سوداګریز عايد ترمنځ توپير نه کېږي، ځکه نو د سوداګرۍ عايد د شخصي عايد په توګه د مالیې ورکرځي.
- د سوداګرۍ پاېښت يې دڅښتن تر عمره ترلی دی.
- د شرکت پانګه د څښتن تر پانګې پورې محدوده وي، له دې امله نوي فرصتونه نه شي تر لاسه کولی.
- د سوداګرۍ مالکیت يې ستونزمن وي، ځکه چې ټوله سوداګري بايد وپلورل شي.

## ۲. تضامني شرکتونه (Partnerships)

تضامني شرکتونه د انفرادي په شان وي، خو پدې ډول شرکت کې دوه یا له دوو ډېر څښتنان وي او همدارنګه ټول شریکان نامحدوده مسؤلیت لري، ګټه او زیان سره وېشل کېږي او د شرکت د تګلارې پر بنسټ ګټه او زیان د دوی ترمنځ وېشل کېږي.

- تګلاره کېدی شي ناليکلي وي او یا هم په لیکلي بڼه وي.
- شریکان نامحدود مسؤلیت لري او د یوه شریک د مړینې سره سم او یا که یو شریک د شرکت د خرخلاو نیت ولري، پدې وخت کې شراکت له منځه ځي.
- ټول عايد د شخصي عايد په توګه د مالیې ور ګرځي او د شرکت پانګه د شریکانو تر پانګې محدوده وي.
- مالکیت په آسانه توګه نه اړول کېږي، ځکه د داسې کولو لپاره بايد نوی شرکت جوړ شي.

- د محدود المسؤلیت لرونکي شریکانو ونډه کېدی شي، د شرکت د له منځه تللو پرته واړول شي، خو د نوي شریک پیدا کول چې ونډه واخلي، ستونزمنه وي.
- د داسې شرکتونو منفي ټکي عبارت دي له: نامحدود مسؤلیت، د شرکت محدود پاېښت او د ملکیت د اړولو د پروسې پېچلتوب چې د شرکت پر ودې او پرمختګ منفي اغېز لري او مخه يې نیسي.

## ۳. ګډ تضامني شرکتونه (Special Partnerships)

هغه شرکت چې تر ټاکلي سرلیک لاندې د سوداګرۍ د ترسراوي په موخه جوړیږي او د شرکت د پوروړو په وړاندې د هغه د یو یا څو تنو شریکانو مسؤلیت نامحدود او د یو یا نورو شریکانو مسؤلیت يې په یوه ټاکلي پانګه کې محدود وي، دا شرکت ګډ (مختلط) تضامني شرکت بلل کېږي.

- په ګډو تضامني شرکتونو کې د تضامني شرکت ځانګړي احکام معتبر دي.
- محدود المسؤلیت شریکان د شرکت د چارو د اداري واک نلري.
- د اداره کونکو د واک څخه په وتلو معاملاتو کې رايه ورکولی شي.

## ٤. سهامي شرکتونه (Corporations)

سهامي شرکت د هغه شرکت نوم دی، چې تر یوه ټاکلي سرلیک لاندې د سوداګریزو معاملو دپاره جوړ شوی او د هر شریک د مسؤلیت اندازه د هغه د برخې په اندازې پورې محدوده وي.

- یو سهامي شرکت په حقیقت کې یو ځانته حقوقي شخص دی، چې له خپلو مالکینو جلا دی او د یوه حقیقي شخص په څېر زیات حقوق، دندې او امتیازات لري.
- کولی شي پیسې پور کړي، یو ملکیت رانیسي، هم مدعي او هم مدعي علیه شي، کولی شي په تړونونو کې دننه شي.
- په سهامي شرکت کې شریک کولی شي، بل سهامي شرکت کې سهم ترلاسه کړي.
- د سهامي شرکتونو د جوړولو پروسه د نورو شرکتونو په پرتله پېچلې ده او د ثبتولو وخت کې بايد اجازه لیک او نظام لیک ترتیب کړي.
- اجازه لیک کې د شرکت نوم، د شرکت د پاېښت موده، د سوداګرۍ موخه، د شریکانو ډېر نه ډېر شمېر او داسې نور يادېږي چې دغه مالومات بايد د دولت سره ثبت شي.
- په نظام لیک کې هغه قوانین يادېږي، د کوم په بنسټ چې شرکت خپلې چارې ترسره کوي لکه د مدیره هیئت ټاکل او داسې نور...
- قوانین د شرکت لوبوالي په څرنګوالي توپير لري.
- د نظام لیک قوانین کېدی شي د شریکانو لخوا وخت په وخت بدل شي یا لږ او ډېر شي.
- سترو سهامي شرکتونو کې مدیران او شریکان یا خاوندان بېلې بېلې ډلې وي.
- شریکان مدیره هیئت ټاکي چې هغه بیا مدیران د شرکت د چارو د پرمختګ لپاره ګماري.
- د شرکت مالکیت په اسانۍ سره اوړېدلی شي او د شرکت پاېښت محدود نه وي.
- پورونه په خپل نوم اخېستلی شي او شریکان د سهم په اندازه مسؤل دي.
- شرکت کولی شي د برخو په پلورولو پانګه ترلاسه کړي.
- شرکتونه کېدی شي ډېر شریکان ولري لکه د T AT & شرکت چې ٤،۸ میلیونه شریکان لري او ۳،۸ بیلیونه برخې يې پلورلې دي.
- منفي ټکي يې دا دی چې دوه ځلې بايد مالیه ادا کړي، یو ځلې د شرکت په کچه او بل ځلې کله چې هره برخه لرونکې خپله برخه ترلاسه کړي.
- د سهامي شرکتونو اړوند قوانین یو هېواد له بل سره توپیر لري، خو د مسؤلیت محدود والی او د عامه ملکیت اړخونه يې پر ځای پاتې دي.
- دا ډول شرکتونه Limited, Public Limited Company, Joint Stock Company نومېږي.

## ٥. محدود المسؤلیت شرکتونه (Limited Companies)

هغه دي چې پانګه يې په برخو نه وېشلې کېږي او د پانګوالو مسؤلیت يې تر متحده پانګې پورې محدوده وي او همدارنګه په محدود المسؤلیت شرکت کې د شریکانو شمېر لږ دوه او ډېر يې پنځوس تنه دي او پانګه يې بايد تر سلو زرو افغانیو لږه نه وي.

- شرکت د یو یا څو مدیرانو له خوا چې د شریکانوله خوا وي له بهره ټاکل او اداره کېږي.
- د یوه شریک په افلاس یا مړینې سره شرکت له منځه نه ځي. د دوو شریکانو په صورت کې نوی شریک د متوفی ځای نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تېلي بوټي/نباتات

افغانستان د نړۍ د بې وزلو هېوادونو له ډلې دی، چې کرنيز پرمختګ کې يو پرمختللی کرنيز هېواد پېژندل شوی او کرنه يې په لومړي قطار کې ځای لري. سيندونه يې روان دي، خو د کرنې لپاره څه چې د ښښلو لپاره هم د اړتيا وړ اوبه نلري، زمونږ کرنيزې ځمکې ډېرى للمې دي، ډېرى کرنيزې ځمکې د ځمکې لاندې اوبو څخه په ګټه اخيستنې لکه کارېزونو، کوهيانو او ارټونو له لارې اوبه کېږي، چې دې وروستيو کې دا اوبه کمې څه چې ځينو ځايونو کې پوره وچې شوي هم دي، هېواد کې څه د پاسه څلور لسيزو جګړو د اوبو سرچينې هم د کمښت سره مخ کړې دي، نو پکار ده چې د کرنې پراختيا په موخه کار وکړو او هغه بوټي وکړو، چې ګټه يې ډېره او د اوبو لګښت يې کم وي او بايد هېوادوالو ته وپېژندل شي.

الحاج ډيپلوم انجينر سيد رقيب شاه هاشمي

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ۰۱ مالوچ (Cotton)

مالوچ (پنبه) د ګل لرونکو بوټو له ډلې ده، چې د Malvaceae په کورنۍ او د Gossypium په جنس پورې اړه لري. دا بوټی عمودي نیله لري، د هغې د ساقې(ډنډې) لوړوالی د ۶۰-۱۶۰ سانتي مترو او په هغو ځایونو کې چې معتدل (ترم) ژمی لري، تر پنځو مترو پورې رسېږي.

**د مالوچ تولید په هېواد کې :**

د پنبې بوټی د صنعتي بوټو له ډلې هغه بوټی دی چې په ګرمو سیمو کې ښه حاصل ورکوي او لړو اوبو ته اړتیا لري، چې د مالوچو څخه د ټوکرانو جوړولو کې، د پنبه دانې څخه تېل او کنجاړې لپاره، پاتې یې د څارویو خوراک او د پنبې بوټې د سوخت او کاغذ جوړولو لپاره پکار وړل کېږي .

**د پنبې وتيز (اقتصادي) ارزښت:**

د پنبې کرنه او تولید نه یواځې د کرنې د خصوصي سکتور پیاوړتیا او د هېوادونو د اقتصاد له پلوه ارزښت لري، بلکې په تولید، پروسس او صنعت کې د زیاتي بشري قوې په کار اچول کېدولو لامل کېږي، په تېره بیا په وروسته پاتې هېوادونو کې چې ساینس او تکنالوژۍ ډېر پرمختګ



نه دی کړی او د کرنیزو ماشین الاتو څخه د ګټې اخېستنې دود نه لري. افغانستان کې پنبه د مهمو محصولاتو څخه ده چې د بهرنیو اسعارو د لاسته راوړلو لپاره له وچې مېوې او قره قل څرمنو څخه وروسته په درېیمه درجه کې ځای نیسي. د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله افغانستان کې د پنبې کرکم دی چې د هغې یو اصلي لامل د عصري تکنالوژۍ نشتوالی دی. افغانستان کې له پخوا زمانو راهیسې دوه ډوله پنبه کرل دود لري چې حاصلات یې کورنۍ ارتیاوې پوره کوي او عبارت د کوګلي او چګتو څخه دي. پورتني ډولونه د هېواد په سوبلي سیمو لکه: پروان، فراه او د هېواد ختیځو او نورو سیمو کې کرل کېږي.

هېواد کې د پنبې ځینې مهم ډولونه عبارت دي له Acala ۴۲-۴۸، Acala-۴۲ ۲۷C، ۱۷C-۱۵ اورامین ۱۵۱۷م او نور یې لکه (Cim ۱۰۹)، ناياب ۹۲ له هند، ویرامین له ایران، Acala ۱۰۸F و ۱۳۸-F له تاشکند او ازبکستان څخه دي، چې د افغانستان د شرایطو سره د توافق وروسته کرل شوېدي. له غوړیو پرته له پنبې څخه صابون، ګلیسرین او ګریس هم لاس ته راځي. د کاغذ په صنعت کې هم په ډېره لوړه کچه کارول کېږي.

د هېواد ۵۰ سلنه پنبه د سوبلي ولایتونو لکه بغلان، تخار او بلخ څخه لاس ته راځي، په هر هکتار ځمکه یې له دوه ټنو څخه زيات حاصل لري.



# ۰۲ لمر ګلی (Sunflower)

علمي نوم یې (Helianthuse Annus) دی، د composite د کورنۍ پورې اړه لري. نژدې د لمر ګلي ۶۷ کرنیزې ډولونه پېژندل شوي دي او برسېره پرکرنیزو ډولونو ډېر شمېر د ځوکلنو زینتي بوټو(Ornamental) او هرزه وښو په شکل هم شتون لري. لمر ګلی یو کلن بوټی دی ، د ساقې لوړوالی یې تر ۲.۵ مترو پورې رسېږي.لمر ګلی د تېل لرونکو مهمو بوټو له ډلې دی او په نړۍ کې یې د تېل لرونکو بوټو ۸۰ سلنه سیمه نیولې ده. د لمر ګلي تخم کې له ۵۰ تر۵۲ سلنې تېل شتون لري. د تېلو ویستلو څخه وروسته تړي تر ۴۰ سلنه زیاته کنجاړه په لاس راځي. د لمر ګلي کنجاړه ۳۰-۳۵ سلنې پورې پروتیني مواد، ۱۰سلنه غوړي او تر ۲۰ سلنه پورې کاربوهایډریټ لري. د لمر ګلي غوړي په خوړو کې خوندور وي.

د لمر ګلي ډنډه، پاڼې او ګل په اسانۍ سره سایلج کېږي چې ډېر کاربوهایډریټ لري، همدارنګه دا سایلج په ډېره کچه پروټین او کاروتین لري، د لمر ګلي ډنډې د سوخت لپاره کاروي، ایرې یې تر ۳۵ سلنه پورې پوټاشیم اکسایډ لري او د پوټاشیم د کاروني لپاره چې د پوټاشیم لرونکې کیمیاوي سرې د برابرولو د ارتیا وړ ماده ده.

لمر ګلی د مچبو ساتنې په پراختیا کې هم ډېر ارزښت لري. د هېواد په سوبلي او ختیځو ولایتونو کې د غوړو د تولید لپاره کرل کېږي چې یو جریب ځمکې څخه ۵۰۰-۶۰۰ کیلو ګرامه د لمر ګلي د تخم دانې لاس ته راځي.



# ۰۳ زغـــر (Flax)

علمي نوم یې (Linum usitatissimum) او د Linaceae کورنۍ پورې اړه لري.
د صنعتي بوټو له ډلې څخه یوکلن بوټی دی چې تخم یې ۴۲-۴۸ سلنه پورې غوړ لري. له غوړیو څخه یې په کیمیاوي صنایعو، د څرمنې په صنعت کې، د اوبدلو په صنعت، د صابون جوړولو او کاغذ جوړولو په صنایعو کې کار اخېستل.

د زغرو کنجاړه په منځني ډول ۳۳ سلنه پروټین ۸،۶ سلنه شحم، ۳-۶ سلنه کاربوهایډریټ او ۸،۷ سلنه سلولوز لري. د زغرو کنجارې څخه د شیدو او غوښینو غواګانو د تغذیې لپاره کار اخېستل کېږي. د زغرو د مېده وښو څخه د پسونو د تغذیې لپاره ګټه اخېستل کېږي. د زغر بوټی د هېواد په سوبلي ولایتونو کې د غوړیو د لاسته راوړو لپاره کرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ۰۴ شرشم (Mustard)

شرشم یو ډېر پخوانی تېلي یو کلن بوټی دی چې لوړوالي یې له ۹۰-۶۰سانتي مترو پورې رسېږي. د شرشمو دانې ۴۰ سلنه تېل لري. د شرشمو تېلو څخه په پخلي او تخنیك کې، د فولاد جوړولو په صنعت کې د فولادو د مکدر کولو لپاره او د صابون او ربړ په تولید کې ترې کار اخېستل کېږي. د شرشمو کنجاره ۳۵ سلنه پروټیني مواد لري چې د حیواناتو د خوړو لپاره په کار وړل کېږي. شرشم د شاتو ښه تولیدونکی بوټي دی.د شرشمو تخم د نیمه مضرو تېلو زیات مقدار لري.



## ۰۵ سائبین (Soybean)

علمي نوم یې (Glycine max) دی، د نړۍ له ډېرو مشهورو حبوباتو څخه دی، د خپل هر اړخیز ارزښت له آمله هر کال په ټوله نړۍ کې د ۵۶ میلیون هکتارو څخه په زیاته ځمکه کرل کېږي. د دې بوټي اصلي تولید د هغې دانې دی چې د ۴۵-۳۵ سلنه پورې پروټین او د ۲۶-۱۷ سلنه پورې غوړ لري، چې د پروټینو او نباتي غوړیو مهمه سرچینه جوړوي.

د سائبینو خامو دانو څخه د سابو په توګه کټه اخېستل کېږي او کله هم د سلاد په ډول خوړل کېږي. د پخو دانو څخه یې ډول ډول خواړه تیارولی شو، په صنعت کې ورڅخه شیدې، کوچ، پنیر، چکه او غوړي په لاس راوړي. د خوراکي توکو په ډول برسېره د سائبینو دانې د صنعت د بېلابېلو ډګرونو لپاره ښه توکي جوړوي.

د سائبینو له غوړیو څخه په عطر، د نوکانو د رنګ، سرېښ، ګلیسرین، صابون او شمعې جوړولو کې کار اخېستل کېږي. د Lecithin ماده چې په فرعي توګه د غوړیو په خوا کې په لاس راځي د زیات ارزښت درلودونکې ده. د دې مادې څخه د خوراکي توکو د تولید په صنعت کې د سینګار توکو او درملو په جوړولو کښې د ښه تثبیت کوونکي او محلل په توګه کټه اخېستل کېږي.

د سائبینو کنجاره چې د غوړیو د تولید څخه وروسته لاس ته راځي هم ځو اړخیزه کارول کېږي. د ښې پروټیني محتوا د لرلو له کبله د خوراکي توکو د خامې مادې په توګه ورڅخه کار اخېستل کېږي او اهلي ځارویو د خوراکي لپاره ور څخه ګټه اخلي. د سائبینو کنجاره د کیمیاوي سرې په تولید، د مصنوعي توکو، رنګونو او پلاستیك جوړولو کې کارول کېږي او کاسین ماده هم ورڅخه په لاس راځي.



د سائبینو تر ټولو ډېر حاصل هسپانیه کې (۲.۵۲) ټنه، ایټالیا کې (۲,۵۱) ټنه، کاناډا کې (۲,۲۷) ټنه او ارجنټاین کې (۲,۳۱) ټنه له یو هکتار ځمکې څخه راپور ورکړ شوی دی.

افغانستان کې هم د سائبینو کر دود موندلی او د پروټیني موادو ښه سرچینه جوړوي. افغانستان د جغرافیوي موقعیت له پلوه د سائبینو د کر لپاره ور دی. د څو کالو راپدېخوا افغانان له سائبین بوټي سره آشنا شوي دي.



## ۰۶ مصور (Safflower)

علمي نوم یې (Carthamus tinctorius) دی، د غوړیو داستحصال په خاطر کرل کېږي، خوراکي او صنعتي ارزښت لري. د ښه او باکیفیته فصل دانې یې ۳۲-۲۹سلنه پورې غوړي لري. د مصور بې پوټکي دانو څخه د خوراك غوړ او د پوټکي لرونکو دانو څخه یې د تېلو او تخنیکي غوړیو لبنالیوم د استحصال په منظور ګټه اخېستل کېږي.
مصور د وچوېږ په مقابل کې مقاوم دي، نو هغه د بیدې، سایلج او شنوخوراکو په منظور په هغو للمي ځمکو کې چې د منځنۍ حد اورښتونه لري او نیمه دښتي سیمې دي، کرل کېږي.



## ۰۷ زیتون (Olive)

د زیتون ونه په ټودو سیمو کې چې د مدیترانه اقلیم ولري ښې لاسته راوړنې لري. هبواد کې یې ځنګلونه او باغونه د ننګرهار او کونړ ولایتونو کې لیدل کېږي. د هغه لوړ اقتصادي، طبي او صنعتي ارزښت له مخې چې دغه بوټی یې لري د هبواد په لومړي او دویم پنځه کلن پلان کې (۱۳۵۳-۱۳۴۰ ه ش) او (۱۳۴۵-۱۳۴۱ ه ش) پورې د زیتونو د باغونو کرل د ننګرهار د ناوې د پراختیا په پروژه کې شامل شول چې خلور لوی میکانیزه فارمونه هم په سیمه کې وکرل شوو او وروسته بیا په ۱۳٦٤ل کال کې د هدې سیمه کې د زیتونو د پروسس، اچارو او غوړیو ایستلو یوه مجهزه فابریکه پرانېستل شوه او په کار یې پیل وکړ. د زیتونو باغونه چې په تدریج سره د حاصل ورکولو مرحلې ته رسېږي د هغه میوه راټولوي او دغه فابریکې ته لېږدول کېږي.

د زیتون بوټی د ټول ژوند په دوران کې ډېرې پالنې ته اړتیا لري لکه د خاګنو پرېکول ، ځمکه نرمول په خپل وخت دوا پرې شیندل، اوبه خور او کیمیاوي سره ورکول. کله چې د زیتونو دانې په ونه کې پوره اندازې ته ورسېږي، نو شینوالي کې ځینې یې د اچار جوړولو لپاره فابریکې ته وړل کېږي، خو ځینې نور یې په ځانګړې ډول د غوړیو لپاره ساتل کېږي. د غوړیو د تر لاسه کولو لپاره د زیتونو دانې په ونه کې تر هغه پرېښودل کېږي، چې دانې یې پوره توګه توري شي، بیا پر لاس د ونې څخه راټولېږي او په ځانګروکرېټونو کې فابریکې ته لېږدول کېږي. د زیتونو فابریکه کې د بېلابېلو محلولونو د تېرېدو څخه وروسته د عصري او مدرنو ماشینونو له لارې د فني او مسلکي پرسونل د ځانګړې پاملرنې په واسطه ترې غوړي ویستل کېږي. دغه غوړي ۱۰۰ سلنه خالص طبیعي او خوراکي ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د سوداګریز پلان برخې

مشفق الرحمن محمودی

اوسني ازاد بازار کې د رقابت او سیالۍ کولو لپاره اړینه ده، چې هر متشبث او سوداګر کاروباري فرصت او وخت وپېژني او د هغه د لاسته راوړلو لپاره هر اړخیزه اندونه، طرحې او پلانونه ترتیب کړي، نو اړینه ده چې سوداګریز فرصت په دقیق ډول وپېژندل شي او د تحلیل او ارزونې څخه وروسته یې د عملي کولو لپاره هڅه وشي.

غوره متشبث او سوداګر ته د فرصت پېژندنې څخه وروسته لازمه ده چې د هغې د لاسته راوړلو لپاره په اړینو مالي او بشري سرچینو فکر او په ښه توګه یې ارزونه وکړي، د مالي او بشري سرچینو ترڅنګ د تولیداتي توکو او چوپړتیاو لپاره په بازار موندنه هم فکر وکړي، ځېنې وخت د نوو سوداګریزو چارو د پرمختګ لپاره یواځې د شرکت پانګه بسنه نه کوي او د اړتیا وړ پانګې د لاسته راوړلو لپاره بېلابېلو مالي بنسټونو ته بايد مراجعه وشي، د مالي سرچینو د لاسته راوړلو لپاره باید مالي بنسټونو ته قناعت ورکړل شي او د نوې پانګې اچونې په اړه بايد تفصيلي، تشریحي او قناعت ورکونکي مالومات ورکړل شي، ترڅو پور ورکونکي، پانګوال او سوداګر په بشپړه توګه چمتو شي چې په اړونده برخه کې پانګه اچونه وکړي.

نو پدې بنسټ اړینه ده چې متشبث او سوداګر د اړتیا وړ سرچینو د لاسته راوړلو لپاره او همدارنګه د هغې څخه په راتلونکي کې د ګټې د ارزونې او تمویل کوونکو ته د قناعت په موخه اړینه ده چې سوداګریز پلان جوړ کړي، تر څو د پانګونې یاد شرکت د پرمختګ، مالي او اقتصادي لاسته راوړنو لپاره څرګند او ګام په ګام لارښوونې وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سوداګریز پلان

د ټولو هغو اسنادو ټولګه ده چې د سوداګریز بنسټ یا شرکت د مدیریت له خوا ترتیبیږي، چې مرستې سره یې سوداګریزې کړنې او مالي موخې د نږدې راتلونکې لپاره لنډیز کوي او دا هم روښانه کوي چې په څه ډول دا موخې او کړنې ترسره شي. ښه سوداګریز پلان کولی شي چې رامنځ ته شوي نظرونه او طرحې و ارزوي او په ښه توګه یې عملي کړي، ترڅو څرګند شي چې اړونده توکو ته بازار کې تقاضا او غوښتنه شته او که نشته، نو آیا د دې توکو د تولید لپاره پوره با ظرفیته بشري ځواک لرو؟ څومره مالي سرچینو ته اړتیا ده؟ او داسې نورې مسئلې ...

همدارنګه، سوداګریز پلانونه د عملیاتي پلان په توګه د سوداګرۍ پرمختګ او د عایداتو په زیاتوالي کې مهم رول لري، چې په مرسته یې کېدی شي سوداګریزې طرحې او آندونه د نورو سره شریکې او د طرحو او آندونو د عملي کولو او تمویل لپاره ترې ګټه واخېستل شي.

## د سوداګریز پلان برخې

د سوداګریز پلان جوړښت په ټولیزه توګه په څلورو برخو ویشل کېږي.

- د کاروبار اړوند مالومات • د بازار موندنې پلان
- عملیاتي پلان • مالي پلان

## ۱. د کاروبار اړوند مالومات

دې برخه کې د شرکت یا سوداګریز بنسټ د کاروبار د ډول اړوند په تفصیل او تشریح سربېره د شرکت یا بنسټ اړوند مالومات لیکل کېږي، چې په درېوو بنسټیزو برخو وېشل کېږي.

- د بنسټ یا شرکت اړوند تفصیل او توضیح
- د تولیداتو او چوپړتیاو څرنګوالی • سوداګریز ځای

### د بنسټ یا شرکت اړوند تفصیل

دې برخه کې اړینه ده چې په څرګند ډول د شرکت یا بنسټ ډول (شراکت، محدودالمسؤلیت، انفرادي..)، د شرکت یا بنسټ د کړنو ډول (ساختماني، خدماتي او یا تولیدي...)، د شرکت د چوپړتیاو او تولیداتو اړوند مالومات، په اوږ کې کاري ورځې، کاري وخت او دې ته ورته نور مالومات یاد شي. باید په یاد ولرو چې د کاروبار اړوند مالوماتو برخې څخه د پوښښ پاڼه یا کورشیټ هم شتون لري، چې د شرکت نوم، لوګو، د اړیکو شمېرې، برېښنالیک، وېسایټونه او د شرکت پته په کې یاده شوې وي.

### د تولیداتو او چوپړتیاو څرنګوالی

د سوداګریز پلان دې برخه کې باید کوښښ وشي چې شرکت د خپلو تولیداتو او چوپړتیاو د ګټو په اړه څرګند مالومات شریک کړي، د بېلګې په توګه شرکت کوم ډول چوپړتیاوې او تولیدات وړاندې کوي؟ پېرودونکې څه ډول کولی شي، چې د دې تولیداتو او چوپړتیاو څخه ګټه پورته کړي؟ بازار کې کوم ډول تولیداتو او چوپړتیاو ته اړتیا لیدل کېږي او د شرکت د تولیداتو او چوپړتیاو توپیر د نورو شرکتونو د تولیداتو او چوپړتیاو سره په څه کې دي او داسې نور مالومات؟ ترڅو د پېرودونکو د خوښې او بازار کې د سیالۍ کولو جوګه شي.

### سوداګریز ځای (موقعیت):

سوداګریز ځای ټاکنه د کاروبار په بریا او ناکامۍ کې بنسټیز او رغنده ونډه لري. دې برخه کې باید یادونه وشي چې د تولیداتو د خرڅلاو لپاره څه ډول چاپېریال، سیمې او وداڼۍ ته اړتیا ده چې پېرودونکې ورته لاس رسی ولري او همدارنګه کوم ډول ټرانسپورټ او اړوندې آسانتیاوې دي په پام کې دي ونیول شي؟

## ۲. د بازار موندنې پلان:

پېرودونکو ته د توکو او چوپړتیاو د کاروونې اړوند ځانګړتیاوو او مالوماتو د پېژندنې لپاره اړینه ده، چې د بازار موندنې پلان جوړ شي، کوم چې د توکو د خرڅلاو او د کاروبار پرمختګ کې بنسټیزه ونډه لري. لومړی باید پېرودونکې په ځیر سره د عمر، جنسیت، عاید، د پوهې کچې، استوګنځای او نورو ځانګړتیاوو پر بنسټ وپېژندل شي او وروسته ټول هغه پېرودونکې په نښه شي، چې د تولیداتو او چوپړتیاو پلور کې ترې تر ډېره حده تمه ساتل کېږي. د بازار موندنې پلان د جوړولو پر مهال ځینې ټکي باید پام کې ونیول شي لکه، د لګښتې توکي او چوپړتیاو د پېرودونکو پېژندنه، د پېرېدونکو علاقه، سلیقه او غوښتنې، د توکو او چوپړتیاو څخه د ګټې اخېستنې پر مهال د پېرودونکو او لګښت کوونکو هیلې او تمې او د دی ترڅنګ د پلان دې برخه کې لاندې پوښتنو ته هم باید ځواب ورکړل شي.

### بازار کې شته سیالي او رقابتونه:

د بازار موندنې د پلان جوړونې برخه کې باید بازار کې د شته توکو او چوپړتیاو په اړه پراخه او دقیقه شننه او پلټنه وشي، ترڅو روښانه شي چې د اړونده توکو د خرڅلاو لپاره بازار کې رقابت کوونکې شتون لري؟ د سیالۍ کوونکو کاروبار کوم حالت کې ځای لري او دې ته ورته نور اړین مالومات لکه د توکو اوچوپړتیاو توپیر د سیالۍ کوونکو د توکو او چوپړتیاو سره او همدارنګه بازار څخه رقابت او سیالۍ کوونکو اړوند اړین مالومات راټول شي او د هغوی د کمزورۍ او قوت ټکي په ګوته شي.

### د توکو د خرڅلاو او بیې ټاکنه:

د خرڅلاو وړ بیه د توکو او چوپړتیاو د بازار موندنې او سیالۍ برخه کې بنسټیز رول لري، د توکو او چوپړتیاو وړ بیه ټاکل او د خرڅلاو غوره ستراتېژۍ د شرکت د تولیداتو او چوپړتیاو د بازار موندنې او پرمختګ لپاره تر ټولو غوره وسیله ګڼل کېږي.

### سوداګریزې خبرتیاوې او عامه اړیکې:

سوداګریزې خبرتیاوې او عامه اړیکې ټولې هغه برخې رانغاړي کومې چې د بېلابېلو رسنیزو وسائلو په مرسته د توکو اوتولیداتو کاروونې اړوند مالومات د پېرودونکو او لګښت کوونکو سره شریکوي، ترڅو وشو کولی د تولیداتو او چوپړتیاو د څرنګوالي او ځانګړتیاوو په اړه وړ او پر وخت مالوماتو څخه اړوند پېرودونکي خبر شي. دلته باید هغه رسنیزې لارې کومې چې ټاکل شوې بازار او په نښه شوو پېرودونکو ته د تولیداتي توکو او چوپړتیاو پیغام په رسولو کې تر ټولو زیات تاثیر لري، د سوداګریزو خبرتیاوو او عامه اړیکو لپاره وټاکل شي.

د دې ترڅنګ دا هم ډېره اړینه ګڼل کېږي، چې د سوداګریزو خبرتیاوو د خپراوي او په نښه شوو پېرودونکو سره د اړیکې لپاره باید د وړ رسنۍ څخه ګټه واخېستل شي، ترڅو د توکو، چوپړتیاو او تولیداتو اړوند مالومات او پیغام په سمه توګه ور ورسول شي او د بازار موندنې د خبرتیاوو د خپراوي موده او وخت او دېته ورته نور اړوند موضوعات هم په همدې برخه کې شاملېږي.

## ۳. مدیریتي او اداري پلان:

مدیریت او اداره د سوداګرۍ او کاروبار پرمختګ کې خورا اړین رول لري، سوداګریز پرمختګ او بریالیتوب د کارکوونکو د منظمې اداري او مالي مدیریت پورې تړلی دی. دې برخه کې اړینه ده، چې یې یادونه وشي، چې کاروبار د چا په لاس پرمخ وړل کېږي، که کاروبار د انفرادي متشبث له لارې پر مخ وړل کېږي، باید خپلې وړتیاوې په اړونده برخه کې په ګوته کړي او همدارنګه دا هم باید یاد شي، چې په اړونده برخه کې څه ډول مرستې ته اړتیا لري.

که چېرې د کاروبار جوړښت یا بڼه د شراکت پر بنسټ وي، نو باید اړوند مالومات شریک شي او د ټاکل شوېو شریکوالو د چارو او د کاروبار پرمختګ کې د دوی ونډه، کاري تجربه، پخوانۍ دندې، مسؤلیتونه، ظرفیت او پوهې اړوند اسناد او مالومات ځای پر ځای شي.

د مدیریتي او اداري پلان په جوړښت کې باید لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړل شي: پخوانۍ کاروباري تجربې تر کومه بریده دې برخه کې مرسته کولی شي؟ پدې اړه د کمزورۍ ټکي کوم دي او څرنګه یې مجرا کولی شو؟ د شرکت مدیریت او رهبرۍ کې باید څوک ځای ولري، د دوی دندې او مسولیتونه څه دي؟ د مدیریت او اداري د قوت او کمزورۍ ټکي کوم دي؟ او په کومه کچه تنخواګانې او نور امتیازات باید ورکړل شي او داسې نورو پوښتنو ته باید ځواب ورکړل شي.

## ٤. مالي پلان:

غوره مالي مدیریت د شرکت د ګټې او عاید د زیاتوالي لامل ګرځي، هر متشبث او سوداګر پدې هڅه کې دی، چې مالي سرچینې په ښه توګه منظمې او ور څخه له ټولو ډېره ګټه پورته کړي. یو متشبث او سوداګر ته اړینه ده چې د غوره مالي مدیریت لپاره پالیسي جوړه او د هغې په پلي کولو کې کوټلي اجراات وکړي، د مالي پلان دې برخه کې د تمویل او مالي حسابونو اړوند، لاندې ټکي باید په پام کې ولرو: د کاروبار د پېل لپاره ټول ټال څومره پانګې اچونې ته اړتیا ده؟ څه ډول او څرنګه باید پانګه وکارول شي؟ څومره پور ته اړتیا لیدل کېږي او همدارنګه د پور شویبو پیسو بیا ورکړه باید کله اوڅه ډول ترسره شي؟ د راتلونکې کال لپاره باید په کومه کچه تولیدات ولرو اوهمدارنګه په کومه کچه باید دتولیداتي توکو او چوپړتیاو خرڅلاو وشي، ترڅو د شرکت لګښتونه جبران او ګټه ترلاسه کړو؟

د مالي پلان دې برخه کې باید ټول اړوند مالي اسناد او د تېرو کلونو بېلانسونه، حسابونه او د اړتیا پر مهال د راتلونکې کلونو لپاره فرضي بېلانسونه او مالي حسابونه ترتیب او ښودل کېږي، که چېرې کاروبار پخوانی وي، نو باید د تېرو څو کلونو مالیاتي اظهارنامې او اړوند مالي حسابونه هم وښودل شي او همدارنګه د شرکت د عاید ګټې، لګښتونو او خرڅلاو اړونده وړاندوینه او احتمالي ارزونې هم وښودل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رسمي پورونه د بزګرانو عوايد لوړوي او د کرنې د پراختيا لامل ګرځي


پوهنمل مسعود موحد | د ننګرهار پوهنتون د کرنيز اقتصاد څانګې استاد



کرنه او مالداري د هېواد اقتصاد کې ډېر ارزښت لري، ځکه د کرنې سکتور د ملي ناخالص عايد شاوخوا دوه ويشت سلنه جوړوي. له دې پرته د نړېوال بانک د اوسنېو راپورونو پر بنسټ افغانستان کې کرنه او مالداري د شاوخوا ۴۴ سلنه کورنېو د عايد ستره سرچينه ده، ځکه نو دي سکتور هېواد کې ډېرو خلکو ته د کار زمينه رامنځته کړېده. پردې برسېره دا سکتور د خوړو په خونديتوب کې هم رول لري. که څه هم زمونږ هېواد لا تراوسه د خوړو توليد کې پر ځان بسيا نه دی، خو بيا هم د کرنې سکتور تر ډېره بريده د افغانستان خلکو ته خواړه برابروي. د هېواد اقتصاد کې د کرنې ارزښت له دې هم مالومېدی شي، چې د اتيا سلنه شاوخوا صادرات مو له همدې سکتوره دي. د افغانستان تازه او وچې مېوې، سبزيجات او ځېنې نور لوړ ارزښت لرونکي کرنيز توکي لکه زعفران بهرنېو هېوادونو ته لېږدول کېږي، چې له امله يې نه يوازې بهرني اسعار ترلاسه کېږي، بلکې هېواد ته مو لوي افتخار او وياړ رابخښي.

د کرنې سکتور د ارزښت پام کې نيولو سره په تېرو دوو لسيزو کې د دې سکتور د پراختيا لپاره ډېر کار تر سره شو. ډول ډول پروژې او پروګرامونه پلي شول، چې پابله کې د کرنې د سکتور په ځينو برخو کې د پام وړ پرمختګ رامنځته شو. د هېواد ختيځه سيمه کې په ځانګړي ډول ننګرهار ولايت کې د سبزيجاتو توليد ډېر شو، د هېواد په ځېنو نورو ولايتونو کې د بڼ ساتنې توکو پراختيا وموندله، هرات کې د زعفرانو توليد ترويج شو، باميانو کې د الوګانو د توليد کچه لوړه شوه. همدارنګه د چرګانو او د مالدارۍ نورو محصولاتو برخه کې د پام وړ زياتوالی رامنځته شو.

له بده مرغه اوس هم زمونږ د کرنې سکتور د وروسته پاتې او عنعنوي کرنې پنوم پېژندل کېږي. د يوې ټوټې ځمکې حاصل د نورو هېوادونو په پرتله ډېر لږ دی. بزګران او مال لرونکي مو د کرنيزو توکو د پلور برخه کې ډېرې ستونزې لري. د کرنې او مالدارۍ څخه عوايد ډېر لږ لاسته راځي، چې بزګران او مال لرونکي مو نشي کولی، خپل ژوند پرې په سم ډول وړاندې بوځي او پېسې سپما کړي. زمونږ بزګران او څاروي په ټوله کې د توليدي عواملو لکه سرې، کېمياوي توکو، کرنيزو ابزارو او نورو اړينو توکو برابرولو کې ستونزې لري. دغه ستونزې په ټوله کې پانګې ته د نه لاسرسي له امله دي. بزګران او مال لرونکي ځينې وخت اړ کېږي، چې کرنې ته شا کړي او نورو سکتورونو کې د کار په لټه شي، خو دا چې هېواد کې نور سکتورونه لکه د صنعت سکتور دومره پرمختللي نه دي، چې په لوي شمېر خلک جذب کړي، ځکه نو د غربت او بې وزلۍ کچه لوړېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


علمي څېړنو او نورو هېوادونو تجربو ښودلې چې رسمي پورونو ته لاسرسی کولی شي د بزګرانو سره د تولیدي لاملونو او ابزارو برابرولو کې ډېره مرسته وکړي او د دوي تولیدات او عواید لوړ کړي. رسمي پورونو ته لاسرسی همدا راز بزګرانو او مالدارانو سره د بازار موندنې برخه کې هم مرسته کولی شي. کرنه لکه د نورو سکټورونو په شان نه ده، ځکه د کرنې سکټور کې د پانګې بهیر ډېر ورو وي او موسمي ځانګړتیاوې لري. بزګران د یوه کال بهیر کې نه شي کولی هره اوونۍ یا هره میاشت عواید ولري، دوي یو کال کې یو ځل،



دوه ځل او ندرتاً درې ځلې محصولات راټولولی شي او بازار کې یې پلوري، ترڅو د خپلې خوارۍ او پانګوونې ګټه ترلاسه کړي. د تمې سره ناسم دوي د ټول کال بهیر کې د خپلو کروندو او کورنیو لپاره لګښتونو ته اړتیا لري. معمولاً د فصل د کرلو څخه تر حاصل راټولولو پورې بزګران له کرنې عواید نه لري، خو لګښتونه لري. د کرنیز سکټور د دغې ځانګړتیا له امله د پانګې او پورونو د برابرولو لپاره ورته ډېره اړتیا لیدل کېږي. د بزګرانو او کرنیز سکټور د دې ستونزې پام کې نیولو سره په تېرو دوه لسیزو کې د پور برابرولو بېلابېل پروګرامونه پلي شوي دي.

د کوچنیو پورونو موسساتو، بانکونو او نورو مالي ادارو بو شمېر بزګرانو ته پورونه برابر کړي دي، همدارنګه د کرنیزې پرمختیا صندوق تر اوسه څه له پاسه لس میلیارده افغانۍ پورونه ورکړي دي. خو پانګې او پورونو ته د کرنیز سکټور د غوښتنې په پرتله دا پورونه ډېر زیات کم دي. د شته مالي موسساتو او ادارو پوښښ هم ډېر کم تر سترګو کېږي. همدارنګه زمونږ بزګران، په ځانګړې ډول هغه چې په لرې پرتو سیمو کې استوګن دي، د رسمي پورونو د پروګرامونو څخه ناخبره دي. یو شمېر یې د پوهې کچې د کموالي له امله د پور د اخېستلو بهیرونه نه شي ترسره کولی. ځینې یې تضمین او د ځمکې قباله نه شي برابرولی، ترڅو پور پرې ترلاسه کړي. ډېر شمېر خلک د دیني اعتقاد له امله په رسمي پورونو بدګمانه دي او فکر کوي چې رسمي پورونه د سود (ربا) پر بنسټ ورکول کېږي او ترلاسه کول یا کارول یې د ګناه سبب ګرځي.

د پورته ستونزو له امله زمونږ زیار کښه بزګران یا بې پانګې پاتې کېږي او یا هم غیر رسمي پورونو ته مخه کوي. که بزګران په خپلو کروندو کې که څه هم ډېره خواري وکړي، خو لازمه پانګونه ونه کړي، د دوي خواري به دومره پایله ونلري، خو که چېرې یې خواري له لازمې پانګونې سره مل

شي، تولید او عاید یې لوړیږي. د مرکزي احصائیې د یوې سروې راپور پر بنسټ د هېواد کلیوالي سیمو کې (۴۲) سلنه کورنۍ پر غیر رسمي پورونو تکیه کوي. غیر رسمي پورونه زمونږ هېواد کې په دوه ډوله دي. لومړی ډول یې هغه پورونه دي چې د مرستې او همکارۍ پر بنسټ ورکول کېږي لکه چې د خپلوانو، شتمنو خلکو او ګاونډیانو څخه ترلاسه کېږي. دوهم ډول یې هغه پورونه دي چې معاملاتي او کاروباري اړخ لري، لکه چې د تولیدي عواملو برابروونکو، سود خورونکو، هټۍ والو، د کرنیزو محصولاتو کاروباریانو او ځینو نورو

ډلو او خلکو لخوا برابریږي. یو شمېر بزګران کله چې لویو پورونو ته اړتیا ولري، خپله غیرمنقوله دارایي (لکه ځمکه او کور) په اجاره ورکوي. غیر رسمي پورونه کېدی شي په ځینې برخو کې بزګرانو سره مرسته وکړي، خو په ټوله کې دغه پورونه د کم وخت لپاره وي. هغه غیر رسمي پورونه چې معاملاتي او کاروباري اړخ لري، بزګرانو ته په ډېره لوړه بیه تمامیږي. د بېلګې په ډول هېواد کې د چرګانو د تولیدي لاملونو برابروونکي پور اخېستونکو فارم لرونکو ته د چرګانو روزنې تولیدي لاملونه لکه یو ورځنې چرګوړي، دانه او درمل د بازار د بیې په پرتله په ډېره لوړه بیه په پور ورکوي. له لوړې بیې سربېره، غیر رسمي پورونه د ځینو ټولنیزو ستونزو لکه نزاع او جنګونو سبب هم ګرځي. د غیر رسمي پور اخېستلو او کارولو په وخت بزګران د ټیټوالي احساس کوي او کله یې شخصیت ته هم زیان رسیږي، خو دغه ستونزې بیا په رسمي پورونو کې نه وي. د رسمي پور اخېستلو په وخت بزګران

یوې رسمي ځانګې ته ورځي او د ټولو شرطونو په پوهېدو، پور ورکوونکې سره ترون ترسره کوي، رسمي فورمونه او پاڼې ډکوي او لاسلیکوي یې، شخصیت ته یې هېڅ زیان نه رسیږي. هېواد کې د پورونو برابرولو اوسنۍ موسسې او ادارې له یوې خوا ډېر کم پوښښ لري او د کوچنیو بزګرانو ګډون ورسره کم دی، خو له بلې خوا له نېکه مرغه د کرنیزې پرمختیا صندوق په ګډون ډېرې شمېر مالي ادارې او بانکونه اوس پورونه د اسلامي اصولو پر بنسټ وړاندې کوي. دا چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی او دلته خلک د اسلام د سپېڅلي دین پر بنسټ خپل ژوند مخته بیايي او دیني ارزښتونو ته پر خپلو وټه ایزو وسایلو غوره والی ورکوي، ځکه نو ډېره اړینه ده چې پورونه باید له سود او ګناه پاک واوسي.

مونږ باید هم مهاله هم د کرنې برخه کې پرمختګ وکړو او هم خپل دیني ارزښتونه وساتو. د اسلامي اصولو پر بنسټ کرنیز پورونه که څه هم افغانستان کې نوي دي، خو په نورو اسلامي هېوادونو کې یې ډېره ښه پایله ترلاسه کړې ده، بزګران او مال لرونکي ورڅخه ډېر خوښ دي. اسلامي پورونه ډېر ډولونه لري، لکه مرابحه، مزارعه، سلم او داسې نور، چې د کرنیزې سوداګرۍ سکټور د ځانګړتیاوو سره سمون خوري او ښه پایله لرلی شي. تر هر څه وړاندې باید د کرنیزو پورونو برخه کې د بزګرانو او مالدارانو پوهاوی ډېر شي.

دوی باید پر دې وپوهېږي چې له کوم ځایه او په کومو شرطونو پورونه ترلاسه کړي. دوی باید همداراز د پورونو په ښه توګه او پر ځای کارولو وپوهېږي، ترڅو په ښه ډول او پر وخت یې بېرته ورکړي. د کرنې وزارت، بانکونه، مالي موسسې، په ځانګړې ډول د کرنیزې پرمختیا صندوق باید د چارو سیمې او پوښښ پراخه کړي، ترڅو ډېر بزګران او مال لرونکي ترې ګټه پورته کړي. دوی باید لرې پرتو کلیوالي سیمو او ډېرو ولایتونو ته چوپړتیاوې ورسوي، کرنه د ښارونو په پرتله ډېره په کلیو کې ترسره کېږي. د پورته ټکو سره سره ډېره اړینه دا ده چې اسلامي پورونه ترویج شي، بزګران او مال لرونکي پرې وپوهېږي او پر ارزښت یې پوه شي. له دې سره به د دوي ترمنځه د پورونو په اړه لېوالتیا زیاته شي. ډېر شمېر به پورونو ته زړه ښه کړي، هېواد کې په کرنه به د پانګونې کچه لوړه شي، د خواریکښو بزګرانو او مالدارانو په جېب کې به پیسې ډېرې شي، د پرمختللې کرنې پر مټ به مو هېواد پدې برخه کې پرمخ ولاړ شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تخيل رنګين الهام

## غزل

محمد نادر دانش

په زوره زوره مې وهي د زړګي ور څوک دی؟
باید د سیمې د اقلیم سره توافق ولري، ترڅو ډېر حاصل ورکړي، د ناروغیو او آفتونو مقابل کې مقاوم وي، تخم باید سوچه وي، د حاصل ټولول یې آسانه وي، تر ټولو اړین چې د ښه کېفیت او مارکېټ درلودونکی وي او د کښت څخه مخکې یو د دغه فنګس وژونکو لکه تیرام، ویټاواکس او سورسان سره معامله شي. پنبه کولی شي چې د بېلابېلو چاپېریالونو شرایطو سره ځان جوړ او ځېل حاصل ډېر کړي، نو ځکه پنبه د هیواد په ختیځو، سویل ختیځو او لویدیځو سیمو کې د غنمو د حاصلاتو له ټولولو وروسته کرل کېږي، خو بغلان، کندوز، تخار، فاریاب او بلخ کې یې د کښت وړ وخت د وري له ۱۵ د غبرګولي تر ۱۵ پورې دی.



تراکتور یا نورو وسایلو له لارې په پوره اندازه سره او تخم په یوځای کارول کېږي. په هرجریب ځمکه کې ۲ کیلوګرامه تخم کرل کېږي او د دوو بوټو ترمنځ ۲۰ څخه تر ۲۵ سانتي متره واټن پرېښودل کېږي او په هر سوري کې د ۵ څخه تر ۸ سانتي متره ژوروالي سره یوازې یو دانه تخم اچول کېږي. افغانستان کې کروندګر په معمولي توګه د دوه ډوله سرې څخه ګټه اخلي چې عبارت دي له: ډي ای پي او یوریا څخه. د پنبې د کښت لپاره معمولاً په هرجریب ځمکه کې ۲۵ کیلوګرامه ډي ای پي، ۵۰ کیلوګرامه یوریا او ۵۰ کیلوګرامه پوټاشیم سلفیټ کارول کېږي. په عمومي توګه دځمکې دآماده کولو په وخت کې ۳۰٪ څخه تر ۴۰٪ پورې توره او سپینه سره کارول کېږي، ۲۰٪ سپینه سره په لومړي ځل اوبوخور کې کارول کېږي، او د لومړني ګل ترغوړېدو ورسته ۴۰ څخه تر ۵۰٪ پورې سپینه سره کارول کېږي.

دجویه کښۍ او خطي طریقودکښت په صورت کې په عمومي توګه لومړی ځل خروب دکښت دشپږمې او اوومې اونۍ څخه وروسته ترسره کېږي. دوهم ځل اوبوخور د لومړي اوبوخور څخه ۱۵-۱۰ ورځې وروسته ترسره کېږي دریم او وروسته نورې اوبه خورې د خاورې په ځانګړتیا او اقلیمي وضعې پورې اړه لري. د حاصل د راټولولوڅخه پوره یوه میاشت مخکې باید اوبه خور بند شي، خو د تخم شیندلو په طریقه کې باید د ځمکې د وتره کېدو لپاره د کښت ځای اوبه خور شي، چې لومړی ځل اوبخور د ۵۰-۴۵ ورځو وروسته له کرلو ترسره کېږي.

دوهم او دریم ځل اوبه خور د خاورې په ډول او اقلیمي شرایطو پورې اړه لري، خو په ټاکلې اندازه د لنده بل شتون د ودې په حساسو مرحلوکې د غوزې په تشکیل او په ټولیزه توګه د حاصل په زیاتوالي مثبت اغېز لري، له بل پلوه د لنده بل د نه شتون په صورت کې کېدای شي یو په دریمه برخې په اندازه حاصلات کم شي. په عمومي ډول سره ویلی شو چې د پنبې بوټي د ټول ژوند په بهیر کې نږدې ۵۰۰ ملي لېتره اوبو ته اړتیا لري، چې په ځینو سیمو او شرایطو کې ددې بوټي د اوبو اندازه د ۳۶۰ څخه تر ۹۰۰ ملي لېتره پورې ټاکل شوې ده. دبېکاره یا هرزه بوټو لرې کول د ۲۰-۱۵ ورځو وروسته له کښت څخه پیلېږي. د پنبې خپشاوښ ته نه پاملرنه او د هغه ځنډول هرومرو بوټي زیانمنوي. بناً د بېکاره بوټو ایستل او پر وخت سره د هغوی مخنیوی د بېلابېلو ناروغیو او آفتونو د مخنیوي لپاره اړین کار دی. څېړنو ښودلې چې بېکاره بوټي د اوبو په جذب، خوراکي موادو او لمر د وړانګو اخیستلو کې د پنبې له بوټي سره سیالي کوي چې دا کار د پنبې په حاصلاتو کې د ۳۰-۲۰ سلنه پورې کم والی راولي. د هرزه وښو د مخنیوي لپاره بېلابېلې لارې چارې موجودې دي لکه کرنیزې لارې، میخانیکي لارې، فزیکي لارې، بیولوژیکي لارې او ورستي یې کیمیاوي مخنیوی دی، چې د دې لارو څخه په ګټه اخیستنه بزګر کولی شي، د مضره بوټو څخه په ښه ډول مخنیوی وکړي.

**په افغانستان کی پنبه معمولاً په دریو لارو سره کرل کېږي چې عبارت دي له: دتخم شیندلو طریقه، د تخم کرل په جویه یا پوشته باندې او په خطي طریقه سره کښت کول چې هره یوه لاره به یې په لنډ ډول لاندې تشریح شي:**

■ **۱. د تخم د شیندلو لار:** افغانستان کې تر ټولو عامه لاره ده. په دې سیستم کې اول ځمکه اوبه کېږي ورپسې قلبه ده، تر قلبه کولو وروسته بیا تخم دلاس په واسطه سره په قلبه شوی ځمکه کې پاشل کېږي. بیا د تراکتور یا غوایانو په واسطه سره ماله یا هوارېږي. دې سیستم کې د بوټو او قطارونو ترمنځ فاصله په پام کې نه نیول کېږي او د یوجریب ځمکې لپاره ۱۵ کیلوګرامه تخم ته اړتیا ده.

■ **۲. د تخم کرل په جویه یا پشته باندې:** دې سیستم کې تر هر څه د مخه ځمکه ښه هوارېږي، ورسته ۱۲ کیلوګرامه ډي ای پي او ۲۰ کیلوګرامه یوریا په هرجریب ځمکه کې شیندل کېږي ورپسې یو یا دوه ځلې په ۹ پال قلبه سره وهل کېږي. پدې سیستم کې د دوه پشتو یا جویو ترمنځ واټن د ۷۰ څخه تر ۸۰ سانتي مترو او ژوروالی یې د ۲۵ څخه تر ۳۰ سانتي مترو پورې وي. چې جویې باید د ختیځ څخه د لوېدیځ په لور پرتې وي. د تخم مقدار د هر جریب لپاره ۳ کیلوګرامه ده. د دوو بوټو ترمنځ د ۲۵ څخه تر ۳۰ سانتي مترو واټن اټکل شوی ده. په هرځای کې به د ۵ څخه تر ۸ سانتي مترو ژوروالي سره ۲ یا ۳ دانې تخمونه اچول کېږي.

■ **۳. خطي طریقه:** پدې سیستم کې هم په لومړي سر کې ځمکه ښه هوارېږي او بیا د مجهز

## دپنبې حاصلاتو ټولول

هغه وخت پیلېږي چې ۶۰ سلنه شاوخوا غوزې غوړېدلې وي، دوهم او دریم ځل ټولول د ۱۰- ۲۰ ورځو په ځنډ سره پیلېږي. یوکس په یوازې ځان کولی شي د یوجریب کرنیزې ځمکې څخه د ۶۰-۴۰ ساعتونو په اوږدوکې پنبه ټوله کړي. د پنبې د ټولولو پر مهال باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي.

۱. د پنبې ټولونکی باید ځانګړې ځان ساتونکې جامې په تن ولري. ۲. د پنبې د ټولولو لپاره باید له نخي بوجیو څخه کار واخېستل شي. ۳. د پنبې ټولول باید د ورځې لس بجې شاوخوا پیل شي. ۴. پنبه باید په منظم او مسلکي توګه ټوله شي. ۵. هر ځل ټوله شوي پنبه باید په جلا ډول سره زیرمه شي، ځکه چې لومړی ځل ټوله شوې پنبه د کیفیت له نظره ښه وي. ۶. دپنبې ټولول باید د بوټي د لاندې برخې څخه پیل شي. ۷. دانه لرونکې پنبه باید تر حاصل ټولولو وروسته د یو څه وخت لپاره په وچ ځای کې وساتل شي. ۸. کله چې پنبه بسته بندي کېږي، نو اضافي توکي لکه د پنبې مړې غوزې، نابالغه غوزې، وېښته، پاڼي او نور بېکاره توکي باید ترې ټول او لرې شي. ۹. پنبه باید په وچ ځای کې وساتل شي او ډېر فشار پرې رانشي، ځکه چې د زیات فشار له امله کېفیت یې خرابېږي. په یو مترمکعب ځای کې باید ۱۱۴ کیلوګرامه دانه داره پنبه ذېرمه شي. ۱۰. دانه داره پنبه باید ژر تر ژره پروسس شي.

**دپنبې بوټی د بېلابېلو ناروغیو لکه فنګسي، باکتریایي، ویروسي او نیماتودي ناروغیو ترحملې لاندې راځي، خو د ناروغیو شدت او خپریدل د بوټي تر محیطي شرایطو او حساسیت پورې اړه او توپیر لري.**

د پنبې کښت هرکال د ناروغیو او آفتونو له امله د ډېر زیان سره مخامخ کېږي لکه ورټیسلملې او فیوزاریمي ناروغۍ، دقرغني ناروغۍ، نباتي سپږې، سپین رنګي مچان او داسې نوري ناروغۍ او آفتونه د پنبې حاصلات کموي. چې ددې ناروغیو او آفتونو د مخنیوي لپاره بېلابېلې لارې موجودې دي، لکه میخانیکي، کرنیزې، بیولوژیکي او کیمیاوي لارې چې د دې په واسطه ددې ناروغیو او آفتونو څخه مخنیوی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د چرګانو له هګېو د سالمونیا باکتریا جلا کول

پوهندوی محمد ناظر فیصل

له دې څېړنې څخه موخه دا ده چې د هګۍ دننه او بهر کې د سالمونیلا میکروب شتون ثابت کړل شي. هګۍ یوه ښه باکیفیته خوراکي ماده ده، چې خیل جوړښت کې بېلابېل خوراکي توکي او ویټامینونه لري او د یو بېلانس شوي خوراک په ډول انسان تربنه په ښه ډول ګټه پورته کوي، د چرګانو هګېو کارونه چې په ټولو ادیانو او مذهبونو کې کوم هیڅ اختلاف نلري په نړیواله کچه کارول کېږي او د پوره خوراک یوه ستره برخه جوړوي.

سالمونیلا یو ګرام منفي باکتریا ده چې د بېلابېلو خوراکي توکو د ککړتیا لامل ګرځي، یو له دغو خوراکي توکو څخه هګۍ ده چې هغه هم د سالمونیلا له امله ککړېږي او د ناروغۍ لامل ګرځي، دې څېړنه کې ټولې ۳۰ هګۍ چې ۱۰ هګۍ دحبیب حسام پولټري فارم، ۱۰ هګۍ له کلیوالي چرګو او ۱۰ هګۍ د قزاقستان هېواد څخه رالېږدول شوي وې او د ننګرهار، جلال اباد ښار د بېلابېلو دوکانونو څخه اخېستل شوي وې او د وترنرۍ پوهنځي د مایکروبیولوژي لابرارتوار ته لېږدول شوي وې او دا نښې په (S.S Agar) میډیا کې کلچر شوې.

پایله کې په درېو واړو ګروپونو کې یوه نښه هم د سالمونیلا مثبته نشوه او نور مایکرو اورګانیزمونه د Shigella په نوم باکتریاوو په کې شتون درلود، چې هغه ډېره د هګۍ د پوښ د پاسه میکروبونه وو او د قزاقي هګېو په پوښ کې ولیدل شوې کومې څېړنې چې د چرګانو هګېو کې د سالمونیلا د تجرید په موخه ترسره شوې وې، نو سالمونیلا د نورو مایکرو اورګانیزمونو په پرتله یکې په ټیټه کچه شتون درلود. نو دې څېړنې هم دا جوته کړه، چې سالمونیلا د چرګانو هګېو کې شتون نه درلود او نور مایکرو اورګانیزمونه یکې شتون درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هګیو فارم او بهرنیو مارکېټونو کې موجودې د سالمونیلا ډول د هګیو ککړتیا رامنځته کوي او هغه ځایونو کې چې تولیدات ورکوي، شاید د افقي او عمودي له لارې لېږدول منځته راشي، د افقي لېږد څخه موخه دهګۍ زیړ، سپین او د هګۍ د پوښ ککړتیا ده او کله چې عمودي لېږد منځته راځي، د هګۍ اچونې بهیر کې او یا وروسته د هګۍ اچونې څخه رامنځته کېږي.




په هرحال کولی شو چې هګۍ د خوراکي توکو په ناروغۍ کې ګډې کړو. د چرګانو کولمو کانال د سالمونیلا د ډولونو لپاره یوه غټه لېږدونکې برخه ده چې انسان په ناروغۍ اخته کوي.
په خوراکي توکو کې د سالمونیلا بکتریا یوه زونو ټیکه ناروغي رامنځته کوي، چې ستر وټیز (اقتصادي) زیانونه راوړی شي او ځینو وختونو کې د مرګ لامل هم کېږي. د چرګانو تولیدات په منځنۍ کچه د سالمونیلا د ډولونو له لارې ککړېږي او نښې یې پکې لیدل کېږي.
سالمونیلا لرونکي خوراکي توکي د انسانانو لپاره د زهرجنو ځانګړتیاو لرونکې دي او هغه کسانو کې چې د پولټري تولیدات څخه ګټه پورته کوي، رامنځته کېږي.
د سالمونیلا د سیرو ټایپونو په ډ له کې د Salmonella Enteritidis یوه ځانګړنه دا ده، چې انسانانو کې کلینیکي نښې ښکاره کوي. امریکا کې Salmonella Enteritidis ټایپ (۴) لاملونه د ناروغۍ په مالومو سیمو کې رامنځته شوي دي. په هر حال جاپان کې ۱۹۸۹ نه تر ۱۹۹۳ کال پورې ۳۲.۴ سلنه د پېښو پابله کې څرګنده شوه، چې ځینې خوراکي توکي د سالمونیلا له امله ککړ شوي وو، د خوړو وړ نه وه او زهرجن ښکارېدل.
دا څرګنده ده چې سالمونیلا د خوراکي توکو له لارې لېږدونکی پاتوجن دی او حېوانات د دې پاتوجن بنسټیز مخزن دی.

دهګیو زېرمو کې د سالمونیلا د ډولونو د شتون پر بنسټ د هګۍ زیړ او سپین کتل شوي وو، چې بیا په Hekton Enteric aga د سالمونیلا د ډولونو د پېژندلو په موخه کارول شوي وي، ټاکنیزه میډیا یې جلا کړې وه او په ډېره کچه

Polyvalentantisera د سالمونیلا د پېژندلو لپاره کار کړي وو. پېښې ښکاره شوي چې ۲۹.۳۶ سلنه او ۳۸.۳۸ سلنه د هګۍ پوښ کې ۱۰.۳۱ سلنه او ۱۵.۰۷ سلنه د هګۍ دننني جوړښت کې او ۲۸.۷۸ سلنه او ۴۳.۹۳ سلنه د هګۍ زېرمو کې د چرګانو فارم او بهرنیو مارکېټونو کې په ترتیب سره دغه پېښې د سالمونیلا هګیو کې ولیدل شول.

**موخې:**

**۱- دهګۍ له زیړو، سپینو او پوښ څخه دسالمونیلا باکتریا تجرید کول توکي او کړنلاره :**

**د نښو شمېر او کچه**

دې څېړنه کې ټولې ۳۰ هګۍ تر څېړنې لاندې نیول شوې وې، چې ۱۰ نښې د حبیب حسام چرګانو فارم، ۱۰ نښې د کلیوالي چرګو هګۍ او ۱۰ نښې له قزاقستانه راوړل شویو څخه وې. د پورته فارمونو څخه په اټکلي ډول د هر فارم څخه لس لس نښې راټولې شوې وې او په لاندې کلچر میډیاګانو کې کلچر شوې.

**پابله:**

دې څېړنه کې ټولې ۳۰ نښې تر څېړنې لاندې نیول شوې چې له دوي څخه ۱۰ نښې د حبیب حسام چرګانو فارم او ۱۰ نښې د کلي والي چرګو هګۍ او ۱۰ د قزاقستان څخه د راوړل شویو هګیو څخه وې، چې یادې نښې د جلال اباد ښار د هګیو خرڅونکو دوکانونو څخه راټولې کړل شوې وې او د وترنرۍ پوهنځي په مایکروبیولوژي لابراتوار کې تر ازموینې لاندې ونیول شوې چې پابله کې د دریو واړو ګروپونو څخه کومه نښه کې سالمونیلا ونه لیدل شوه او نور مایکرو اوګانیزمونه لکه Shigella پکې موجود وه او سالمونیلا د سلنې له پامه صفر اعشاریه صفر کېږي.

لاندې جدول کې هم په څرګند ډول سره پېښې لیدلی شو.

| شمېره | د نښو ځای | د نښو کچه | زیړ | سپین | پوښ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حبیب حسام د چرګانو فارم | ۱۰ | — | — | — |
| ۲ | کلیوالي چرګو هګۍ | ۱۰ | — | — | — |
| ۳ | د قزاقستان څخه راوړل شوې هګۍ | ۱۰ | — | — | — |

**پابله اخیستنه:**

دې څېړنه کې ټولې ۳۰ نښې تر څېړنې لاندې نیول شوې وې چې ۱۰ د حبیب حسام چرګانو فارم ،۱۰ د کلیوالي چرګو هګیو او همدارنګه ۱۰ نښې د قزاقستان څخه رالېږدول شوې هګیو څخه وې، چې له هرې نښې درې کلچره (زیړ، سپین او پوښ ) ترسره شول، چې په دې ۳۰ نښو او ۹۰ کلچرو کې کومه نښه د سالمونیلا مثبت تجرید نشوه، خو نورې باکتریاوې لکه شجیلا په لوړې کچې تجرید شوې، بیا هم دې څېړنه کې دا مالومه شوه، چې هګیو کې د سالمونیلا باکتریا څخه سربېره نور مایکرو اورګانیزمونه هم شته او د سالمونیلا پېښې په کې شتون نه درلود، چې پخوانیو څېړنو کې هم روښانه شوې وه، چې هګیو کې د سالمونیلا پېښې کمې پېښې شوې دي او نورو مایکرو ارګانیزمونه په کې زیات لیدل شوي

**وړاندیزونه:**

۱- هګۍ باید په پوره ډول سره پخې شي. ۲- هګۍ باېد پاکې پرېمینځل شي. ۳- د هګیو تولید کوونکو فارمونو روغتیایي اړخ باید وخت په وخت تر څېړنې لاندې ونیول شي. ۴- له بهره رالېږدول شوې هګۍ باید له روغتیایي کتنې وروسته وکارول شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



مصاحبه با خانم لیلا علیزاده، رئیسه شرکت بانوان بلخ شمال

# جستجوی خودتوانمندسازی در جوانه های نباتات

مصاحبه ای از: «گل امین فهیم» و «زهرا حیدری»

شرکت تولیدی مواد خوراکی بانوان بلخ شمال در شهرک سخی، شهر مزار شریف موقعیت داشته و توسط خانمی توانا و فعال به نام لیلا علیزاده اداره میشود. این شرکت دارای فارم مرغداری بوده که ظرفیت پرورش ۳۰۰۰ جوجه مرغ را در جریان ۴۵ روز دارا می باشد. بر علاوه، این شرکت دارای سبزخانه هایی می باشد که انواع مختلف سبزیجات مانند بادرنگ، کاهو و بادنجان رومی را در آن پرورش میدهند و ظرفیت تولید ۴۲/۳ تن سبزیجات (بادرنگ، بادنجان رومی و کاهو) را در یک سال دارد . خانم لیلا علیزاده با تلاش و زحمت فراوان توانسته این شرکت را وسعت داده و به خوبی مدیریت نماید.

**پرمختگ: لطف نموده برای خوانندگان مجله پرمختگ معلوماتی مختصر در مورد خود و شرکت بانوان بلخ ارائه نمایید.**

خانم علیزاده: اسم من لیلا علیزاده، باشنده شهرک کمپ سخی شهر مزار شریف میباشم. از مدت چند سال بدین سو، در بخش های مختلف بخصوص کشت در سبزخانه مصروف کار می‌باشم که از این طریق هم به جامعه خدمت می‌نمایم و هم عواید خوبی بدست می‌آورم. در اوایل یک باغچه خانگی داشتم که در آن سبزیجات مختلف را کشت میکردم که عواید بسیار کمی داشت. بعداً، به کمک پروژه ملی باغداری و مالداری وزارت زراعت یک سبزخانه به مساحت ۱۰ متر مربع احداث و به کشت محصولات سبزخانه‌ای از قبیل بادرنگ و بادنجان رومی شروع کردم. بعد از دریافت تجربه کافی از سبزخانه، اکنون صاحب چندین سبزخانه هستم که بزرگترین آن ۳۶۰ متر مربع و کوچکترین آن ۲۴ متر مربع می باشد که سالانه حاصلات خوبی بدست می‌آورم. طور مثال، فروشات ما از بابت عرضه بادرنگ به بازار روزانه بطور اوسط ۳۵ الی ۴۰ خریطه می‌باشد و قیمت هر خریطه ۱۲۰ افغانی در بازار سبزیجات است.

همچنان، شوهرم تجربه ۱۵ ساله فارم مرغداری از کشور ایران دارد و در قسمت پرورش جوجه، واکسین و انواع دانه مرغی از تجربه کافی برخوردار می باشد. در ابتدا، یک فارم مرغداری کوچک با گنجایش ۵۰۰ جوجه داشتم. اما فعلاً به کمک دفتر صندوق انکشاف زراعت فارم مرغداری بزرگی را با گنجایش ۳۰۰۰ جوجه ایجاد نموده ام.

**پرمختگ: در شروع کار با کدام مشکلات مواجه شدید و چگونه با آنها مقابله کردید؟**

خانم علیزاده: در اوایل با مشکلات زیادی مواجه بودیم؛ منابع مالی خیلی کم بود و پول کافی برای سرمایه گذاری جهت توسعه نداشتیم، ماشین آلات زراعتی کافی در دسترس نبود و بشکل فنی نیز آموزش ندیده بودیم. برعلاوه، برای خانم ها زمینه قرضه و رشد کار مساعد نبود و هیچ ارگانی از خانم ها به شکل درست حمایت و پشتیبانی نمی‌کرد، از تولیدات شان خریداری مناسب نمی شد و هیچ تشویق کننده ای نداشتند. اما از زمانیکه صندوق انکشاف زراعت با ارایه خدمات قرضه های زراعتی و تخنیکی با ما همکاری نمودند، کاروبار ما رشد نموده و تولیدات سبزخانه و مرغداری ما رونق یافته است.



**پرمختگ: از دستاورد های خود در این بخش به ما معلومات دهید.**

خانم علیزاده: به کمک دفتر محترم صندوق انکشاف زراعت مشکلات مالی ما رفع گردیده است. توانستیم فارم بزرگ تولید مرغ گوشتی را احداث نموده و لوازم و ماشین آلات لازمه را خریداری نماییم. یک تعداد موسسات زمینه آموزش های فنی و تخنیکی را در بخش تولیدات سبزخانه و مرغداری برای ما فراهم نمودند. فعلا، بازار فروش محصولات و تولیدات ما رونق یافته است.



**پرمختگ: شما فعلاً کدام نوع مواد غذایی را تولید می نمایید و تقاضای بازار چه می باشد؟**

خانم علیزاده: مواد غذایی که شرکت ما بر حسب تقاضای بازار تولید می نماید عبارتند از بادرنگ، بادنجان رومی،کلم، گشنیز، و مرغ گوشتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پرمختگ: اکنون با کدام مشکلات روبرو هستید که مانع پیشرفت بیشتر کارهای تان میگردد؟**

**خانم علیزاده:** مشکلات ما اکثراً تخنیکی بوده و میتوان به موارد ذیل اشاره کرد:

- نبود تخم های اصلاح شدهٔ با کیفیت
- بلند بودن قیمت تخم های اصلاح شدهٔ سبزیجات از قبیل بادرنگ، بادنجان رومی و غیره
- بلند بودن قیمت کودهای تقویتی کیمیاوی (منجمله کود آهن و کود هیومیک اسید که برای خاک و یا آب های نیمه شور بکار برده میشوند) و دیگر کودهای تقویتی
- نبود ادویه با کیفیت و معیاری جهت رفع امراض جوجه مرغ
- نبود یک مرجع تایید کننده کیفیت ادویه ها

> **صندوق انکشاف زراعت ما را در راستای بزرگ ترین هدف مان که ساخت فارم مرغداری بود کمک و مشکلات مالی ما را تا ۸۰٪ حل نموده است.**

**پرمختگ: شما در اوایل تنها سبزخانه داشتید. بعداً شروع به کار مرغداری نمودید. چه باعث شد که شما به کار مرغداری روی آورید؟**

**خانم علیزاده:** کار سبزخانه را در سال ۲۰۱۷ آغاز کردم ولی به دلیل بودجه کم با مشکلات زیادی روبرو شدم. با آنکه در بخش کشت سبزیجات آموزش دیده بودم و تجربه داشتم، اما در کار هایم موفق نمی شدم. به هر ارگانی مراجعه کردم تا از لحاظ مالی با ما همکاری کند اما به نتیجه موثری نمی رسیدم تا اینکه از پروسه قرضه دهی دفتر صندوق انکشاف زراعت آگاه شدم. با حمایت دفتر صندوق انکشاف زراعت نه تنها توانستم کار سبزخانه را پیش ببرم، بلکه توانستم یک فارم مرغداری نیز بسازم. فعلاً کودی که از فارم مرغداری به دست میاید در سبزخانه خود استفاده می کنم تا مصرف کم و عاید زیاد باشد.

**پرمختگ: فواید سبزخانه چیست و برای توسعه تجارت شما و کشور چه قدر مهم و مفید است؟**

**خانم علیزاده:** با داشتن تجارت سبزخانه و مرغداری نه تنها فواید شخصی به دست می‌آوریم، بلکه به کشور نیز خدمت می‌نماییم. از طریق تجارت خود، در تولیدات کشور سهم بزرگی را ایفا می نمایم و برای مردم بخصوص طبقه اناث زمینه کار را فراهم می‌نمایم. بر علاوه، نه تنها سبزیجات و مرغ های گوشتی با کیفیت را با قیمت مناسب به فروش می رسانم، بلکه عواید خوبی را برای خود و خانواده ام تامین می‌نمایم.

**پرمختگ: آیا در شرکت شما تنها خانم ها مصروف کار هستند یا مردان نیز کار می کنند؟**

**خانم علیزاده:** در این شرکت هم زنان و هم مردان مشغول کار هستند. تعداد مرد ها ۴ نفر و زن ها ۵ نفر می باشد.

**پرمختگ: در حال حاضر با چه نوع مشکلات روبرو هستید که باید در آینده نزدیک حل گردند؟**

**خانم علیزاده:** مشکلاتی که باید در آینده نزدیک مورد توجه قرار گیرند برق، آب و کمبود ماشین آلات است. ما برق و آب کافی برای کشت در سبزخانه نداریم؛ بناً از یخچال های فریزر برای نگهداری گوشت مرغ استفاده کرده نمی‌توانیم. امیدوارم که این مشکلات به زودی حل گردند تا محصولات و تولیدات زیادتری داشته باشیم.

**پرمختگ: آیا تا به حال در این بخش کسی شما را همکاری نموده یا خیر؟**

**خانم علیزاده:** دربخش دریافت و کشت سبزخانه دفتر محترم NHLP ما را کمک نموده و همچنان دفتر محترم GIZ نیز در بخش مراقبت از سبزخانه و استفاده بهتر و تنوع در کشت ما را یاری رسانیده است. همچنان، صندوق انکشاف زراعت نیز در قسمت توسعه کاروبار کمک های مالی و تخنیکی را برای مان فراهم نمود.

**پرمختگ: برای پیشرفت کارهای تان چه پلان هایی روی دست دارید و آیا تصمیم دارید که در سایر ولایات فعالیت داشته باشید؟**

**خانم علیزاده:** برای پیشرفت کارها پلان داریم تا در عرصه سبزخانه تخصص بیشتر کسب نماییم و خانم های بیشتری را در این زمینه تشویق نماییم. هرقدر که خانم ها بیشتر جذب کار شوند و تخصص کسب کنند، به همان اندازه گام های مفیدتری برای رشد جامعه بر خواهیم داشت. همچنان، تصمیم داریم تا برای کارمندان فارم فرصت آموزش را مهیا سازیم تا بتوانند برای بهبود پرورش مرغ، تولیدات و فروشات آن از معلومات کافی برخوردار باشند. فعلاً تنها در ولایت بلخ ، شهر مزار شریف فعالیت داریم. اگر خدا خواسته باشد کاروبار خویش را به سایر ولایات هم گسترش می دهیم.

**پرمختگ: برای صندوق انکشاف زراعت چه گفتنی دارید؟**

**خانم علیزاده:** از کار با دفتر صندوق انکشاف زراعت کاملاً راضی هستیم، زیرا ما را به بزرگ ترین هدف مان که ساخت فارم مرغداری بود کمک کرده و مشکلات مالی ما را الی ۸۰ فیصد حل نموده است. صندوق انکشاف زراعت نسبت به سایر موسسات مالی تکتانه بسیار کم اخذ می‌نماید و ما می‌توانیم مطابق کاروبار خویش پول قرضه را باز پرداخت نماییم.



(c) ketabton.com: The Digital Library





## دکبانوپهنډونوته
# چونه ورکول

ليکوال: پوهندوی ډاکټر خوشدل معروف

د کبانو حوضونه منظم چونه کول د یو عادي فارم د ساتنې لپاره د مهمو فعالیتونو څخه شمېرل کېږي او د کبانو د محصولاتو د لا ډېروالي لامل ګرځي، کلسیم او مالګه د هډوکو د اسکلیټ په جوړښت کې مهم رول لوبوي، د انساجو نورمال پرمختګ کې برخه اخلي، همدارنګه د عصبي او عضلاتي سیستم فعالیت تنظیموي.

هر کال د حوضونو د پوره تشونې وخت کې د اورګانېزمونو سره یوځای ډېر کلسیم د حوضونو څخه ویستل کېږي چې باید دا کمښت بیا له سره پوره شي، کارول شوي چونه د حوضونو تېزابي سیمه خنثی کوي، کاربن ډايي اکسائيډ ($CO_2$) ته اړیکه ورکوي یا یې کاربونېټونه جوړوي، څمکه د نایتروجن له پلوه غني کوي، د اوبو له خوسا کېدو مخنیوی کوي او ګازي رژیم یې ښه کوي، د چونې کارونې څخه وړاندې غوره ګټل کېږي، ترڅو د حوضونو د ځمکې کچه د کلسیم د جوړښت له مخې وټېړل شي.

غوره ده چې د چونې کارول د حوضونو له تشونې وروسته کله چې ځمکه لنده بله (مرطوبه) وي د پسرلي یا منې موسم کې د حوضونو د ډکولو ياني له ۱۴ تر ۲۰ ورځو مخکې ترسره شي. د چونې پوډر په برابر ډول د حوض د کچې د پاسه شيندل کېږي، پاتې پوډر اوبو کې حلوي او په برابره توګه د ځمکې د پاسه يې د پمپ له لارې شيندي. د سیستیماتیکې چونې کارونې په صورت کې هر کال له ۱۰۰ تر ۲۰۰ کیلوګرامه چونه په یو هکتار ځای کې کارول کېږي، د حوض په ځمکنۍ کچه کې د ډېرو ختو د راغونډېدو او د تالابونو د ځمکې د ډېر تریووالي په وخت کې ۴۰۰۰ کیلوګرامه ژوندۍ یا اوبه نارسېدلې چونه او د برانش ناروغۍ له منځه وړلو لپاره ۲۰۰ کیلوګرامه چونه په یو هکتار ځمکه کې کارول کېږي.

د ګرانتوخا په ناروغۍ اخته کارپ د درملنې لپاره ۲۵۰۰ کیلوګرامه چونه په یو هکتار او د کلسیم د کموالي په وخت کې له ۱۰۰۰ تر ۱۵۰۰ کیلوګرامه چونه په یو هکتار او د نامعلومو څېرونکو کبانو د لمنځه وړلو لپاره له ۱۵۰۰ تر ۲۵۰۰ کیلوګرامه چونه په یو هکتار مساحت ځمکه کې کارول کېږي. کار پوهانو د فارم څخه د ښه حاصل د لاسته راوړلو لپاره لاندې ارزښتناک اصول وړاندې کړي دي:

### I- حوض یا تالاب کې د نامعلومه آبي ژوندي موجوداتو له منځه وړل:

تالاب یا حوض کې د ماهیانو د بچیانو له اچولو وړاندې باید اضافي کبان د بهرنبو غوښه خورونکو او ځنګلي کبانو د حملو او خوراکي توکو د نشتوالي څخه او د کبانو د متضرره کېدو څخه د مخنیوي په موخه لاندې دوه عمومي لارې پکار واچول شي:

۱. د تالاب څخه د اوبو مکمل ایستل او د هغې د لاندې ځمکې وچول.

۲. د کبانو د بې هوښه کولو لپاره د کیمیاوي مرکباتو کارول.

**د اوبو ویستل او د ځمکې د کچې وچول:**

د اوبو ویستلو لپاره پمپونه کارول کېږي، چې دا یوه اسانه او موثره لاره ده، اصلاً اوبه کال کې یوځل ویستل پکار دي او د دې کار لپاره د کال تول موسمونه ګټور او ښه ګڼل کېږي. د غټو او ورو سوریو وچول هم پکار دي.

د معمول سره سم د کبانو تولید، مرحله په مرحله لاسته راځي، کله چې د اخري ځل لپاره تولید لاسته راوړل شي، بیا نو اوبه یې بهر اوځي، د دې لپاره د برېښنا پمپ څخه کار اخیستل کېږي د پمپ څخه پرته د ثقل د قوې له لارې اوبه په اسانۍ سره بهر اوځي، د دې څخه پرته د کېنوس پایپونه (یو ډول پایپونه دي چې د کلک ټاټ یا ټکې څخه جوړشوي وي) هم کارول کېدای شي.

### II- د تالاب د بنسټیزو تولیداتو زیاتول :

۱. تالاب کې هر کال یوځلې د کب روزنې په پیل کې ۱۰۰ کیلوګرامه چونه په یو ایکړ ځمکه کې اچول کېږي.

۲. که چېرې د تالاب حاصل خیزي د کبانو لپاره



کافي وي که چونه وانه چول شي باک نه لري.

۳. که چېرې د تالاب ځمکه تېزابي ځانګړتیا ولري، نو بیا د چونې علاوه کول اړین دي.

۴. ځېنې کیمیاوي او طبیعي سرې د تالاب د زرغونه کېدو او ښه کېدو لپاره کارول کېږي، د دې لپاره لاندې درې سرې ډېرې پېژندل شوي دي او بزګران یې بازار کې ترلاسه کولی شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


الف : ترپیل سپر فاسفیټ چې په کې ٤٦٪ فاسفټ شتون لري.
ب : یوریا چې په کې ٤٥٪ نایتروجن شتون لري.
ج : ډاي امونیم سلفیټ

**ډېراني سرې :**

۱.د حیواناتو سره : که دا سرې پخپل وخت، اصلي حالت او کافي اندازې سره واچول شي ډېره ښه پایله ورکوي.
۲.ورسته شوې سره: چې ټوله کې د انبار یا ډېران په ډول راټول شوي وي چې دې کې ډېراني سره، شنه سره، پاڼي، دکورد خځلې او خشاک شاملېږي.
د سرو د کاروني لپاره لارښووني :
۱.د کبانو فارم لپاره ټولې سرې ګټورې دي، خو کله کله په ځانګړو وختونو کې یو ډول سرو ته ترجیح ورکول کېږي.
۲.که چېرې د کبانو روزنځي (فارم لرونکې) سره د حیواناتو سره وي، دې وخت کې پرې ځینې لګښتونه نه راځي ..
۳.که ډېراني سرې د کیمیاوې سرې سره ګډې شي او وکارول شي خوراکي ارزښت یې زیاتېږي.
۴.د الوتونکو پیخال (فضله) هم د کبانو د فارم لپاره سترې سرې ګڼل کېږي.
د سرې برخې:
بوټیز (نباتي): د اوبو بوټي۲/۳ برخې غبر بوټي برخې: ډېراني سره (ډېره برخه)، چونه، یوریا او د شولو پک ۱/۳ برخې

## دکمپوسټ جوړولو لارې:

د سرې په کنده کې د نیم فټ په پنډوالي سره د بوسو برخه یا نور بوټیز پاتې شوني جوړوي او د دې دپاسه په پوره اندازې سره یوریا اچول کېږي، تر دې پورې چې دغه کچه تخته کېږي وروسته دوه انچه د ډېراني سرو برخه جوړېږي دا کار درې ځلې تکرارېږي په پرله پسې د پورتنیو برخو څخه څلور څلور برخې جوړېږي، دغه سره د کبانو د کارولو څخه باید یو میاشت دمخه تیاره شي.

## تالاب کې د سرو اچول:

د کبانو بچیانو د اچولو څخه یوه اونۍ مخکې یونیم ټن سره د تالاب په یو یا دوه کونجونو کې اچول کېږي، د دې څخه پرته ترپیل سپرفاسفیټ ۳۰ کیلوګرامه په یو ایکر ځمکه کې د یادې سرې سره یو ځای تالاب کې اچول کېږي، که چېرې مخکې له دې



سرې د جوړولو وخت کې یوریا زیاته شوې وي، خو بیا هم ۱۵ کیلوګرامه یوریا یو ایکر ځمکه کې اچول ډېره ښه پایله ورکوي، له دې وروسته کله چې تالاب کې د خوراکي توکو ارتیا لیدل کېږي، نو د پورتنیو برخو څخه نیمايي شمېر اچول کېږي، ځکه چې د کبانو د غټېدو سره د خوراکي توکو ارتیا هم زیاتېږي،کچېرې پورتنۍ سرې میاشت کې یو ځل زیاته شي، دې وخت کې د خوراکي توکو کمښت نه لیدل کېږي. د خوراکي توکو کمښت داسې مالومولی شو، چې لاس اوبو کې د یو فټ په اندازه ډوبیږي، کچېرې لاس مو اوبو کې مالوم شي، نو مالومېږي چې نورو سرو اچولو ته زیاته ارتیا ده، کچېرې لاس مو اوبو کې مالوم نشي، د نورې سرې ورزیاتولو ته ارتیا نشته او په پوره اندازې سره خواړه شتون لري.



## دخوړو اندول:

۱.کمپوسټ او کیمیاوې سرې سره ګډوي او اچول کېږي.
۲.د شړشمو کنجاړه او د شولو پک (په برابره توګه) او یا هم د پنبې د دانو کنجاړه او د غنمو سبوس وکارول شي.
۳.د شړشمو کنجاړه او د شولو پک شمېر د روهو، مریګل او کامن کارپ لپاره د هغوې د وزن د ۳٪ په مقدار ورځ کې حسابېږي.

۴.۵۰ کیلوګرامه چونه د تالاب بیخ او غاړه کې شیندل کېږي، بیا ډېراني سره ۵۰۰ کیلوګرامه یو جریب ځمکه کې اچول کېږي او دوه نیم فته اوبه پکې ساتل کېږي، دا کار د کبانو د بچیانو د اچولونه لږ تر لږه یوه اونۍ وړاندې باید ترسره شي، چې د تالاب د اوبو رنګ شین شي او د کبانو د بچیو خوراک لپاره تیار وي.

## د کبانو لپاره خواړه:

۱.طبعي خواړه لکه کمپوسټ، ډېراني سره او داسې نور. ۲.کیمیاوې سرې
د پورتنۍ سرې کاروني لپاره لاندې لارښووني شوې دي: ۱.یاده سره د درې فوټو په اندازه د تالاب په لاندینۍ کچه کې اچول کېږي. ۲.سره د تالاب په یو ځای کې نه اچول کېږي، بلکې په برابره توګه سره د تالاب ټولو برخو کې اچول کېږي. ۳.په یو ایکر ساحه کې ۴۰۰۰ کیلو ګرامه ډېراني سرو ته ارتیا ده، چې وار په وار اچول کېږي. ۴.د الوتونکو فضله (پنجال) او کمپوسټ د کبانو لپاره ډېر خوراکي ارزښت لري.
۵.کمپوسټ باید مبده شي، خو باید په ډېرو ورو ذرو بدل نشي، چې بیا ډېر شمېر یې له منځه ځي، د ۱.۵ انچ کبانو لپاره مبده شوې سره چې د شکو د دانې په اندازه غټوالی ولري، اچول کېږي.
۶.د کبانو د غټوالی د زیاتوالي سره د سرو د دانو غټوالی هم غټېږي.

## کبانو ته د خوړو ورکولو لارې چارې:

۱.کنجاړه اوچاڼ شوې سبوس ته په لږ مقدار لنده بل ورکول کېږي اوبیا ګولۍ ترې جوړېږي.
۲.ګولۍ پرېښودل کېږي، چې لنده بل یې لږ کم شي او لږې وچې شي.
۳.دا ګولۍ په ځانګړو ځایونو کې اچول کېږي، که د تالاب په دوه ځایونو کې واچول شي، غوره ګڼل کېږي.
۴.خواړه د سهار لخوا اچول پکار دي، ځکه چې د سهار له مخې اوبو کې اکسیجن ډېر وي .
۵.مصنوعي خوړو کې د غنمو سبوس، د شولو پک، مستر دایل کیک، د چغندرو پاڼې، خرابې مېوې، سبزیجات او غلاجاتو کې غنم او جوار ورکول کېږي، د جوارو او غنمو د ورکولو لار داسې ده، چې له وړاندې غنم په لوېي لوخې کې اوبو کې اچول کېږي او ورسره لږه اندازه خواړه اچول کېږي، چې کله دا غنم او جوار ښنه شي، چې د بوټي وده ورته واېي، بیا کبانو ته ورکول کېږي، د یادونې وړ ده چې باید د وښو سره تازه اوبه هم پرېښودل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وقایه، سلامتی و لذت همه با

# میوه درمانی

میوه درمانی یکی از روش های طب سنتی است که توسط ابن سینا (ابو علی سینا بلخی) طبیب و ریاضی دان نامدار کشورمان استفاده می شد. میوه ها منابع بسیار غنی از ویتامین های مختلف هستند که هر کدام به نحوی باعث ایجاد تغییرات مثبت در بدن می شوند. کمک به پیشگیری از سرطان، تقویه سیستم ایمنی بدن، شادابی جلد، کاهش فشار خون، کاهش کلسترول خون، کمک به کاهش وزن و پیشگیری از بیماری های روده و معده از جمله خواص مفید میوه ها هستند. علاوه بر خصوصیات ذکر شده، هر میوه خواص منحصر به فرد خود را دارا می باشد. به همین سبب از میوه های مختلف برای درمان و یا پیشگیری از بیماری های مختلف استفاده می شود. در این مقاله به بعضی از میوه های عام و استفاده آن ها در میوه درمانی اشاره شده است.


گردآوری و تدوین: نرگس غزنوی
دستیار اداری صندوق انکشاف زراعت

**۱. املوک:** املوک از جمله میوه های مفید و مقوی است. این میوه‌ی شیرین دارای طبع گرم و کالوری بسیار کم است که به صورت تازه و خشک شده استفاده می شود.

• بهبود سرفه:
مصرف میوه املوک باعث نرم شدن سینه و کاهش سرفه می شود. همچنان جوشانده برگ‌های موجود در قسمت بالای املوک سرفه های شدید را درمان می کند.
• درمان عیکک:
مصرف میوه املوک باعث قطع شدن عیکک میگردد.
• کنترل فشار خون:
املوک به دلیل پتاسیم موجود در آن برای کنترل فشار خون و جلوگیری از بیماری های قلبی استفاده می شود.



**۲. انار:** انار به دو نوع شیرین و ترش موجود می‌باشد. انار یکی از محبوب ترین میوه های فصول سرد سال است. در زمان های قدیم انار را به شکل رُب انار و یا انار خشک شده در دیگر فصول سال استفاده می کردند.

• تقویت قلب و جگر:
انار خون ساز است و باعث تقویت قلب و جگر می شود.
• شادابی جلد:
مصرف انار باعث خوش رنگی و شادابی جلد می شود.
• درمان سرفه:
برای درمان سرفه های خشک از انار شیرین استفاده نمایید . با حرارت دادن یک کاسه انار شیرین به همراه روغن بادام شیرین، آب غلیظ از انار به دست می آید که برای بهبود سرفه های خشک مفید است.
• رفع بوی بد دهان:
استفاده از آب انار باعث از بین رفتن بوی بد دهان می شود .
• اشتها آور:
مصرف انار باعث افزایش اشتها می شود.
• استحکام بیره ها:
جوشانده پوست انار باعث استحکام بیره ها می شود.



• تقویت معده:
استفاده انار (به خصوص پرده های سفید موجود در داخل آن) معده را تقویت می کند.



• درمان گلو درد:
غرغره کردن آب انار به درمان گلو درد کمک می‌کند.

**۳. مالته:** مالته نیز یکی از پر طرفدارترین میوه‌ها در کشور می باشد. این میوه مملو از ویتامین C بوده که دارای طبع سرد می باشد.

• درمان سرطان:
مالته منبع ویتامین C است که رادیکال های آزاد بدن را خنثی می سازد. رادیکال های آزاد باعث به وجود آمدن بیماری هایی مثل سرطان و بیماری های قلبی در بدن می شوند.
• کاهش فشار خون بالا:
flavonoid hesperidin موجود در مالته فشار خون بالا را کاهش و magnesium موجود در آن به حفظ سطح فشار خون کمک می کند.
• درمان سرفه:
جوشانده پوست خشک شده مالته در درمان و کم کردن سرفه مؤثر است.
• کاهش بوی بد دهان:
مصرف جوشانده چای و مالته به مدت یک ماه و به صورت روزانه سبب کاهش بوی بد دهان می شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پنبې مهمې ناروغۍ، آفتونه او مخنیوی

لیکوال: غافرالله کانوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



صنعتي بوټي د هبواد د کرنې ستره برخه جوړوي او د جغرافيوي وضعې د ښه والي پر بنسټ د هبواد ښلابلو برخو کې کرل کېږي، نو دا چې پنبه د صنعتي بوټو له ډلې ده او زموږ ګران هبواد کې په پراخه پیمانه سره کرل کېږي او ښه توافق لري، اړينه ده چې د ياد بوټي ستري ناروغۍ، آفتونه او د هغې د مخنيوي لارې چارې وپېژنو، ترڅو يې خپل وخت سره د ناروغيو او آفتونو مخنيوی وکړو او لوړ حاصل ترلاسه کړو.

## ۱- د پنبې فيوزارمي مړاوي کېدنه:



**د ناروغۍ نښې نښانې:** د ناروغۍ نښې لومړی هغو پاڼو کې وي چې د ځمکې څخه نوي راشني شوي وي، پدې ناروغۍ اخته بوټي خپله وده کمزوري او بلاخره په ټپه دروي چې پاڼله کې پاڼې او د پاڼې څنډې او رګونه زيړيږي او ورو ورو بوټي له منځه ځي، که مونږ د بوټي د ساقې څخه يو مقطعه واخلو نو منځ يې نصواري رنګ نيسي. دا ناروغي زياتره په شګلنو ځمکو کې رامنځته کېږي.

**د ناروغۍ لامل:** دا د پنبې فنګسي ناروغي ده چې لامل يې د Fusarium oxysporum f. Sp. Vasinfectum په نامه فنګس دی، دا ناروغي په هغه ګلونو کې ډېره وي، چې لنده بل يې ډېر وي، دا فنګس له خاورې د نيلو له لارې بوټي ته ننوځي.

**د ناروغۍ مخنيوی:** ۱- ټولې اګرانوميکي عملیې په سمه توګه سرته رسول. ۲- د مقاومو ډولونو کرل. ۳- کرنيز وار په پام کې نيول. ۴- د هغه سرو کارول چې زيات پوتاشيم ولري. د کيمياوي توکو ويټاواکس او يا تېرامو سره د تخم معامله کول دوه ګرامه د يو کيلو تخم سره.

## ۲- د پنبې ورتيسيلمي مړاوي کېدنه:



**د ناروغۍ نښې نښانې:** د بوټي لاندې پاڼو کې د زيړو غټېدونکو داغونو مينځته راتګ دی، د کلکې اخته کېدنې په صورت کې پاڼه په بشپړه توګه زيړه او وچيږي او د پاڼې شنه برخه يواځې د رګونو په امتداد د يوې نرۍ ليکې په څېر مالومېږي د بوټي ريښې او ساقې خپل اصلي رنګ د لاسه ورکوي.

**د ناروغۍ لامل:** د دې ناروغۍ لامل هم يو ډول فنګس دی چې د (Verticillium dahlia) په نامه يادېږي دا فنګس هم خاوره کې اوسېږي او د خاورې له لارې بوټي ته ننوځي.

**د ناروغۍ مخنيوی:** ۱- د مقاومو ډولونو کرل. ۲- کرنيز وار ته پاملرنه او په کرنيز تناوب کې د شولو کرل څکه فنګس هوازي دی، نو په شولو کې اوبه ډنډېږي او بل کال کرونده له دې ناروغۍ ساتل کېږي. ۳- پاک ماشينونه کارول او د کيمياوي توکو ويټاواکس او يا تېرامو سره د تخم معامله کول دوه ګرامه د يو کيلو تخم سره.

## ۳- د پنبې د پاڼو سوځېدل:



دا ناروغي د لومړي ځل لپاره ۱۸۹۱ کال کې د امريکا متحده ايالاتو کې کشف شوه، چې اوس په پراخه پیمانه ټوله نړۍ کې چېرته چې پنبه کرل کېږي پيداکېږي.

**د ناروغۍ نښې نښانې:** لومړی قدم کې پاڼو باندې واړه زاويه لرونکي داغونه منځته راځي او وروسته په سوزنده داغونو بدلېږي. داغونه په بوزغلي او دا رنګه په پوخ او بوټي دواړو باندې حمله کوي.

**د ناروغۍ لامل:** لامل يې بکتريا ده چې د Xanthomonas citri pv. malwacearum په نوم يادېږي دا بکتريا اسانۍ سره ټپټه تودوخه زغمي او په منفي ۲۸ درجې د سانتي ګرېډ ژوند کولی شي، د تخم له لارې ځي او ژۍ د بوټو پاتو شونو کې تېروي.

**د ناروغۍ مخنيوی:** ۱- د مقاومو ډولونو کرل. ۲- کرنيز وار ته پاملرنه. ۳- د بوټو پاتې شونې راټولول او سوځول او تخمونه د کيمياوي درملو سره معامله کول.

## ۴- د پنبې پرې کوونکې چينجي:



د دې آفت علمي نوم (Agrotis segatum) دی، چې معمولا ورته (cut worm) يا پرې کوونکې چينجي وايي او پښتو کې ورته غل چينجي وايي دا څکه چې د شپې لخوا پر بوټي يرغل کوي او د ورځې لخوا خاوره کې وي. دا چينجي يوازې پنبې ته نه بلکې جوار، کچالو، چغندر، لېرو، بادرنګ او داسې نورو بوټو ته چې نوی يې په وده پيل کړې وي زيان رسوي. بوټي د نيلو، تنو او پاڼو له لارې پرې کوي، په خړ او سوربخن رنګونو باندې پيدا کېږي، د استراحت دوره د ۲۰-۱۸ سانتي د ځمکې لاندې تېروي او پسرلي کې د خاورې ۱۰ سانتي ژورۍ کچې ته ځان رسوي. پروانه يې د پيو پاڼه د ثور په منځ کې پيل او ۳۵-۳۰ ورځې دوام لري، پروانه يې په يو ځل د ۳۰-۱۰ هګۍ ږدي او هګۍ په لوېدلو پاڼو، خاورو او د خاورو په چاودونو کې ږدي، که اقليمي شرايط ورته مساعد شي پروانه يې د ژوند په اوږدو

کې ۲۰۰۰ هګۍ ږدي.

**د آفت مخنيوی:** ۱- له کروندو څخه د هرزه ګياوو له منځه وړل. ۲- د مخکنې فصل پاتې شونې له منځه وړل. ۳- د مازيګر له خوا د بوټو شا او خوا ته د نورو تنکيو وښو لکه شفتلو اچول، ترڅو چينجي په هغو بوخت شي. ۴- د ځمکې ژوره قلبه کول. ۵- د حشره وژونکو له لارې مخنيوی او هغه هم سايپرمترين ۳ سي سي په يو لبتر اوبو کې اړين دي، چې د نوموړي آفت په ضد د درمل شيندل د ماذيګر له خوا رامنځته کېږي، څکه چې نوموړی آفت د شپې لخوا په بوټو حمله کوي.

## ۵- د پنبې بوټي سپګې:



د دې آفت علمي نوم (Aphis gossypi) دی چې په دري ژبه کې ورته (شپشک نباتی) وايي، د ننګرهار، لغمان او کونړ ولايت بزګران يې د چريک په نامه پېژني او د هرات بزګران ورته سرشک وايي.

**د بوټو د سګبو زيان:** د بوټي سپګې د بوټو له پاڼو شيره خوري او د همدې شيرې څخه خپل خوراک ترلاسه کوي، نو پاڼې دې وخت کې خپله دنده په ښه توګه سرته نشي رسولی. نوموړی آفت يواځې پنبې ته نه بلکې نورو بوټو لکه سبو، ونو، بوټو او باغونوته زيان رسوي. بېلابېل رنګونه لري لکه تور ته ورته، شين، زيړبخن، سره ته ورته، نصواري او سپين رنګونه لري. څه وزرونه لري او څه يې نه لري، کله چې اقليمي شرايط ورته برابر شي، نو د يو کال موده کې پنبه کې ۲۰-۱۴ څلو پورې د نسل توليد کوي. تودوخې ټيټوالی او د باران سره يوځای څڅک بادونه د نوموړي آفت په کمولي کې ډېره مرسته کوي او د هوا لنده بل يې په زياتېدو کې مرسته کوي.

**د آفت مخنيوی:** ۱- په کروندو کې د هرزه ګياوو له منځه وړل. ۲- د زياتي نايتروجني سرې نه کارول. ۳- د Lady bird beetle يا فابينک حشرې له لارې له منځه وړل. ۴- په کيمياوي کنټرول کې يې اميدا کلوروپرايډ ۳ ګرامه په يو لبتر اوبو کې.

## ۶- د پنبې د غوزې چينجي:



د دې آفت علمي نوم Helicoverpa zea دی نوموړی آفت د پنبې څخه پرته نورو بوټو ته هم زيان رسوي لکه جوار، کونځلې، تمباکو، فاصلې، سوند او بنګوته ډېر زيات زيان رسوي. د دې چينجي زيان پنبه کې ډېر زيات د پنبې غوټبو ته مخامخ وي، کله چې غوټبو ته ځان ورسوي له پخېدو وړاندې په ځمکه لوېږي او که غوزې ته دننه ننوځي، نو بيا د غوزې دننه برخې څخه خپل خوراک ترلاسه کوي او نږدې ۴۰ سلنه د مالوچو د

اوږدوالي د کمبدو لامل ګرځي.

**د آفت مخنيوی:** ۱- لږ څه د وخته د پنبې کرل ۲- د داسې ډولونو کرل چې ډېرې غوزې ونيسي. ۳- د بوټو پاتې شونې له منځه وړل. ۴- د حشره وژونکو کارول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# افغاني کرنيز توکي او نړېوال بازار (مارکېټ) موندنه



لیکوال:

**ګل حبيب همت**

د کرنيزې پرمختيا صندوق ختيځې سيمې د پور ورکولو مسئول

افغانستان د اسیا په لویه وچه کې پروت یو کرنيز هېواد دی، چې د اقتصاد په پیاوړتیا کې يې زیاته پاملرنه پر کرنه کېږي چې د هېواد ۷۵ سلنه وګړي يې مستقم او يا غېر مستقيم ډول په کرنه بوخت دي او د همدې لارې د خپل ژوند چارې پرمخ وړي. کرنيز توکي د هېواد پرمختګ کې نېغ په نېغه مثبت اغيز لري او د هېواد پر عوایدو هم ورته مثبت تاثیرات رامنځته کولی شي.

هر بزګر ته بايد دا مالومه وي چې کرنيز توکو څخه يې څوک ګټه اخلي او څوک يې غوښتنه لري، څنګه، په کوم معيار يې غواړي او همدا راز ځايي سوداګر هم بايد پدې پوهه وي چې په کومه بيه او معيار او په کوم وخت کې د نړېوال بازار سوداګر او لګښت کوونکي د افغاني توکو غوښتونکي دي. همدارنګه د هغو هېوادونو سره چې زمونږ سره پدې اړه راکړه ورکړه لري سوداګريزې اړيکې ډېرې اړينې دي.
نړېوال مارکېټ کې پرمختګ هغه وخت ليدل کېږي او هغه صورت کې زياته ګټه کښت کوونکي او مصرف کوونکو ته رسېږي، چې دې سره تر ډېره ځايه بيا هم بزګر د کښت لپاره لېوالتيا پېدا کوي او هم هغه څوک چې له يادو محصولاتو څخه ګټه اخلي، غوښتنه يې زياتېږي او پاې کې يې سوداګر کوښښ کوي، ترڅو پر صادراتو او وارداتو کار وکړي، چې دې سره ياد سوداګر هم له دې څخه ګټه پورته کولي شي.

داسي حالاتو کې د حکومت دنده دا ده چې اسانتياوې برابر کړي. که چېرې کوم محصول بازار پېدا نکړي، حکومت يې بايد راونيسي او په مصرف يې ورسوي، نو داسې حالاتو کې د بزګر لپاره دوه مارکېټه پېدا شول، يو د سوداګر او بل هم خپله حکومت، نو مالومه خبره ده، چې لېوالتيا ډېرېږي او کرنيز توکي ورسره وده او پرمختګ کوي. که چېرې وکتل شي، نو نړېوال مارکېټ هم په لوړ معيار کرنيز محصلاتو ته پر ټاکلي وخت ارزښت ورکوي، ولې بدبختانه چې دلته بزګران د غربت سره مخ دي، هغه که په هر قيمت وي، دوي د ځايي بازارونو څخه ګټه پورته کوي او همدارنګه نړېوال مارکېټ ته د لار موندنې لپاره اړينه ده چې د بزګر، سوداګر او لګښت کوونکي تر منځ اړيکې او د اړتياو تشخيص ډېر اړين دی چې دلته زموږ هېواد کې دا دود ډېر کمرنګه دی، که دا دود رامنځته شي، کښت به وده وکړي، سوداګر به يې د خرڅلاو په خاطر غوښتونې وکړي او خوړونکي يا لګوونکي به يې زياتېږي. يو څه چې دلته مهم برېښي هغه د سړو خونو (سټورونو) او د ټرانسپورټي اسانتياوو نه شتون دی، چې بايد د دولت لخوا ورته کلکه پاملرنه وشي.

افغان کرنيز توکي چې هر هېواد ته لېږدول شوي دي د ښه کېفيت او کميت له پلوه يې ښه نوم خپل کړی دی. د ځينو غېردولتي بنسټونو پر مټ افغان کرنيز محصولات او يو شمېر مېوې چين، هندوستان، پاکستان او متحده عربي اماراتو ته لېږدول شوي دي، چې په يادو هېوادونو کې په لوړه بيه پلورل شوي دي. په ټوله کې د افغان کرنيزو محصولاتو لپاره څنګه چې لازمه ده بازار شتون نلري، چې ستر لامل يې هيواد کې د سړو خونو او پروسس مرکزونو نه شتون يادولی شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# چگونه از صندوق انکشاف زراعت قرضه بگیریم؟

## روند مرحله وار دریافت قرضه از صندوق

### 01 مرحله اول:

درخواست کننده با یکی از دفاتر صندوق انکشاف زراعت از طریق تیلیفون یا ملاقات ارتباط برقرار میکند.

### 02 مرحله دوم:

مسئولین صندوق معلومات مربوط به قرضه را ارائه نموده و از درخواست‌کننده معلومات اولیه را جمع آوری می‌نمایند. در صورت واجد شرایط بودن وی برای قرضه، فورم درخواست قرضه برایشان خانه پری می‌شود.

### 03 مرحله سوم:

تیم قرضه دهی و تخنیکی صندوق از محل تجارت درخواست کننده بازدید می‌نماید. در صورتیکه تجارت به تمویل مالی نیاز داشته باشد، مسئولین صندوق خواهان تهیه اسناد لازمه از نزد درخواست کننده می‌گردند.

### 04 مرحله چهارم:

قبل از تهیه تضمین خط، بخش حقوقی صندوق ارزش و چگونگی جایداد غیرمنقول را که درخواست کننده به صندوق تحت تضمین قرار میدهد، به صورت همه‌جانبه ارزیابی می‌نماید.

### 05 مرحله پنجم:

مسئولین بخش قرضه دهی تمام معلومات و اسناد مشتری را درج سیستم می‌نمایند.

### 06 مرحله ششم:

بعد از مرور درخواست و اسناد مشتری توسط مدیر ارشد، درخواست قرضه و اسناد مشتری به کمیته تخنیکی ارائه می‌گردد.

### 07 مرحله هفتم:

سپس جایداد مورد تضمین توسط یکی از کمپنی های ثالث قیمت گذاری می‌گردد.

### 08 مرحله هشتم:

بعداً کمیته اعتبارات دایر میگردد تا درخواست قرضه مشتری توسط هیئت عامل صندوق و اعضای کمیته تایید و منظور گردد.

### 09 مرحله نهم:

درصورتیکه مبلغ قرضه از ۱۳ میلیون افغانی بیشتر باشد، مسئولین صندوق آنرا به کمیته اعتبارات صندوق به رهبری وزارت محترم زراعت جهت منظوری نهایی پیشکش می‌نماید.

### 10 مرحله دهم:

بعدا ثبت وثیقه تضمین خط در محکمه مربوطه صورت می‌گیرد.

### 11 مرحله یازدهم:

در مرحله نهایی با مشتری قرار داد عقد میگردد و انتقال پول مطابق قرارداد و درخواست مشتری صورت می‌گیرد.

نوت: در صورتیکه قرضه از ۱۰ میلیون افغانی بیشتر باشد، ثبت وثیقه در محکمه بخاطر ساختن تضمین‌خط الزامی است. همچنان برای منظوری قرضه بیشتر از ۱۶ میلیون افغانی باید صورت مالی مشتری توسط یک کمپنی معتبر تفتیش و ارزیابی گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library









با رویانیدن بذر امید در دلهای همنوعان خود به معنی حقیقی انسانیت رسیده و موجودیت خویش را در اجتماع مثبت و موثر تلقی نمایید. **انجمن اجتماعی حاصل** که در سال ۲۰۱۲ ایجاد شده، یک انجمن ملی و فعال در قسمت عرضه خدمات اجتماعی به قشر بی بضاعت کشور می‌باشد. از تمامی هموطنان گرامی که میخواهند در این راستا کمک نمایند، خواهشمندیم تا مساعدت نقدی خویش را به حساب بانکی ذیل تحویل دهند.

**اسم انجمن** | **انجمن اجتماعی حاصل**

**شماره حساب** (۰۰۰۱۰۱۱۱۲۱۱۱۹۵۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library


# PERMAKHTAG

Agricultural, Scientific, Social and Literary Periodical Publication
Issue 2, 2nd Year, Summer 2021



Contact us! +93 731 7777 88

/adfafghanistan

www.adf-af.org
info@adf-af.org
Kabul, Afghanistan



## AGRICULTURAL DEVELOPMENT FUND

*your agribusiness partner*




**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**